د افغانستان ملي تحریک
AFGHAN NATIONAL MOVEMENT
2013 ۱۳۹۲




# د اریاني فلالوژۍ تاریخچه

## (الرغوني دوره)

Ketabton.com

دینار ګل امین سهاند

۱۳۹۴ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل پوهنتون

ژبـــو او ادبیاتو پوهنځی

پـــښتو څانګه

# د آریاني فلالوژۍ تاریخچه

## (لرغونې دوره)

(د ماسترۍ تېزس)

لیکوال:

**دینار ګل امین سهاند**

**۱۳۹۴ل کال**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: د آرياني فلالوژۍ تاريخچه

ليکـــوال: دينار گل امين سهاند

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحريك، فرهنگي څانگه

وېـبپـاڼـه: www.melitahrik.com

ډيزاينـگر: ضياء ساپی

پښتۍ ډيزاين: فياض حميد

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحريك د خپرونو لړ: (۷۱)


يادونه: د چاپ حقوق له ملي تحريک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسوليت ليکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

ارواښادې مور ته چې په ماشومتوب کې يې ګلون راته ويل، ښوونځي ته د تلو پروخت به يې زما جېبونه له وچو اولمدو مېوو راډکول او کله چې زلمی شوم د هرې اونۍ په لومړي سهار به يې کابل پوهنتون ته د راتلو پرمهال د کلي د چينې رښې او سړې اوبه د کور له ورستي ورە يا کړکۍ راپسې شيندلې.

الله دې وبښه ادې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه وکړه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانې ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تقريظ:**

د آرياني فلالوژۍ «ژبپوهنې» تاريخچه (لرغونې دوره) تر سرليک لاندې د ماستري تېزس مې وکوت.

ښاغلي ديناركل امين سهاند په دغې ليکنه کې لاندې سرليکونه را نغاړلي دي:

- د ځينو مفاهيمو توضيح، آرياني فلالوژۍ ارزښت او آريانا پوهنه د آرياني ژبو څانګې په اندو آرياني ډله کې د ژبو موقعيت آرياني ژبې او څانګې يې، د آرياني ژبو دورې، د تاريخ په اوږدو کې د آرياني ژبو ځانګړتياوې، لرغونې دوره، زړه فارسي، ساکي ژبه ميدي ژبه او داسې نور سرليکونو په راوړلو سره يې موضوع ښه څېړلې ده.

زه د لارښود استاد په توګه د نوموړي دغه تيزس د ماسترۍ د پايليک په توګه بشپړ ګڼم او دلوی څښتن تعالی څخه ورته د نورو برياوو هيله کوم.

پوهاند محمد صابر

خوېشکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پيل خبرې

څرنګه چې ښکاره ده څېړنه يا تحقيق يوه مسلکي کړنه ده ،چې بېلابېل ډولونه هم لري نو څېړونکي ته ښايي چې د موضوع سره سم دا ړوندو څېړنيزو کړنلارو څخه کار واخلي .تر څو د خپلې موضوع د څېړلو په بهير کې له لږو ستونزو سره مخ شي ،که څه هم تحقيق چې هر ډول وي ، په سيمه کې وي او يا کتابتوني پر مخ وړل يې او تر سره کول يې يواري او نا څاپي کار نه دی . بلکې وخت ،فکر او زغم ته اړتيا لري ،کېدا شي څېړنه د نړۍ په کارونو کې يو ستونزمنه چاره وي ؛ خو زيار او ملا تړلو ته اړتيالري . دا ځکه چې څېړنه په واقعيت کې ظاهر آله نشت يا لږ څرګند څيز څخه يو څيز را پنځول دي . په طبيعت او ژوند کې د ورکو او پټو پديدو موندل دي . نو ځکه دغه ستونزمنه چاره د نورو له مرستې پرته تر خپلې موخې نه شي رسيدا ی . په ټوليزه توګه څېړنې ځينې پړاونه لري چې لومړی يې د موضوع ټاکل دي د موضوع ټاکلو له پاره د مفکورې موندل يا هم فکر کول دي . د موضوع د ټاکنې له پاره د مفکورو په برخه کې بيلابيل لاملونه شتون لري چې په هغو کې يو هم د پورته يادونې پر بنسټ مسلکي اړتيا ده . زما د تېزس موضوع يا (سرليک) ټاکنې له پاره لومړۍ مفکوره: د( اريـاني فلالـوژۍ تاريچـه ) وه ،پـه پښـتو ژبه کـې د داسې يـوه اثـر شـتون چـې د( اريـاني فلالـوژۍ تاريخچـه )او داړونـدو ژبـو د فلالـوژيکي ويشـنې پـه برخـه کـې بېلابېلـې نظريـې او اندونـه پـه کـې ځيـړل شـوي وي ،نـه شـتون و . کلـه چـې مـا د دې موضوع په اړه له ښاغلي استاد پوهاند محمد صابر خوېشکی سره خبره شريکه کړه او خپله لېوالتيا مې ورته څرګنده کړه . استاد هم په ډېر ورين تندي او مهربانۍ سره پرې هو کړه وکړه . بيا مې د څيړنې له پاره دويم پړاو پيل کړ ،چې هغه د څيړنې طرحه ده:دا جوت ده چې د څيړنې سکالو د څيړنې له شاليد څخه څه نا څه الهام اخلي ،په همدې بنسټ د دغې موضوع او هغو سرليکونو په اړه چې زما د څيړنې په لړليک کې ورته اړتيا وه ښاغلي لاربنود استاد په بشپړه توګه معلومات درلودل او زه يې ترينه برخمن کړم چې په دې برخه کې يې زما څېړنه په پراخه پيمانه اسانه کړ . دې موقع ته په کتو سره مې د خپلې تېزس سرليک د څيړنې د پوهنيزو (علمي) اصولو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنسټ ، د ( اريانې فلالوژۍ تاريخچه) و ټاکه ، د کابل پوهنتون رياست ته مې تر دغه سرليک لاندې غوښتنليک وړاندې کړ ، د نوموړي پوهنتون علمي بورډ له خوا دا سرليک د يو څه محدود ولو او اصلاح په شرط سره تائيد او ومنل شو چې دا شرط ييا ما د لارښود استاد سره په سلا ،(د اريانې فلالوژۍ تاريخچه(لرغونې دوره). په ښه اصلاح کړا و په دې اړه مې خورا ډېر اثار چې لارښود استاد راته ښودلي و ، پيدا کړل په خورا غور او دقت سره ولوستل او خپل ياد ښتونه مې ترې واخيستل، چې په اخځليک پاڼه کې راغي. په دغو آثارو کې يې د (Iosif Mikhailovich Oranskii) اثر(مقدمه فقه اللغه ايراني) ترجمه کريم کشاورز او (مقدمه برزبان اوستايي) د څېړنپوه ډاکټر خليل الله ارمړ ليکنه .زما د موضوع له ځينې سرليکونو سره نږدې والى درلود. ښاغلي لارښود استاد څخه نړۍ مننه کوم چې د خپلو خورا ډېرو بوختاوو سره سره يې ، ما ته هر مهال او موقع کې په ډېره لېوالتيا او سړه سينه سلا مشورې راکولې مننه او د بريالي ، هو ساژوند هيله د الله څخه ورته غواړم . همدارازله استاد څېړنپوه ډاکټر خليل الله اورمړ څخه ډېره مننه کوم ،چې د ځينې کتابونو او اړوندو موادو په واک کې راکولو سره يې زما د څېړنې موضوع نوره هم غني کړه ،په همدې توګه له استاد محمد ذاکر ذکي او ژورناليست محمد ضيا والحق محمدي څخه دزړه له تله مننه ،د الله (ج) څخه ورته د ژوند په ټولو چارو کې د بريا غوښتنه کوم . چې په خپلو لورونو سره يې زما د څېړنې په بشپړتيا کې هراړخيزې او په ځانګړې توګه کمپيوټري چارو کې مرستې وته سپمولې .

په درنښت

دينارګل امين سهاند

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لنډيز:**

داتېزس دبنې لـه مخې پـه ټوليزه توګـه دري څپركوكې څېړل شوى، چې پـه لاندې ډول يې وړاندې كوم : كابل پوهنتون دماستري پوهنيز (علمي) بوره د تيزســونو د شــكلي جوړښــت د اصولوپربنســټ دغــه څيړنــه لــومړى: دلاربنود استادنظر، سرخبرې،همدالنډيز، لړليک،سريزه، دسكالوارزښت اوموخه،موضوع شاليد، وروستۍ اصلي موضوع چې پـه لومړى څپركي كې داړوندومفاهيموتوضيح ده: چې په پيل كې د آريا اصطلاح په مفهوم اومعنا ، ژبنى ريښه ...هراړخيزه څېړنه شوې. بيا د آريانا (پخواني افغانستان) پـه اصطلاح اونوم په مفهوم اونومونې ،په بېلا بېلو لرغونو آريـايي ژبو كې تلفظ اومعنـا اونوراړوند مسـايل څېړل شـوې. ورسـته لـه دې د آريـايي كليمـې پـه تعريف ،دچا لـه پاره يې كارونه همدارنګه دلرغونې فلالوژى او دژبپوهنې لـه مخې په بېلابېل ډول سپړنه او څېړنه شوې .دې پسې لرغونې آرني ستاينوم پـه اړه دپخوانى آريانا دنوم ،امتيازات اوارزښتونو منصفانه اومناسب نومونې پـه توګـه او پـه راوروسـته كې د (پارسيک اوبـاختري )ټبرونو اوژبو لـه پـاره دلرغونولاسوندونو پربنسـټ يـې نومونـه لـه هراړخـه مطالعـه او تـر اوسـني پراختيايي بهيره معلومات وړاندې شوي دي. لـه دې سرليک وروسته دژبې پېژندنې پـه اړه لنډ معلومات وركړل شوي .همدارازپـه وروستي عنوان كې فلالوژى پر پېژندنې ،موخې اودندې پـه تفصيلي بحث شوى. هېره دې نوي چې د دې څپركي دهرسرليک پـه پـاى كې يـوه لنډه نتيجـه اخسـتنه شوې ده ،چې د معلوماتو په لنډاو ژرپوهاوي كې ګټوره پرېوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دتېزس دويم ځپرکی د آرياني فلالوژۍ په سرليک پيلېږي .نو موړی عنوان په لاندې څنګزنو سرليکونو کې :دآرياني فلالوی له نظره دتاريخ ارزښت اوآريانا پېژندنه،دختيځپوهنې په څانګو کې دآريانا اوآرياني فلالوژۍ دريځ او اهميت په ډول ډول سپړنو او څرګندونو سره تشريح شوی .وروسته سرليک دژبپوهنې په هکله :ژبپوهنه په آريانا ،تاريخي بهيرېې په آريانا کې ،دتاريخ په اوږدو کې او دژبپوهنې څانګې او ډولونه يې، سرليکونو کې رانغاړل شوي دي. چې په دې برخه کې علمي او تحقيقي اصولو له مخې دژبو دوېشنې نظريې (ځپه ييزې،جنټيکي،شجريي )دځينې خپلوانو ژبو ترمنځ پرتلنه اودژبو ترمنځ تناسبات او اړيکوهراړخيز بحث شوی.په همدې ډول دنړۍ دژبو په کورنيو دفلالوژۍ له مخې پوهنيزې څېړنې ترسره شوي .چې په همدې سره بحث د آريک ياآرياني نيا(موريني)ژبې او څانګوته رسيږي ،دنوموړې ژبې په اړه نظريات،دييارغونې په سيستم او اصولويې څرګندونې اودګاتا ،ريګويدادلاسوندونوپربنسټ يې دآرياني، اندوآريايي، زړې پارسي اوپښتودځنې کليموپرتله او اړيکې يې ،څانګوپه اړه يې نظريات ،په ډلو ،زونونو وېشنه اوموقعيت يې ،آرياني ژبې ،څانګې ،وېشنه باندې يې په توليزه بڼه علمي،فلالوژيکي تاريخ اوپټلنو سره تربحث او څېړنې لاندې نيول شوي.

درېيم ځپرکی دآرياني څانګې لرغونې دوره رانغاړي: لومړی داوستاژبې پېژندنه ،دکشف او څېړنې لنډه تاريخچه يې،الفبايې ،ليک اوتاريخچه يې ،تدوين يې ،منځپانګ يې ،متاخره اوستا ګاتونه اويسنونه يې، کوچنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوستا په پښتو او لنډه تاریخچه په ګټه د فلالوژي تاریخچې له مخې څېړنه او لنډې څرګندونې زړه فارسي او پهلوي، مېخي ډبرلیکونه، الفباء د فلالوژیکي تاریخ پر بنسټ لنډه څېړنه پرې کړې . په دې ترڅ کې پر ساکي ژبه او ساکانو همدارازمیدي ژبه او مېدیانو څو مره چې اسناد و شتون درلود له هغو څخه په ګټې اخستنې سره پرې بحث او څېړنه شوې ده . د څېړنې په وروستیو کې د اصولو سره سم یوه ټولیزه پایله لیکل شوې، چې د موضوع خلص او نتیجه اخستنه انځوروي. له دې وروسته یوه لنډه کې پایلیزه لري چې د څېړنې وروستۍ لنډونه په کې په څو کرښو کې راوړل شوي ده. چې د څېړنې موضوع د مناقشې، ځینې وړاندیزونو او اخځلیکونو په وړاندې کولو سره پای ته رسېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ســـريزه

دژبو په هکله تاريخي او پرتليزې څېړنې که هغه دفلالوژۍ په برخه کې وي يـا هم پـه نوروبرخوکې، بـوه بنسـتيزهموخه يـې دمړوژبوپــه برخــه کــې دهغودتاريخ راژوندي کول اودژبوپـه کـورنۍ اونوروبرخوکې يې تـاريخي مقـام پـه نښـه کـول دي.خودژونـديو ژبوپـه برخـه کـې دتـاريخي موضـوعاتو ترڅنـګ دهغودنـاڅېړل شـوواړخونوهراړخيزه څېړنــه اودژبوپــه کــورنۍ اواړوندومسـايلوکې دريـځ روښـانه کـول دي.دې مـوخې تـه درسـېدوېوه لارهمـــداده، چې لـــه نـــورو خپلوانوژبوســـره داړونـــدې ژبـــې دژبنيـــو توکواومواد وپرتله اومقايسه لکه څرنګه چې ځينې څېړونکوکړې نوره هم وکړو.دآريـاني فلالـوژۍ دلرغـونې دورې اثارلکـه:داوسـتاژبې اومتونـو ، يادهخامنشـيانودوخت(۲-۴مخزېـږد پېـړۍ )دزړې فــرس ژبــې مېخــي ډبرليکونه ،همدارنګه دلرغونې ساکي ژبې ځينې اصطلاحات اوځانګړي نومونـه اودمېـدي ژبې راپـاتې څوکلمې اوداسې نـورو اثـارو او اسنادو د څېړنــې، لوســتنې، تحليــل، دهغودرمزونوراســپړل اوڅرګنــدول بــوازې دفلالـوژيکي اوژبنيوعلمي، تـاريخي اوپرتليزوڅېړنوپـه ترسـره کولوسـره شـوي دي.پـه همـدې تو ګـه دآريـاني ژبـو منځنـۍ دوره ،معاصـره دوره؛ او د سـاکي، پښتو ،آسي ،اورمړي،دري، پراچي؛ پاميري...اوداسـې نـورو ژبـو اړيکـې د انـدواروپايي ژبولـه کـورنۍ اودآريـاني ډلـې لـه ژبوسـره؛دهمدې څېړنولـه مخـې ثـابتې شـوې دي.همـدې اړتيااوتشـې تـه پـه کتوسـره، ماهم د(آريـاني فلالـوژۍ تاريخچـه-لرغـونې دوره ) ترسـرليک لانـدې موضـوع دخپـل تېـزس لـه پـاره دليکلوهـوډوکړو او دکابـل پوهنتـون ، ژبـو اديبـاتو پوهنځـۍ، دپښتوڅانګې دماسټرۍدورې دمحترم بورډ له خوا دلايحې سره سم د رسمي اواداري پړاونود ترسره کولوورو سته دښاغلي پوهاند محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

صابر خوښکي په لاربنونه ومنل شوه .ترڅو دماستري دعلمي بورډ د موخو او لرليد پلان(پاليسی )سره سم په دې برخه کې څېړنه ترسره کړم .څرنګه چې د دموضوع اړوند کورنيو او بهرنيو څېړونکو او پوهانو لږ وډېرې څېړنې کړې خو په دې برخه کې بايد ډېر څه وشي .ديادولو وړيې بولم ،چې د دې موضوع عمده توپير او مزيتونه له مخکنيو څېړنو سره په دې کې دي چې داموضوع تردې سرليک لاندې بوه نوې څېړنه ده.او په ځانګړې توګه په پښتو ژبه کې تراوسه چاپرې کارنه ده کړي .او مستقل اثر ګڼلاشو په ځانګړې توګه دماستری تحصيلي دورې د زده کړيالانو دمطالعې له پاره ګټوردی.ځکه چې دوی په ياده دوره کې دآرياني ژبواړوند مضامين لولي په ساده روانه پښتوژبه ښه مومد او اړوند مواد موندلای شي.څرنګه چې د دې تېزس موضوع بوه فلالوژيکي او تاريخي څېړنه ده ،نوپرهمدې بنسټ ډېری له تاريخي ،ترکيبي ،مقايسوي مېتودونو څخه ګټه اخستل شوې.چې اوس مهال دفلالوژکي مسايلو په څېړنه کې منل شوي کړنلارې دي. د دې څېړنې موخه داده ،چې دمطالعې لرونکو محصلينو او څېړونکو ته دژبې څېړنې او فلالوژۍ دتاريخ دپيل اوتردې مهال يې د څېړنو د پرمختګ او پراختيا څرنګوالی او لاملونه روښانه اوڅرګند کړم ؛ او دا چې د دغو څېړنو په اوږدو کې څنګه يوه بهير په بل هغه خپل اغيزښند ليښکاره کړم. او دا چې فلالوژي هم د نورو پوهنو له ډلې څخه يو علم دی ،چې پرمختګ يې له پيل تر اوسه په سيستماتيکه بڼه دپېړيو په پوړيو کې د خپل عروج پړاونهتېر کړي دي . نو د فلالوژۍ تاريخي بهير له هغو زمانو څخه چې يونانيانو دفيلوس (وست )اولوګوس(دفکرکولو )لومړني تفکرات او ليد لوري د ژبې دزدکړو او پيدا ايښت په اړه پيل کړل يا هغه مهال چې انسان ديته پام شو ؛ چې دغه ژبه چې مونږ يې غږيږو دا پديده له کومه شوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابتـدايي بهيرونـه را پيـل شـول.چې زه پـوازې دفلالوژۍ پـاړه څـه ناڅـه معلومـات وړانـدې کوم.داتېزسـپه ټـوليزه توګـه درې برخـې لري.لـومړۍ څپرکـــی دموضـــوع اړوند مفاهیمو(آريا ،آريانا ،آريايي ،آرياني ،ژبـــه اوفلالوژي )پـه هراړخيـزه توګـه لکـه دژبـې پېژندنـه، دفلالـوژۍ: تعريـف، مـوخې، دنـدې،تاريخي ارزښـت يـې، دتـاريخي اوعلمـي شـواهدو ، لاسـوندونواوددې اصـطلاحاتوپه اړه دکورنيواوبهرنيوپوهانونظريـات راوړل شوي اوپه تفصيل سره تشريح شوي دي.په دويم څپرکي کې دآرياني فلالـوژۍ دتـاريخي اهميت اودختيځپـوهنې پـه څـانګوکې دريـځ روښـانه شوی،ورپسې دژبپوهنې تاريخي بهير په اړه څېړنه شوې ژبپوهنه پـه آريانـا اودبنسټ اېښودوتاريخي ارزښت يې،يونان،اوديونانيانوله خوا نورو ژبو سره استعماري چلندارزونې لاندې نيول شوی،دعربواواسلام دسپېڅلي ديـن دراتلوپـه وخـت کـې دژبـې اوژبپـوهنې ځلانـدتاريخ تـه کتنـه ، دنورژبوسـريې چلنداونوروژبوويونکوتـه دعربولـه خـوادعجم اصـطلاح کارونې سپړنه شوې،دژبپوهنې ډولونه،له هرلوري مطالعه اوڅېړل شوي. بل د ژبو د ستې موندنې او د ژبې څېړنې په ډګر کې د ښې څېړنې په موخه د نړۍ ژبې د هغو د څانګړتياوو له مخې وويشي چې ددغو څېړنو په پايله کې د ژبو کورنۍ رامنځته شوې نو له موضوع سره په اړيکه کې د ژبو کـورنۍ اوځينې ژبې چې پېژندنه يې د آريـاني ژبپـوهنې پـه ډګر کې اړينـه ده ، هم د ضرورت پر بنسټ څېړل شوې دي،پـه لنډه توګه اندواروپايي ژبوکورنۍ معرفي اوبحث څخه وروسته داندوآرياني ډلې څېړنه ،پرتلنه شوې ورپسـې دآريک ژبې ترسرليک لاندې داړوندوژبوپېژندنه اودځينوترمنځ پرتلنـه لـه پښتوسـره شـوې ده،پـه تعقيـب يـې پـه څانګوواوزونونوو ښـنه.ضـمنن دآريـــاني ژبولنـــډه د تـــاريخ لـــه مخـــې معرفـــي څېـــړل شـــوې،اوپه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دربوا ړودوروتږولیزبحث شوی، همدارازد ډلبندۍ پربنسټ پرتلیزجدولونه اونقشي راوړل شوي. په دريیم څپرکي کې د دآرياني فلالوژۍ د لرغوني دورې په تاريخچه په تفصيل سره څېړنه شوې ده، چې داوستاژبې پېژندنه اودکشف، مطالعې، الفبا، تدوين، منځپانګه باندې پراخ بحث شوی اودمتاخرې(اوسنۍ )اوستا، ګاتونو، يسنونو،يا يشتونو، کوچنۍاوستاپور ه څېړنه شوې ده.همدا ډول په زړه فرس دهغې په توروا ونوروبرخودپام وړ څېړنه شوې ده، ورپه سې په ساکي اومېدي ژبود فلالوژيکي څېړنوله مخې رڼا اچول شوې. په عمومي توګه دا تېرس لاندې پوښتنوته ځوابونه وايي:۱-آريا،آريانا،آريايي،آرياني، څه معنا ؟۲-ژبه اوفلالوژي څه مفهوم لري اوموخې، دندې، ارزښت اوا ړتيا څه ده؟ ۳-آرياني فلالوژۍ يعنې څه، دتاريخي اهميت اودځتيځپوهنې په برخه کې څومره ونډه لرلای شي؟ ۴-ژبپوهنه له فلالوژۍ سره څه توپيرلري اوژبپوهنه دتاريخ په اوږدوکې څرنګه دې اکرياحالت تاورسېده ګټې څه دي؟ ۵-دژبو کورنۍ دکوموقواعدوله مخې رامنځته شوې،آريک ژبه څه ډول ژبه وه، دڅانګوترمنځ پرتليزې اړيکې څه ډول دي، کومواصولوله لارې دآرياني ژبووېشنه اوډلبندي شوې اوپښتوژبه چېرته ژبنۍ موقعيت لري؟ ۶-دآرياني څانګې دلرغونې دورې ژبې کومې وې، څومره اثارترې راپاتې دي اوکومې معاصرې ژبې ترې پاتې دي؟اوداسې نورواړوندومسايلوپه اړه ځوابونه.

زه ددې دعوه نلرم چې زماداڅېړنه به پورته يادواوداسې نورو پوښتنوته دهرچاله ليدلوري، ځواب ويونکی وی. او ياداچې له هره پلوه يوبشپړاوجامع اثر دی.ما ترخپلې وسې پورې هڅې کړې زيارمې اېستلی، چې مواداومعلومات له معتبرواخځليکونواومنابعوڅخه په سم

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دقیق ډول ثبت او بیا یې درنو لوستونکو ته وړاندې کړم. خوله دې سره سره انسان نیمګړی دی، هره څېړنه او کار د تېروتنو او خطاوو سره مخکېږي؛ د سهوې په درلودو سره له ټولو درنو لوستونکو څخه هیله لرم چې ښېنه وکړي. په پای کې له خپل لاربنود استاد ښاغلي پوهاند محمد صابر خوېشکي څخه دزړه له تله مننه کوم چې له ما سره یې د دې تېزس په څېړنه او بشپړولو کې هرا ړخیزې مرستې، سپارښتنې او لارښوونې کړې دي او ځپل شخصي کتابونو یې زما په واک کې راکړي. د الله(ج) له دربا څخه د اوږد ،هوسا او بریالي ژوند هیله کوم.

په درنښت
دینارګل امین سهاند

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خېړنې موخه او ارزښت

په تولیزه توګه هره څېړنه بېلابېلې موخې او ارزښتونه لري چې همدې موخوته درسېدو او ارزښتونوته يې د پاملرنې پر بنسټ د څیړنې ټولې چارې سمبالیږي، زما د څیړنې موخې د څومره والي او څرنګوالي له مخې د لاندې لاملونو پربنسټ د ارزښت وړ دي. د تېرس لومړی څپرکی چې د موضوع اړوند و مفاهیمو توضیح رانغاړي: د آریا، آریانا، آریایي، آریاني، ژبه او فلالوژي ده. او د کمي اهدافو په بڼه یې مطرح کوم ؛ د دې سرلیکونو له مطالعې څخه به نوي محصلین اوزد کړیالان، په پښتو ژبه د خپل هېواد د تاریخ د ځینې مهمو اصطلاحاتو ،ژبپوهنې او فلالوژۍ؛ په اړه څه ناڅه نوي مواد و پېژندنه ،د نومونې او کاربدنې تاریخي، کلتوري او ملي ارزښت او اړتیا به یې درک او شعوري پوهاوي به يې وده وکړي. د دويم فصل هدف د څومره والي او څرنګوالي له مخې د خورا ارزښت وړ دی، هغه په دې چې د لومړي ځل له پاره په پښتو ژبه کې د آریاني فلالوژۍ د تاریخچې په اړه لنډه څېړنه وړاندې کوي او وړپسې ،ژبپوهنه د تاریخ په اوږدو کې؛ په آریانا کې، یونان، روم او عربیټولنو کې د ژبې په اړه لومړني نظریات او د ژبې څېړنې سپړنه ده. چې د ژبې د څېړنو له بهير څخه يو ټوليزانځور رامنځته کوي، د نړۍ د ژبو کورنۍاو د هغو فلالوژیکي وېشنه ،ډلبندي او څېړنه، آریک ژبه او د څانګو فلالوژیکي مقایسوي اړیکې،آریاني ژبې وېشنه يې.د فلالوژیکي تاریخچې له مخې څېړل شوي ؛چې له موادو څخه به يې، د ژبپوهنې لومړني محصلین د ژبې په اړه لومړني نظریات و پیژني او دا چې ژبپوهنه ولې او د کومې اړتیا له مخې په ټولنو کې دود شوه پوهه تر لاسه کړي او په دې به و پوهیږي چې د نوې ژبپوهنې معنا څه ده، کومې ژبپوهنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته نوي ويلای شو. د ژبو د کورنیو دو ښتنې پوهنیزو او بېلا بېلو بڼو ، کشف او څرنګوالی. د دغو سرلیکونو په لوستلو سره به و پوهیږي چې د ژبو څېړنې په بهیر کې ژبې د کومو مېتودونو او تیوریګانو څخه ګټه اخستل شوې ده او د ژبو د کورنۍ په لښتلیک کې به په دې پوه شي چې پښتو ژبه د کومې کورنۍ له ژبو څخه ده ، او ولې ده؛ یعنې په دې معنا چې د ژبو د ډلبندۍ په اصولو به هم معلومات تر لاسه کړي.په همدې توګه د د رېیم څپرکي؛لوړه موخه او اهمیت په دې کې دی ،چې د آریاني فلالوژۍ د لرغوني دورې تاریخچې په اړه هر اړخیز فلالوژیکي معلومات د اوستا ،زړې پارسۍ، ساکي او مېدي ژبو او ټبرونو په اړه وړاندې کوي.چې د تاریخي ژبو هنې په رڼا کې،د لرغونو ژبو تر منځ پر تلیزې اړیکې او د اصلي ستې په اړه لنډ معلومات، د منځنیو ژبو منشا او ارتباط، په معاصرو ژبو کې د ځنې وییکو شتون او ورسره اړیکې امکان یې د اټول هغه څه دي چې زموږ د لرغوني کلتور او فرهنګ په اړه د مسلکي مطالعې لرونکو او زد کړیالانو له پاره د لا پوهاوي او ژور لید لوري لامل کرځي.د تېزس په لیکلو کې له روانې ولې سوچه ژبې او ساده سبک څخه کار اخستی چې که یو ابتدایي ژبپوه او د اړوندې رشتې محصل یې هم ولولي نو ورته بې ګټې به نه وي او د هغه چا له پاره به د نوو موادو لرونکی وي چې د فلالوژۍ په تاریخ څېړنه کوي او یا یې رشته ده.

## د څېړنې مېتود او کړنلاره:

د نړۍ هره چاره تر سره کول د یوې سمې تګلارې له مخې بریالۍ پای ته رسېدلای شي، په ځانګړې توګه په څېړنیزو او پوهنیزو چارو کې د امسله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېره اړینه ده. پردې بنسټ زما د څېړنې مېتودونه د تېزس موضوع ته په کتوسره ترلاس لاندې نېول شوي ،ترڅو د اړوندې څېړنې، ارزښت ،اړتیا او موخو ته ځواب ویونکي او رسېدونکي وي. که څه هم ټول تېزس په کتابتوني بڼه څېړل شوی، خو موضوعات په (ترکیبي، تاریخي ،توصیفي، پرتلیز ،ژبپوهنیز او تشریحي )مېتودونو څخه په ګټه اخستنې څېړل شوي :لومړی ترکیبي، تاریخي او توصفیدي ، د تارخي مېتود پربنسټ مې دلومړي څپرکي د(آریا ،آریانا ،آریایي،آریاني )کلمې څېړلې او د دې اصطلاحاتو د څېړنې فلالوژیکي اړخ د ترکیبي مېتود پربنسټ ترسره شوی ،ځکه چې تاریخي موضوع له ژبنۍ ،کلتوري او ملي موضوع سره تړاو لري،همدا راز( ژبه او فلالوژي )د تشریحي او پرتلیز مېتود پربنسټ څېړل شوي او د هرسرلیک په پای کې نتیجه اخستنه هم شوې.همدا راز دویم څپرکي :کې مې د تاریخي،ژبپوهنیز ،ترکیبي او مقایسوي مېتودونو څخه په ترتیب سره ګټه پورته کړې؛دآریاني فلالوژي،ژبپوهنه د تاریخ په اوږدو کې،نړۍ د ژبو کورنۍ ،آریک ژبه او د څانګو ترمنځ مقایسه،آریاني ژبو وېشنه.د بېلابېل شواهدو په را ټولولو سره مې د پورته یادو مېتودونو پر اساس د هرسرلیک په اړه څېړنه کړې. په دریېم څپرکي کې مې بیا هم له: تاریخي، ترکیبي، مقایسوي، ژبپوهنیز او تشریحي؛ مېتودونو څخه د اوستا ، زړې پارسي، ساکي او مېدي ژبې او ټبرونو په څېړنه ،پرتلنه او وېشنه، کې پوره ګټه اخسې، او د ټول تېزس په څېړنه کې مې له معتبرو کتابونو او منابعو څخه دقیقه استفاده کړې او د اړتیا په صورت کې مې د بېلابېلو ژبو ترمنځ مقایسه ترسره کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سکالو(موضوع )شالید :

دآریاني فلالوژۍ تاریخچه(لرغوني دوره ) ترسرلیک لاندې موضوع په هکلهپه افغانستان کې تر او سه کوم بشپړ کتاب نه دی لیکل شوی. دځنې آثارو او مقالو یادونه چې په څنګزنو سرلیکونو کې یې دد بسکالو یو اړخ څېړلې یا ځینو دفقه اللغې ترنوم لاندې په بهرنیوژبو څېړنې کړي یادونه وکړم: د د بموضوع په بوه اړخ دلومړي ځل له پاره په پښتوژبه کې اروابښاد پوهاند عبدالحی حبیبي دادبیاتو تاریخ ترسرلیک لاندې اثرچې(۱۳۲۳-لوړی چاپ ) لومړی ټوک یې دژبې تاریخ یا په ابتدایي کچه فلالوژۍاړوند موضوعات څېړلي دیادونې دنې وړدی.دې پسې اروابښاد سرڅېړونکی دوست محمد دوست شینواري څېړنیز اثر (دافعانستان ژبې توکمونه )چې ډېری برخې یې دفلالوژیکي علم پربنسټ څېړل شوي (لومړی چاپ ۱۳۵۴لمریز )اوپه ځانګړې توګه دآریایي اوآریاني ژبواوتوکمونوپه اړه دهغه وخت سره سم بشپړاوپه پښتو ژبه کې یونړیوال اثرګڼل کېږي.ورپه سې داروابښاد پوهاند عبداشکوررشاد لغوي څېړنې اثراوپه دې برخه کې یې نورې څېړنې اولیکنې دپام وړ دي. همدارازدفلالوژۍ پوهې د بوې بلې برخې په اړه د اروابښاد پوهاند محمد رحیم الهام اثر( بخش های در علم زبان ) تر سرلیک لاندې کتاب ؛ چې په (۱۳۳۲ لمریز )کال چاپ شوی د ژبپوهنې تاریخي څېړنو ته یې هم یو ځغلنده نظرا چولی دی. بل اثر د سرڅېړونکي مولاجان ټنیوال د ( ژبه او ټولنه ) ترسرلیک لاندې دی ، چې د ژبې په اړه نورو سرلیکونو تر څنګ یې د ژبپوهنې تاریخچې ته هم لنډه پاملرنه اړولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده. په همدې ډول سيد جعفرهاشمي(د پښتنو توکم او ژبه )نومی کتاب چې دفلالوژۍ د پوهې د بوې برخې سره په تړاو کې(۱۳۸۳المريز ) ليکل شوی.همدا ازار يو کتاب د(افغانستا پېژندنه )په نوم اورنګزيب ارشادهم ليکلی(۱۳۸۴المريز )چې بوه برخه يې،دربيم څپرکی دا افغانستان ژبې ترسرليک لاندې راختسې او ورسره يې دژبو تاريخي اړخ ته هم نغوته کړې ده.په اوس مهال کې د وتليځېړونکي اوژبپوه سر څېړونکيډاکټر خليل ا لله اورمړ د لرغونې اريانا اوآرياني ژبو اوتوکمونو په اړه په پښتوژبه،په لسګونو څېړنيزې مقالې اوفلالوژيکي څېړنې دستاېلووړدي، په همدې ترڅ کې د( مقدمه برزبان اوستايي ) نومی اثر د پاملرنې وړدی ،چې په دې هبواد(افغانستان)کې د نوې مېتودولوژۍ پربنسټ يو معتبراوداهميت وړ اثر ګڼم.همدارازد پوهاند ډاکټر محمد حسين يمين د دري د پارتی والي دمدعا په موخه د ( پارتی ، پارثي ، پارسي ) نومی کتاب هم د تاريخي ژبپوهنې په برخه کې اړوندې څېړنېکړې ،چې د پاملرنې وړدی. د پورته يادو څېړنيزو او مستقلوآثارو سره سره چې دفلالوژۍ دځينوبرخو: تاريخي او مقايسوي ژبپوهنې په برخه کې ليکل شوي دي ، په څېړنيزو مجلو او نورو ګڼو ډليزورسنيو کې هم د پام وړڅېړنيزې مقالې د بېلابېلو څېړونکو او ليکوالوله خوا خپرې شوي دي،چې د ټولو يادونه ناشونی بريښي، يوازې د بېلګې په توګه ديوڅو تنو په نومونو بسنه کوم:اروابښاد روان فرهادي ، پوهاند عبدالقيوم قويم،اروابښاداکاډميسن ډاکټر عبدالاحد جاويد ، اوداسې نور. ديادولووړيې بولم چې دفلالوژۍ او اړوندو موضوعاتو په اړه يې، دنوروعلمواوفنونو په څېر،بهرنيو څېړونکو د پام وړڅېړنې کړې ديچې دهغوله ډلې څخه ديوڅوکسو يادونه کړم:ويليام اګريدی،مايکل دبرو ولسکی او مارک آرنف اثر(درآمدی برزبان شناسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

معاصر )ترجمه(۱۳۸۲هش ) ،دکترعلی درزی؛پېتر آ.ام.سورن (تاریخ زبان شناسی )ترجمه(۱۳۸۸هش ) ،علی محمد حق شناس؛دکترمحسن ابولقاسم(تاریخ زبان فارسی )(۱۳۸۲هش ) ؛دکتراحمد تفضلی (تاریخ ادبیات ایران ) (۱۳۸۷هش ) ؛ت.ن.پاخالینه (زبانهای پامیری ) ترجمه (۱۳۲۲هش )ماه ګل سلیمان دوست؛همدا ډول په عمومي توګه (داندواروپايي ) اوپه ځانګړې توګه د(آرياني )فلالوژۍ په برخه کې شون .فلډ.ای.ام.آرنسکی د Iosif MikhailovichOrianskii(مقدمه فقه اللغه ايرانی ) ترجمه، کريم کشاورز؛(۱۳۸۹هش )اثرډېرد پاملرنې وړدی ،نوموړي په هغه وخت کې دآرياني فلالوژۍ په اړه په لنډه توګه هراړخيزې څېړنې کړي اودآرياني:لرغونې، منځنۍاو معاصرې دورې په ژبو او اړوندوټبرونو قبيلودهغوی په تاريخي، کلتوري، فرهنګي، سياسي ،پوځي اوژبنيو ،ادبي اثاراونوروبېلابېلواړخونواوبرخوپه اړه پرتليز، ژبپوهنيز علمي معلومات په معتبرواسنادواوشواهدو ،واړاندې کړې. بوازې بوه مسله چې دکره کتنې وړده هغه د(آرياني )اصطلاح پرځای د(ايرانی ) کارونه ده چې آيادابه دده سهوا وي که دژباړونکي نه امانت داري.ماد بېټبزس په ليکلواودموضوع په څېړنه کې د نورو ګڼو آثارو سربېرهله پورته يادوڅېړنيزوګټوروآثارو څخه د اخځليکپه توګهګټه پورته کړې ده. له هېواده بهر ځينې نوروڅېړونوهم په دې برخې کې څه نا څه کار کړی دی. په هغو کې د اندو اروپايي ژبې څېړونکو په ډله کې د آر. اچ. روبينز ، ديويد هُلدکرافت ،دوناجوناپولي ورالي ، د آرياني ژبو د فونولوژۍ په اړه يدالله ثمره او نور ګڼ شمېرڅېړونکي ديادولووړدي.چې د اړتيا ترېريده يې زما تيزس ته هم غناور کړې ده. هغه توپير چې زما دتېزس اوددې آثارو ترمنځ دی، هغه دا دی چې په دغو آثارو کې د ژبنيو څېړنواوفلالوژۍ پرمختګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پراختیا روښانه شوی چې څنګه یوژبې پر بلې اغېزه پرېښې او له منځه تللې. ولې، ما په خپل څېړنه کې په تاریخي توګه دا موضوعات څېړلي.بله دا چې په دغو آثار کې د برېي او هرا ړخیزې څېړنې د بیلابیلو موخو لرونکې دي ، څرنګه چې زما څېړنه هم د دوی په پله یو پل دی ، موخه یې له هغو سره په توپیر کې دا ده چې له شویو څېړنو څخه یو ټولیزانځور را منځته کړم ، چې د ابتدایي زدکړیالانو ،محصلینو او څېړونکو له پاره دآریاني فلالوژۍ د لرغونې دورې د تاریخچې په اړه یوڅه معلومات په لاس ورکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## ۱-داړوندو مفاهیموتوضیح

### ۱-۱اریا –آریا(**Arya**):

اریا –آریا (Arya) د کلمې مفهوم او معنا د تاریخ ، ادب او ژبې پوهانو د تاریخ په اوږدو کې په بیلابیلو مترادفو مفاهیمو راوړې ده ، چې په لنډه توګه به د بیلابیلو لاسوندونو پربنسټ پرې بحث او لیکنه پیل کړو . زموږ د هېواد نوموتی تاریخ پوه احمد علي کهزاد دا کلمه د څو اړخونو له مخې داسې معنا کوي: «آریا د دیانت له انده د لمانځونکي ، باورمند او قربانې ورکوونکي په معنا لیکي او دلرغونې اصطلاح له مخې یې نجیب ، شریف، بادار ، آقا ، څښتن یا مالک او واکمن په مفهوم لیکلی همدا راز دی لیکي چې ؛ په بیلابیلو برخو کې د ډېرې کارونې له امله یو لړ نو صفتونه هم ورسره یو ځای شوي دي» لکه: نارینه توب ، ځوانمرده ، میلمه پال ، زړور ، هېواد پال ، جنګیالی او داسې نور. چې هر یو له پورته صفتونو یو له بل سره نږدې والی لري. (۲۷:۳۲ مخ) هیره دې نه وي چې ؛ دا کلمه یوه لویه سیاسي او ټولنیزه معنا هم لري. کله چې آریایانو د هندوکش په دواړو لورو کې استوګنه درلوده ، د دوی پوهانو دا فکر وکړو ، چې له پردیو څخه د خپل ټبر د توپیر په موخه که څه له یوه پښت ( نژاد ) فرعي څانګې وي ، خو چې خپله څانګه یې سره له دې چې بیلابیلې وي سره یو کړي او یو نوم ورته وضح کړي. تر څو له بیلو الي لرې پاتې شي او په خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځو کې یو والی وساتي ؛ په همدې موخه او مقصد یې د (آریا ) نوم منځ ته راوړ او په ټولو یو ډول اطلاق او ونومول شو. په طبیعي توګه دا نوم هندي آریایي مهاجرینو ته ولیږدیده ، ولې په مفهوم کې یې ورو ورو بدلونونه راغلل. د دې له پاره چې آریایان د هندي ځایي او سیدونکو سره ګډ نشي. ټولنیزې طبقې رامنځته شوې. چې عبارت دي له ۱- کشاتریا ( جګړه مار ) ۲- برهما (روحانیون ) ۳- ویسیا ( کسبیان ) ۴- سودرا ( اچوت ) چې دوی لومړني هندي بومیان وو ، چې په دې ترتیب آریا نه بلل کېدل. د آریا کلمې ریښه زموږ د هېواد په ډېرو طبیعي ، قبایلي ښاري ، سندونو او ځانګړو نومونو په برخه اېښوول شوي دي چې د ځینو یې یوازې نومونه را اخلم. لکه: هرویو (Haroyu ) ، هراویتي ، آریا سپ(Ariaspe ) ، آریاکا (Ariaka ) اریستوفیل(Aristophyles ) ، ارتاکاتا (Artakana ) ، اریوس چې د پورته یادو نومونو یادونه په خپل ځای د دې کلمې عمومیت په دې خاوره کې ښیي. (۳۰:۳۲مخ ) همدا راز پوهاند عبدالحی حبیبي د هند د کمبریج هستوري آف هندیا (د پخوانیو سرو تاریخ ) ج۱، ص۷۳ په حواله لیکي .« په سانسکریټ کې آریا یا آریا Arya او په اوستا کې ایریا Airya دی ، چې هغه د شریف او نجیب معنا لري. دوی له له خپلو دښمنانو څخه ځانو ته په دغه نامه امتیاز ورکاوه، چې د دوی له پښتنه نه وو او اصیل نه ګڼل کېدل. » نوموړی په همدې ډول لیکي. علاوه پر ریګویدا په اوستا کې هم دا نوم راغي. او هسې وایي:«خدای تعالی د آرین زمځکه او د آرین توکم او پښت پیدا کړ» همدا راز د هیرودوت(۴۸۴ – ۴۲۵ ق.م) په حواله لیکي ؛ چې میدي Medes اقوام په لرغونو زمانو کې آرینArian بلل. ځکه چې میدي ټبرونه د (۲۵۵ مخزیږد ) په حدودو کې د پارس پای کې یوه لویه واکمني جوړه کړې وه. نو ویلای شو چې د آرین اصطلاح تر دغو وختونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې هم په ټولو آريايي ټبرونو کې ژوندی وه. چې هخامنشي داريوش (۵۲۱ - ۴۸۶ ق. م ) په خپل ډېر ليک کې ځان په وياړ سره آريايي او آريا له پښته بللی دی. همدا رنګه د اروپا او سنيو پوهانو د دې کلمې په اړه پلټنې کړي دي؛ ځکه چې دا نوم آريايانو خپلې پخوانۍ او اصلي ژبې سرهراوړی و. که چيرې په نورو ژبو کې د دغه نوم ريښه پيدا شي هغه ژبه يا آريايي ياد آرين اصلي ژبې ته نږدې بلل کېږي. دوکتور ګايګر Gaiger آلماني څېړونکی داسې وايي: آرين له (آر) څخه مشتق دی چې په سانسکريټ کې د اصل ، بنسټ او بنياد په معنا دی. او د نجيب ، شريف ،او پارسا ته وايي. سربيره پر دې نظرونو چې (آر) د اصل او بنسټ په معنا بولي. ځينې څېړونکي داسې وايي چې ؛ آريا له (آر) څخه مشتقه ده. چې په پخوانۍ سانسکريټ کې يې د کرنې (زراعت ) معنا درلوده. نو پر دې بنسټ آريا د کرونکي او بزګر په معنا هم کاريده. دا مفهوم نوميالي سانسکريټ پوه، ميکس مولر Mexmuller ورکړی دی. چې دوکتور هنتر يې هم د هند د خلکو په تاريخ کې تائيدوي او آرين د بزګر په معنا مني. ميډيم راګوزن ليکي« (آر) د يوې (کولبې) په معنا وه. له لاتيني او ايټالياوي (اراز) د سلاوي (ارياي) د يوناني (اروټ رون ) انګريزي اېربېل (د بوې وړ ) دغسې د ويوناني (اورا ) او د لاتيني آرور ( بوې يا کولبه شوی کښت ) ټول له دغې مادې يا ريښې څخه دي. آريايي ټبرونو له دې امله ځان بزګران او کرونکي ګڼل چې له وحشي (تورانيو پوونده ) وو څخه د دوی توپير وشي او په دې نوم به يې هر کله وياړ کاو. د دې آريايي نوم اغيزه په نورو ټبرونو هم شوې دي. د بابل او نينوا په اسوري ژبه هم (آري) بوې يا کلبه شوې او کرل شوې ځمکې ته ويل. همدا راز (ارارا) د دغه هېواد (هند ) په کوشي ژبه د فصل ريبلو معنا درلوده. (۲۲: ۴۵ - ۴۷ مخونه) په دې توګه ارواښاد حبيبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکي چې د آريا کلمې اړوند دوې نظريې د پوهانو ترمنځ شتون لري: يوه دا چې د اصل ، شريف ، نجيب او بنسټ معنا لري او دويمه دا چې د بزګر يا کرونکي په معنا ده. دا ټول اندونه او دلايل په تاريخي لاسوندونو او شواهدو ولاړ دي. همدا ډول په دې اړه ځينې نور پوهان ليکي چې د آريا Arya کلمه د اندو اروپايي * Aryo د Ar فعلي ريښې څخه مرکبه ده ، اندو اروپايي *Ar او ya نسبتي روستاړی د اندو اروپايي * yo دی. په ټوليزه توګه کله چې دا روستاړی د فعل له ريښې سره ونښلي له هغې نه اسم يا صفت (نوم يا ستاينوم) جوړيږي. شواهد ښيي چې د Arya په کلمه کې د ya روستاړی د صفت جوړونې کارونه لري. يعنې هغه صفت چې د نوم ځای يې نيولی دی. د آريا Arya او آلان Alan کلمې له يوې ريښې څخه دي ، چې د آريک له فرضي ژبې څخه رامنځته (اشتقاق) شوي او د آريک Aric يا آري Arii کلمه په خپل وار Ar (نجيب ، بنسټ) له فعلي ريښې او د ya له روستاړي څخه جوړه شوې ده. آريا په اوستايي متونوکې Airya په سانسکريټ کې Arya په لرغونې فارسي کې Ariya په لرغونې يوناني کې Arioi د باختري ژبې د رباطک په کتيبه کې Ario په منځنۍ پارسي کې Irāēn او په تاجيکي ، دري او پارسيک īrān او Īrani شوې ده. (۲۰:۱ مخ) دغه کلمه په پښتو ژبه کې موجوده ده چې اريا Arya په بڼه تلفظ کيږي چې د (ار Ar ) بنسټ ، اصل او نسب معنا لري. (پټه خزانه) آريا Arya د اوستا ، سانسکريټ او لرغونې پارسي کې يا ya کلمه (برتولومه ، فرهنګ اوستا ۱۹۸ مخ ) د اندو آروپايي اقوامو نوم ګڼې. (۱۹:۱ مخ) چې په ډېرو لرغونو پيړيو کې يو ځای اوسيدل او وروسته بيا په دوو سترو ډلو وويشل شول. يوه ډله هند او بله آريانا ته راغلل. چې پوهانو د آريايي کلمه په ځانګړې توګه د ټولو هغو ژبو په اړه کارولې ده، چې د اندو آروپايي يا اندو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرمانيک په نوم پيژندل شوې او همدا رنګه د آريائيانو کلمه يې ټولو هغو خلکو ته کارولې ؛ چې په نوموړو ژبو ګړيدل مګر په دې وروستيو کې د پوهنيزو او هراړخيزو څېړنو وروسته دې پايلې ته ورسيدل ؛ چې آريائيان Aryans د اندو اروپايانو ختيځه څانګه ده او په آريک (آريايي) ژبه يې خبرې کولې. يعنې اوس غالباً د آريا کلمه په اندو آريايي توکم اطلاق کېږي او د دې ټبر د ژبو يوې څانګې ته آريايي ويل کېږي. د آريا کلمه په ويدي سانسکريټ کې د ښاغلي محترم ، مکرم، متعهد ، مومن او وفادار او آريا ورته د اوسيدونکو په معنا او مفهوم راغلې ده. همدا راز د تکرارالاحسن په توګه بيا هم وايو چې آريا کلمه په لرغونې آرياني ژبو کې په تيره بيا په اوستا کې په لاندې ترکيب سره يادول شوې ده: د ونديدات په لومړي فصل کې د آريانا ويج Airyana vaējah ( د آرياني توکم او پښت ټاټوبی ) د مهريشت په ۱۳-۱۴ برخه کې مروه ، هرات ، سغد ، او خوارزم آريوشيانه Airyo-shayana د آريايانو ځاله يا کور ياد شوی دی. د اريا Aria سيمې او سنې هرات او غور دي چې د آريانا مرکزي اولويديځه سيمه ګڼله کېدله. (۴۱: ۱۸ مخ) فروردين يشت ۳۱ برخه کې آيرياوه Airyava چې په لغت کې د آريايانو د مرستندوی په معنا او منش چهره Manuchithra د کورنۍ نوم ياد شوی دی. د آريا کلمه د خشاثره Xšaθra حکومت ، دولت ، مملکت او هېواد سره په ترتيب کې Airyanam(Xšaθra ) د آريايي ټاټوبي او ښار په معنا ، چې وروسته بيا په پهلوي ژبه کې د ايريان شار ērān shar شوی دی. د آريا کلمه Dahyau(کلي )د کلمې سره يوځای لکه Aryanamdahyunam د آيايانو استونګنځای ، مېنه يا کلی .د خوارينا Xvar∂nah ( پرتمين ،نوميالی ، مشهور ، د کلمې سره يوځای Aryanam xyar∂no ( د آريايي پرتم درلودونکی ) په معنا . په لرغونې پارسي کتيبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د آريا کلمه په شپږمه مخزيږد پيږی، کې داريوش د نقش رستم پـه کتيبـه کې خپل ځان داسې معرفي کوي.

Adam dārayavahuš xšāyaθiya vazraka xšayaθiya xšāyaθi yam….vištaspa hyāpuθra haxxāmanišiya parsaparsahyā puθraariya ariyačiθra.

ژباړه: زه داريوش ، ستر ټولواک ، شاهنشاه ، د وشتاسب ، هخامنش زوی ، پارس او د پارس آريايي او له آريايي پښتنه (نژاده). د يوناني تـاريخ پوهـانو پـه ليکنوکې د آريانا ، آريا او آريايي په کلمو کې د ډېرو نوميـاليو نومونو سره مخامخ کېږي . چې د آريا لـه کلمې سره ترکيب شوي او ځېنې بېلګې يې دادي: يوناني Airabazo ، آرياني Ariabazu ( څوک چې د آريـاني مټ او بازو له ځواک څخه برخمن وي ).

يوناني Ariasai ، آرياني Aria Aspa ( د آرياني اسونولرونکی ) ، د هغـې قبيلې نـوم دی چې دهلمند سـين دواړو غـاړو تـه ميشت وو. يونـاني Arya Piasus ، آريـاني Arya Paisa ( د پـه آريـاني سـمبال ، آريـاني پسـونو لرونکـی ) د آريـان ryanأ نـوم پـه آسـي (آسـتي ) ژبـه کـې پـه آلان Alan اونيستي چې د هماغـه اوسني الان تېرنوم و. او آلان پـه لرغـوني يونـان کـې Αλavot دی.(۴۱-۱۹ مخ ).

د پورته څرګندونو په پای کې دې پايلې ته رسيږوچې آريا يـا اريـا د نجيـب نوميـالي ميلمـه پـال کرونکـي ، بزګـر ، ښـاغلي ، بـاتور ، او آريـا ورتـه اوسيدونکي ته ويل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۲آریانا ـ اریانا Āryānā (اوسنی افغانستان):

په دې کې هيڅ شک نه شته چې له باخترڅخه اريايانو په تدريج سره دهندوکش دواړو لورو ته خواره شول او د آريا دکلمې شتون د سيندونو ، ښارونو او ځينو قبايلو په نومونو کې هغه يادګار دی ، چې په دې ځمکه کې د دوی د خوارو ورو کيدو ثبوت ښيي او ددې کلمې يا نوم په ډېره پيمانه يادونه او کارونه په تاريخي اسنادو کې ددې خبرې ثبوت او دليل دی ، چې به خپله د تمرکز نظر له بل هر ځايه زموږ په هېواد کې ښيي.

د آريا د کلمې لرغوني ريښه چې په پورته ځينو کلمو کې وښودل شوه په خپل پخوانی څو زره کلن مفهوم او معنا سره له منځه نه ده تللې او ددې سيمې او هېواد دخلکو په دودونو او عنعناتو کې را پاتې ده. ( ودا يا ويدا ) د سانسکريټ هغه ژبه چې ويدي سرودونه او سندرې په هغې ويل شوي ځينې پوهان يې آريا يا آريايي باختري ) ژبه بولي چې د آريا جمع بڼه آريان کيده؛ چې آريا دنجيب او آريان نجيبان معنا درلوده. څرنګه چې آريان يعنې نجيبان د هندوکش دواړو خواوو ته ځايونه ونيول او استوګن شول. خپل هېواد يې په خپل نوم آريانا (د نجيبانو ټاټوبی ) ونوماوه او داکلمه په داسې بڼه منځ ته راغله چې د اريان د کلمې وروستي ( ن ) ته يې نسبتي زور (فتحه) ورکړه او آريان د ځای نوم (اسم مکان) په بڼه منځته راغی. چې دا زور ځينو په (هـ) او ځينو په الف بدلون ورکړ. ولې ددې له پاره چې د ګړدود (لهجې ) د آسانتيا له پاره کوم توپير چې منځ د جمع بڼې او ځای نوم کې دی، ليکنه يې دالف په بڼه ډېره ښه ده. چې دا هم هغه د آريانا کلمه ده ، چې د نجيبانو استوګنځي په معنا ده. دا نوم د آريايانو د خورو ورو کيدو وروسته زموږ هېواد ته کارولی شوی دی. او زموږد هېواد

(c) ketabton.com: The Digital Library

(افغانستان) تر ټولو لرغونی نوم دی. (۳۲:۳۲ مخ) په دې کې هېڅ شک نه شته چې د آریا استوګنځی معنا او مفهوم او د هندوکش دواړو لورو مستعدو خواوو ته يې نسبت د آريايي استقرار او ځای پر ځای کېدو ياد ګارونو څخه دي. مخکې له دې چې هر ځای ته دوی ولېږدېږي او عموميت پيدا کړي يو لړ ټوټو او قطعاتو د ځمکه کې لکه د آريا ورته آريا ورشه، آريان ويجه يا ايريان ويجه په بڼو کې راڅرګندە شوه او په پای کې پراخې سيمې او قلمرونه چې د پامير او هندوکش د سيندونو له بهير څخه خړوبيدل او د آريانا په نوم ونوموليې. په بله وينا دا نوم له دوو برخو څخه جوړ دی. چې يوه يې د آريا او ځانګړي نوم (اسم خاص) دی. هماغه څو زره کلن پخوانی نوم. چې آريايايي او ويدي قبايلو ځانته په ګډه توګه اينبوولی و. او بل هم د (نا) چې په حقيقت کې هم هغه (نون) مفتوح دی. چې داوستايي په زمانه او مهال کې د (ايريا) کلمې سره پيوست شو نسبتي معنا او مفهوم لري. وروسته وروسته په دې وزن او آهنګ ډېر نومونه رامنځته شول. لکه ساکستانا (د اسکايانو يا ساکانو استوګنځي)، زرانجيانا (د زرنجيانو استوګنځي)، بکتريانا (د باختريانو استوګنځی او داسې نور. د آريانا نوم د ډېرو پخوانيو ويدي او اوستايي دودونو څخه نه دی هيره شوې او زمونږ د خلکو او پرګنو پر خاطرو، سندرو او نورو تاريخي دودونو کې ساتل شوي دي. د لومړي ځل له پاره يوناني تاريخ پوه اراتوس تنس Eratosthenes د دې نوم يادونه کړې ده.(۱۷۵:۳۷مخ)[1] چې د عيسی ع له زيږون څخه مخکې د دريمې پيړۍ په لومړۍ نيمايي کې ژوند کاوه. چې دده د ليکنې اصل په لاس کې نه شته بلکې سترابو د يونان تاريخ او جغرافيه پوه (۲۰ مخزيږد تر ۱۹ م ز) د هغه له خولې د آريانا کلمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاده کړې ده ؛ سربیره په استربو ، بطلیموس ، پلیني ، کورتیوس Cortius اراتستنس Eratosthenes ( ۲۴۷-۱۹۲ مخزیږد ) اپودوروس ارتمیس Apolodorus opartemis د آریانا نوم یاد کړی دی. (۳۲: ۳۳ مخ) احمد علي کهزاد په خپل کتاب تاریخ افغانستان لومړي ټوک کې د استرابو په حواله لیکي .( باکتریانا یا باختر د آریانا مرغلرې او تر ټولو عمده ، مهم او لایتجزایي برخه ده. همدا رنګه په ۲۳ مخ کې له میلاد څخه او ۲۱ میلادي کلونوکې د یونان پوه سترابون د (اراتستنس ۲۹۲ -۲۴۷ مخزیږد ) په حواله لیکي. چې د آریانا لویدیځ لورته هغه کرښه پرته ده ، چې پارتیا Parthia له میدیا Media او کرمان Carmania له فارس څخه جلا کوي. (۴۱: ۱۷ مخ) غلام محمد غبار د خپلې یوې رسالې (افغانستان به یک نظر ) په څلوم او پنځم مخ کې د آریانا څلور خواوې داسې را پیژني. «ختیځ یې اباسین ، لویدیځ ته یې هغه کرښه چې د کرمان او پارتیا ولایتونه په افغانستان کې داخلوي، او فارس او میدیا له آریانا څخه بیلوي شمال لور ته یې د جیحون (آمو ) همدا راز سیحون (سیردریا ) ،او سهیل لور ته یې د هند سمندر شتون لري. د آریانا څلور خواوې سترابون: هندوکش د همالیا مستقیم امتداد او هند سمندر یې ورسره د آریانا سهیل ته ښودلي دي. پردې بنسټ آریانا د سهیل او شمال له لوري په همالیا او د هند په سمندر پورې محدوده وه، چې هند یې هم په محوطه کې دی سرحد یې اندوس (اباسین ) ګڼي .دآریایانو لویدیځې پولې مستقیماً د خزر له دروازو څخه دماغه جاسک سهیل ته رسیږي. د آریانا په شمال لویدیځ کې دخزر دروازې هرکانې او پارتي شامل دي. آریا ، مرګیانا ، او باکتریانا دیو بل ترڅنګ موازي پرتې دي. نوموړې، دماغه جاسک د مکران او کرمانیا په ګډون د آریانا د جنوب لویدیځه نقطه تائیدوي. سترابو په خپله جغرافیه کې ګدروزیا او اوریتونه هم یاد کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي ، چې د آريانا په سهيل کې له سنيد څخه تر کرمانه غزيدلي دي او د آريانا د قلمرو جز شمېرل کېږي. د اراتوستين دوينا له مخې د آريانا حدود هماغه دی ، چې پارتيا له ميديا او کرمانيا له پارسيه يعنې فارس څخه بيلوي. يعنې هماغه کرښه چې د خزر له دروازې يا د فيروزکوه له تنګي څخه غزيدلې او تر دماغه جاسک پورې محدوديږي. په داسې ډول چې پارتيا او کرمانيا د آريانا په خاوره کې داخليږي ، ميديا او فارس د آريانا له حدودو څخه دباندې دي ، سترابون د آريانا سور(عرض) له شمال څخه سهيل ته د اندوس (اباسين) په اوږوالي دولس زره تر ديارلس زره (۱۲۰۰۰-۱۳۰۰۰) ستاده او اوږوالی يې څوارلس زره(۱۴۰۰۰) ستاده چې يو پخوانی مقياس دی ګڼي. (۱: ۲۱ مخ). کيدای شي د آريايانو ليږديدنې او مهاجرتونه د دويمې مخزيږد پيړۍ په دويمې نيمايي کې په لاندې توګه شوي دي:

۱. دآريايانو لومړنۍ ډله د آريايانو نژادي ورونه يعنې دهند آريايانو چې په باختر کې تر يوې مودې اوسيدو وروسته اوسني هندوستان ته ور وکوچېدل او په يوه شنه او ښېرازه سيمه کې ميشت شول. دغه سيمه يې په خپل ملي نوم آريا ورته Arya varta د نجيبو او شريفو خلکو مېنه ، د آريايانو ټاټوبی ونوموله. د آريا کلمه په سانسکريټ ژبه کې د آريا آورته Ārya+āvarta په ترتيب سره راغلې لومړی جز يعنې (آريا )يې د اندو اروپايي دنامتو ټبرونو د يوه ټبر نوم او دويم جز (آورته ) يې په سانسکريټ کې د استوګنځي ، کور او هېواد په معنا دی. د آريايي لرغونوژبو (سانسکريټ او اوستا ) د ټوليزې (کلي ) قاعدې پربنسټ کله چې په مرکبو کلمو کې دوه مشابه توري يو ځای راشي يو يې حذفيږي. له همدې امله (آظيه ورته ) په آريه ورته Ārya+āvarta اوښتې ، چې معنا يې (د نجيبو او شريفو خلکو يا دآريايانو سپيڅلی ټاټوبی ) دی. د هند شمالي او مرکزي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیمو نوم آریا ورته و چې په سهیل کې د ویندهیا Vindhya د غرونو لړۍ او په شمال کې د همالیا د غرونو لړۍ ترمنځ ، او لویدیځ او ختیځ له لوري د ګنګاه او اباسین راجپوتا Rajputana(کوچ) catch او پنجاب ، سند ترمنځ پرته ده. د هند آریایانو چې د آریا ورته له نوم وروسته کوم نومونه خپلې خاورې ته ورکړي هغه بهاراته ، بهومي Bharatabhuni او بهارته ورشو Bharata varsha وو. ددې کلمې لومړۍ جز یا برخه چې بهارته دی. دا د یو داستاني ځواکمن پادشاه نوم چې د دوشنته Dushanta او ملکې شګونتالا Shukuntala زوی و. او په ټول هند واکمن و. بهومي کلمه نن ورځ په دري ژبه کې د مرزو بوم په نوم یادیږي. چې د ځمکې او خاورې معنا لري. او په اورمړي ژبه کې بومه Buma خاورې ته ویل کیږي ورشه د ورته او ښتې بڼه ده او په پښتو ژبه کې نن ورځ دا کلمه د شنې او ښیرازه سیمې ته کارونه لري. لکه ورشو چې د څړځای سره په یوه معنا کارول کیږي. بل نوم چې د هند آریایانو ته ورکړی شوی ، هغه د آریایانو له خوا و ، څرنګه چې آریایان د اباسین خاورې ته هند وایي. وروسته له دې کلمې سره د (ستان )برخه چې په اوستا او زړې فارسي کې ستان Stān دی یو ځای شوی. په سانسکریټ کې ستهانه Sthana کلمه چې آریایي د ستانه Sthana معادله ده موجوده ده. په هندي ژبو کې (بویه ) چې معادله یې سندهو – ستهانه Sindhu-sthana ویل شوې وای. د آریایي لیږدیدونو یا مهاجرینو بله ډله آریاني ځانګه وه. چې د دوی لومړنۍ جوپه د خپلې لومړنۍ ستې څخه لومړی (آریانا وېجه Airyana wēja ته راښکته شول. ورو ورو دآریاني سیمو په ټولو شپاړلس قطعو ځمکو کې چې د وندیداد Vīdaēva-dātā په لومړي فرګرد کې د فصل کې یې یادونه شوې ده. میشت شول. دغه ټاټوبي ته یې خپل ملي نوم ورکړ. اریانا

(c) ketabton.com: The Digital Library

Ariana یعنې د آریایانو خاوره. و نوموله د اوستا دمتونو له مخې دغه هریو هېواد په اهورامزدا ښه ښکلی او پاک پیدا کړ، خو بد ذاته شیطان دغه هریووه ته دښمنۍ او کینې له مخې زیان ورساو. د وندیداد د لومړي څپرکي د پیل په اوله اودویمې فقروکې د آریایانو دغه پخوانی د راښکته کیدو ځای داسې یاد شوی دی. (آهورا مزدا ، سپنته مان زردشت ته وویل ، که چیرې ما په هغه ځمکه باندې چې خوشحالي ښنونکې نه ده. ارامې او سوکالي نه وای پیدا کړې ، خامخا به د نړۍ خلکو آریانا ویجه ته مخه کړې وای. لومړنی ځای او کلی چې ما آهورا مزدا غوره پیدا کړ ، آریانا ویجه ده. د دایتي نیک (آموسین) پر غاړه وروسته دغلته د اهریمن یا شیطان د ضرر وزر وجنګاوه ، مار او سخت ژمی یې پیدا کړ. لس میاشتې دلته ژمی او دوه میاشتې اوړی او دا دوه میاشتې داوړي هم سړې دي د اوبو له پاره سړې دي. د خاورې له پاره سړې دي او د ګیا له پاره ، دلته د ژمي مرکز دی دغلته د ژمي زړه دی، کله چې ژمی تیر شي ډېر سیلابونه راځي. د آریانا ویجه ځمکه چې آمو سیند یې خروبوي د سیر سین یا سیحون او آمو سین جیحون ترمنځ او ښایي د آمو سین دواړو غاړو ته به هم واقع او شتون ولري؛ Harvard د پوهنتون استاد مایل ویستیل Michael witzel په خپله یوه مقاله(آریایانو هېواد ) تر سرلیک لاندې اوستایي ۱۲ کورنۍ سیمې په لاندې توګه را پیژني:

۱. آریانا ویجه( Airyana wēja )
۲. سغد (Suydjaya ) په سغدیانا کې( Sojdiana )
۳. مروه ، مرغاب( Nourv ) او (Marrow په Margyana ) کې
۴. بلخ ( Bacprina–Bāxdī )
۵. مینه( Nisāya )

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶. هرات Harōiva ( aria )

۷. کابلستان (Vaekr∂r∂la - Kabulistan

۸. اُرگون (urva )

۹. د کندهار (Xn∂nta ) (واژه نامه اوستا احسان بهرامي ۱۵۵۴ مخ)

۱۰. ارغنداب (Xaraxữiti )

۱۱. هلمند ( haētmant )

۱۲. دبدخشان راغ سمیه Raray(-(Rajay )

۱۳. چراخ ēaxra د لوگر خرخ ولسوالۍ

۱۴. وانه وزیرستان کې ( Var∂na )

۱۵. پنجاب ( haptahdndav )

۱۲. سیر دریا سیحون( Rarjyha )

د آریانا ویجه کلمه چې لومړنۍ برخه یې هم هغه آریانا ده د ارباب والا ، خپلواک ، آزاد ، مومن ،نجیب ، شریف ،ریښتني ، زړور او د ښاغلي په معنا او دویمه برخه یې آریاني او سنیو ژبو کې ترموږ نه ده را رسیدلې. زموږ د پخونیو نژادي ورونو په سانسکریټ بیجه bija یا ویجه Vaējah د تخم په معنا ده ، بیجه پورا Bijapura چې د انار په معنا دی لفظاً له تخم څخه ډک یا د ډېرو دانو درلودونکي ته وایي. پر دې بنسټ آریانا ویجه یعنې د آریاني پښت د تخم او اصل ټاټوبي معنا لري. آریانا د لرغوني آریاني د اریا arya د اضافي حالت د جمع بڼه ده. آریانا د لرغونو آریایانو د مېنې نوم دی. د لرغونپوهانو له خوا د مرکزي آسیا په اړه د ښکار پر بنسټ د ژوندانه ډول ډول نظامونه لیدل شوي دي. د سیمې خلک د ډول ډول خوځښتونو او مهاجرتونو په وړاندې واقع شوي دي. چې لومړنۍ د دریمې زیږدیزې زریزې په سرکې د اروپا په لور د همدې سیمې (مرکزي آسیا ) یوه


(c) ketabton.com: The Digital Library

ډله او سیدونکي د آمو سیند غاړو ته راښکته ، چې آمو سیند د طبیعي ټولنیزو او پوځي ګټورتیا له مخې د دغې ډلې مهاجرینو ته میتافیزیکي اړخ پیدا کړ او سپیڅلي شوي دي. د همدې سین په غاړو کرار کرار میشتید نه شوې او د وخت په تیریدو سره د آریایانو پراخه سیمه ګرځیدلې، چې آریانا نومول شوې ده. آریانا که له یوې خوا زمونږ د لرغوني هېواد پخوانی ویاړلې کلمه ده ، له بلې خوا زمونږ د هېواد د تاریخ د پیړیو په پوړیو کې اند تر دې دمه پورې دا نوم ژوندی دی. (۱:۲۰ مخ) نه یوازې دا چې دآریانا کلمه بلکې د آریانا اړوند د شپاړلسو سیمو کلمې په خپل اصلي یا ځینې په لږ بدله بڼه چې اصلي ریښه یې ساتل شوې ده تر او سه پورې په کلتوري ، فرهنګي ، جغرافیایي ، سیاسي ، اقتصادي ، ټولنیزو او پوهنیزو برخو کې ژوندی او په ورځنیو چارو کې کارول کېږي او وخت په وخت پر استوګنځایونو ، دولتي ودانیو ، عام او خاصو نومونو ، کارځایونو ، واټونو ، شرکتونو ، ښوونځیو ، ډلیزو رسنیو په هره برخه کې د وګړو په تخلصونو او نومونو په بڼه هم کارول شوي دي. چې ښې بیلګې یې د آریانا دایره المعارف ټولنه د آریانا افغان هوایي شرکت ، اراکوزیا راډیو ، آریانا ښارګوټی ،آریانا مېنه ، آریانا هوټل ،آریانا ترانسپورتي شرکت، آریانا مجله ، آریانا تلویزیون ، آریانا څلورلارې ، آریانا پوهنتون ، آرین ، آروین ، آریا ، آرین زی او داسې نور نومونه چې تر اوسه زمونږ په بډای کلتور او فرهنګ کې ځای لري.

په پای کې په لنډه توګه ویلی شو چې ؛ آریانا مفهوم او معنا د لرغونو آریایانو د ټاټوبي ، استوګنځي ، مېنې ، سمیه او هېواد مفهوم لري. د آریانا د کلمې د سیمیز مفهوم د لا روښانتیا له پاره د لرغوني آریانا نقشه او دسترابون د نړۍ په نقشه کې د آریاناهېواد په لاندې توګه د کاغذ پرمخ راوړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لرغوني آريانا نقشه





( د اريانا موقعيت د سترابون په نقشه کې )

۱- شکل

(H.L.F : ٤٧)

٤٧



۲- شکل

(H.L.F : ٤٧)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۳آريايي(Aryaei ):

آريايي هغه اصطلاح ده چې په بيلا بيلو معناوو کارول شوې ده ؛
« آريايان هغه څوک دي چې په آريايي ژبه خبرې کوي پر دې اساس نو د دوی حال، رنګ ، پوست، وينه او له هر پښتنه چې وي توپير نه لري. يوازې او يوازې په دې تعريف کې مقصد او منظور ژبه او پرته دژبې له مخې بل څه په پام کې نه دي نيول شوي.»(۳:۱۳ مخ) آريايي ، آرين يا اريک ژبه د ژبپوهنې له نظره هغه ژبه ده چې اندواروپايي کورنۍ د اندواريانې له څانګې څخه شمېرل کېږي. آريا Ārya په اوستا airya لرغونې فارسي کې ariya ، سانسکرېټ arya هغه نوم دی چې د آرياني او هندي شمالي هند خلکو (هغه کسان چې په اندوآرياني ژبه خبرې کولې ). ټبرونو يا قومونو ګډو نيکونو ځانونه پرې معرفي کول او هغه يې د اصيلو ، شريفو ، خپلواکو او ډېر نجيب په معنا بلل دي.هر څوک چې د آريا په اصل و قوم و نژاد وي. يا ورسره تړلی وي. آريايي ، آرين يا آريان نوموي. هغه اندو اروپايي قوم چې په ډېر لرغوني پير کې يو ځای ژوند سره کاوه ، چې وروسته په دوه څانګو وويشل شول. يوه څانګه هند او بله يې آريانا ته راغله. پوهانوآريايي کلمه په ځانګړې توګه ټولو اندو اروپايي يا اندو ګرمانيک ژبو په توګه چې پيژندل شوې کارولې ده. همدارنګه يې د ټولو هغو خلکو له پاره چې په پورته يادو ژبو يې خبرې کولې. د آريايانو اصطلاح کارولې ده. مګر په دې وروستيو کې د هر اړخيزو پوهنيزو څېړنو وروسته دې پايلې ته ورسيدل چې ؛ آريايان Āryansد اندو اروپايي ختيځه څانګه ده ؛ چې په اريک (آريايي ) ژبه خبرې کوي. يعنې نن ورځ غالباً د آريا کلمه د اندو آريايي ، آرياني ، نورستاني او داردي پښت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل کېږي او د دې تېرونو د ژبو څانګې ته آریایي وايي. د آریا کلمه په ویدا سانسکرېټ کې د ښاغلي ، محترم مکرم ، مومن ، وفادار او د آریا ورته او سیدونکو په مفهوم راغلې دی. د آریا کلمه د لرغونو آریاني ژبو د هغو له ډلې څخه په اوستا کې په لاندې ترتیب سره یاده شوې ده: په لومړي وندیداد فرګرد کې آریانا ویج Airyana vaējah ( دآریاني پښت تاټوبی ) د مهریشت په ۱۳ او ۱۴ برخه کې مروه ، هرات ، سغد او خوارزم ، آریوشیانه Airyoshayana ( د آریایانو ځاله یا کور ) یاد شوي، د فروردین یشت په ۳۱ برخه کې ایریاوه airyava چې لفظاً د آریایانو د مرسته کوونکي په معنا دی، چې د منوش چهره Manush chitra د کورنۍ نوم دی یاد شوی دی.آریا کلمه خشاثره Xšatθra په ترتیب دحکومت ، دولت او هېواد معنا لري. airyanamxšaθra د آریایي استوګنځي او ښار چې وروسته بیا په پهلوي ژبه کې ایران شار eranshar شوی دی. د آریا کلمه dahya یعنې لس سیمې کلمې په ترتیب سره aryanamdahyunam د آریایانو کلي او باندې او تاټوبي ، دخوارینا ẋar∂anah د کلمې په ترکیب سره aryanam ẋar∂anah نومیالي مخکښ په معنا .

د یوناني تاریخ پوهانو په لیکنو کې د آریا او آریایي خبرو سره له آریانا څخه د ډېرو نامیالیو له نومونو سره مخ کیږو . چې د آریا له کلمې سره ترکیب شوي دي. یوناني: airabazos، آریاني : ariabazu هغه څوک چې د آریاني مټ او ځواک څخه برخمن وي. یوناني : ariazatos ، آریاني : ariazantu د مادانو یا میدیانو د یوې قبیلې نوم.یوناني: ariasai, آریاني ariaspa: (د آریایي اسونو لرونکی ) د هغې قبیلې نوم دی چې ؛ دهلمند د سین دواړو غاړو ته استوګن وو.یوناني : arikai ،آریاني : aryaka

(c) ketabton.com: The Digital Library

(آریایان) ، د سیردریا د غاړو ښاري قومونه ، یوناني: arya piasus ، آریاني: arya-paisa د آریایي جامو او ګاڼو لرونکي. د آریان Aryan نوم په آسي (آستي) په آلان Ālān بدل شو. چې د هم هغه آستي ټبر نوم آلان و. او آلان په لرغوني یونان کې aλavoī دی.د آریا اصطلاح اندو اروپایي ، اندو آریایي د (ار) د فعلي ریښې څخه ترکیب شوې چې د اندو آریایي ار ننبسې او روستاړی دی. په ټولیزه توګه دا روستاړی چې فعلي ریښې ته متصل شي له هغه څخه نوم یا ستاینوم جوړوي. دا سې شواهد شته چې د ya روستاړی د آریا په کلمه کې د صفت جوړوني کارونه لري. یعنې ستاینوم چې د نوم ځای یې نیولی دی. دآریا ، آرین ، آریانا ، آریاني Āryāni ، آریو Ārio آري Ārii او آلان غوندې اصطلاوې له یوې سټې څخه دي. چې د آریک څخه اشتقاق او رامنځته شوي دي. آریک یا آري په خپل وار سره له var فعلي ریښې (نجیب) او د ya روستاړی جوړ شوی دی. د آریا کلمه د اوستا په متونو کې Āirya په سانسکریټ Ārya همدا راز په لرغوني فرس په لرغوني یوناني arioi د باختري ژبې د رباطک په کتیبه ، منځنۍ فارسي ، تاجیکي ، دري او پارسي ژبو کې یاده شوې ده. (۴۱۳:۵ مخونه)

په پایله کې ویلی شو چې آریایي هغو خلکو ته هغه شخص یا خلکو ته ویل کېږي چې د آریا له پښته او آریایي اړوندو ژبو خبرې کوي آریایي ګڼل کېږي او دغه کلمه د آریا ، او آریانا د کلمو نسبتي ستاینوم دی.

## ۱-۴آریاني (Ariani ):

د تاریخ په اوږدو کې په علمي او څېړنیزو غونډو کې په وار وار دا پوښتنه راپورته شوې ده ، چې آیا د آریانا کلمې له پاره په ننیو ګړدودونو(لهجو) او تعبیرونو کوم ستاینوم کولای شو ؛ جوړ کړو چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

آریانا د ټولو اوسیدونکو او دهغوی د مدنیت او نورو بیلابیلو مادي او معنوي امتیازاتو له پاره پرته له کومې استثنا وکارول شي. زما په اند دکوم صفت او بل څیز جوړونې ته به اړتیا نه وي. څرنګه چې مخکې مو د دې لیکنې په بیلابیلو سرلیکونو کې تشریح او سپړنه وکړه. په دې کې هېڅ شک نه شته چې د آریانا نوم د آریا څخه جوړ او منځ ته راغلی دی؛ یعنې لومړی د ټبر نوم او بیا دهغوی د استوګنځي نوم منځ ته راغلی دی. (آریا + نا = آریانا ) مګر څرنګه چې آریا لرغونی مفهوم لري او هغه پخوانی مهال او زمان را نغاړي چې ټولو آریایان ، هندیان او پارسیان هلته یوځای وو. پردې بنسټ دا کلمه باید په خپل ځای د هم هغه وخت اړوندو څیزونو او ارزښتونو له پاره په خپل ځای پاتې شي او پاتې ده. د آریانا له کلمې څخه داسې یو صفت را مځته کړو چې اوسنی آریانا د ټولو سیمو له پاره متوازن صفت او نومونه وي. هغه صفت چې د آریانا له نوم څخه جوړ شوی وي. هغه په طبیعي توګه آریاني Ariani دی. ولې ژر باید دا یادونه وکړو چې دا صفت موږ اوس نه جوړ وو بلکې د وخت په تیریدو سره جوړ او کاریدلی دی. چې دلته یې د بیلګې په توګه د (بیلیو ) یادونه کوو: چې د خپل اثر په لومړی پانه (تجسسات نژادي در افغانستان ) کې دا صفت په طبیعي او مطلوبه بڼه یعنې (Ariani ) کارولی دی. (۱۱۷:۳۸ مخ) همدا رنګه اکادمیسین داکتر عبدالاحد جاوید (د اوستا نومي اثر ۱۹۹۹ م )کې د اراتوستین او سترابون په حواله لیکي: «آریانا او سیدونکو ته د اریاني ها نوم Arianiens ویل شوي دي. (۱۹:۲۴ مخ) همدا رنګه سر څیړونکي داکتر خلیل الله اومړ په خپله یوه مقاله او لیکنه کې چې د (آریاني Āryani ژبې) تر سرلیک لاندې لیکلي: آریاني ژبې په پراخه سیمه کې چې د سهیل له خوا د فارس خلیج او عمان سین د لویدځ له لوري بین النهرین ، شمال له خوا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

قفقاز غرونو او دمرکزي آسیا دښتې محدودوي او په ختیځ کې د ژبو ټول افغانستان او د پامیر ځینې لوړې برخې د اباسین تر خولې پورې نیولې دي. (۹:-۱۳۳مخ) په پای کې یوې بلې د پام وړ مسئلې ته غوا ړم اشاره وکړم چې ؛ د فارس یا اوسني ایران هېواد د نومولو په اړه د لویې یا سترې آریانا د پراخې سیمې او ساحې اړوند تاریخ او ژبو ته نغوته کوم. د اوسني ایران نوم د شپږمې مخزیږد پیړۍ په نیمایي کې پارس Persian و او په **۱۹۳۵** م کال یې د ایران په نامه ونوماوه. د پارس ځینې وګړي آریایي نژاده دي. د پارس نومونه په ایران یا د ایران په نوم د آریانا اړوند ټولې قضایاوې د بیلګې په توګه فرهنګي ، تاریخي ، کلتوري مسایل او د ژبې مسئلې له ستونزو سره مخ کړي دي، د آریایانو قلمرو او پولې او آریاني ژبې د اوسني ایران او پروني پارس د آریانا په مقابل کې له محدودو او وړو سیاسي پولو ، سرحدونو او محدودو څخه خورا ډېرې پراخې او لرې ځي. د ایران صفت یا ستاینوم فني او ژبپوهنیزه معنا ایراني له دې متداولې یا دودیزې معنا سره چندان سمون او مطابقت نه لري ؛چې دا ابهام او سوتفاهم چې د آریانا یا د تاریخ ارزښتونو ، ویاړونو ، ژبو ، ژبپوهنو او فلالوژیکي نومونو د (ایراني) په نوم کارونه په قطعي توګه د ستونزو سبب ګرځي. چې ددې ستونزو د لرې کولو له پاره د لویدیځې نړۍ پوهانو هم خپله پاملرنه را اړولې ده او یو شمېر بیلابیلې نومونې یې وړاندې کړي دي. چې تر اوسه منل شوي نه دي. په دې وروستیو کې افغان پوهانو لکه پوهاند عبدالحی حبیبي ، داکتر غلام جیلاني داوري ، پوهاند محمد رحیم الهام او نورو چې د دغو پوهانو یادونه به د بیلګې په توګه زموږ د ادعا په ثبوت کې کافي وي.دوی په دې برخه کې پر ځای او له هوښیارۍ څخه ډک ګامونه پورته کړل چې د فرهنګي ، کلتوري ، تاریخي او ژبنیو مسایلو کې د ایراني

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوم پر ځای د پخوانی ریښې پر بنسټ د آریاني نوم وکاراوه. د آریانا ، آرین او آریا نوم دا امتیاز او ارزښت لري چې هم د آریانا او آریا نوم وساتي او هم په عین وخت کې د اوسني ایران څخه خورا ستر ، پراخ قلمرو او د پخوانی آریانا سیمې په برکې نیسي. (۵-۱:۱۳ مخونه) لنډه دا چې آریاني اصطلا د زړې ریښې پر بنسټ د پخوانی آریانا د نوم دژوندي ساتلو او د پروني پارس او اوسني ایران له وړوکې سیاسیجغرافیایې د انحصار (د آریانا د ټولو امتیازاتو او ارزښونو ) څخه د ژغورلو او د (باختري، پرسیک ) ژبو دډلوله پاره د مناسب نوم او پر ځای اصطلاح کارونه ده.

## ۱-۵ ژبه:

په خوله کې دژبې دوضعي او بڼې پراخه اغېزه په وینا کې دډول ډول غږونو په رامنځته کولو کې دخالت او د خبرو په جوړولو کې ددې غړي عمده برخه اخستنه ددې لامل شوی دی، چې دبشري اړیکو دامهمه وسیله دژبې په نوم یاده شي.

ژبه هغه انساني ځانګړنه ده، چې د انسان له پیدا ایښت سره سم منځته راغلې، او د اساني کلتور ترټولو لوی او خورا ستر ارزښت ګڼل کېږي. (۹:۴۲مخ)

دژبې پوهانو او څېړونکو د تاریخ په اوږدو کې ستري څېړنې او ګړوېږنې کړې دي بېلابېل اندونه او نظریات یې ورکړي چې دهمدې نظریاتو په رڼا کې دژبې د پېژندلو موضوع ښه څرګنده او ښکاره ده په ټولیزه توګه ژبه د نړۍ ژبپوهانو په دوه اصطلاوو کارولې ده.

۱- Tongue چې په ډېری ټولنو او هېوادونو کې هغې یوې ټوټې غوښې ته چې په خوله کې شتون لري او د خوند ،مزې، ډوډۍ خوړلو او دژولو خبرې کولو لپاره ترې کار اخستل کېږي. ولې په ځینو ټولنو او هېوادونو کې همدا اصطلاح د پوهولو اورا پوهولو ژبې ته هم کارول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲-اصطلاح ژبه Language: دلومړني انسان یعنې آدم (ع) څخه را وروسته د تاریخي شواهدو پربنسټ له ډېرو پخوا وختونو څخه را پدېخوا انسان په ټولنیزه توګه ژوند کړی او دژوندانه داړتیاووا و خپلو غوښتنو دپوره کولو لـه پاره یې بـه بېلابېلو وسیلو څخه کار اخیستی چې ترټولو مهمه وسیله ژبه ګڼل کېږي.ژبه یا Language کاندید اکاډمیسن پوهاند محمد رحیم الهام داسې تعریف کړې ده: ژبه دغږیزو سمبولونو داسې یو اکتسابي او میثاقي سیستم دی چې دټولنې وګړي یې له یوبل سره دمفاهمې له پاره کاروي.(۱۲:۷مخ)

دالهام په اند د سیستم اصطلاح ددې له پاره کارېدلې چې ژبه ځانګړی جوړښتي نظام لري او دانظام دژبې دجوړښت په هر پړاوکې شتون لري.دڅېړنې داسانتیا په موخه دژبې دجوړښت پړاوونه،دغږیزجوړښت په نظام کې دګړیز(صرفي )جوړښت په نظام کې اوغونډلیز(نحوي ) جوړښت په نظام کې باید ووېل شي همدارنګه دسمبول ،نښویادونه په هغونښوباندې اطلاق کېږي چې پرڅه شي دلالت وکړي.خو (دال ) او(مدلول ) ترمنځ اړیکه وضعي اومیثاقي وي.دژبې رمزي نښې اوعلامې یعنې کلمې اونور معنالرونکي توکي له دې امله سمبولونه کارول کېږي چې هریوېې دداسې (دال ) حیثیت لري چې په خپل (مدلول ) باندې وضعي اومیثاقي توګه دلالت کوي.په عین حال کې دژبې دا نښانې ټولې غږیزې دي اوپه پورتني تعریف کې دا قید راپه ګوته چې دپوهولو اورا پوهولو(مفاهمې ) دوسایلوډولونه لکه (ایمایي ژبه ) gesture Language،(علامه یي ژبه ) Sign Language او د (لیک ژبه )written Language دپورته تعریف دمعرفۍ له ساحې څخه دباندې دي.(۲۲۸:۴مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې توګه ژبه په ټولنيز چاپېريال کې ټولنيز اصل دی. په دې معنا چې د يوې ټولنې وګړويو له بل سره د خپلو موخو، خيالاتو، غوښتنو او اړتياوو د پوره کولو، شريکولو او نورو اړيکو د ټينګولو له پاره د ژبې څخه کار اخستل کېږي او د ټولنيزو شرايطو پر بنسټ د هغې توکي په خپل منځ کې د غږيزو سمبولونو او ميثاقي بڼو په ډولو سره برابر کړي او کاروي يې.ژبه نه يوازې دا چې د انسانانو ترمنځ د اړيکو وسيله ده ؛بلکې د نورو ټولنيزو بنسټونو (کلتوري، پوهنيزو ،اقتصادي، سياسي...) پايه هم ده او د خپلو ټولنيزو ځانګړتياوو په دليل د ټولنو له اختلاف سره سمه مختلفه ده.يا په بله وينا سره له دې چې دا اصل په ټولو بشري ټولنو کې شتون لري دنده او ونډه يې په ټولو ځايونو کې يو شان ده خو بڼه يې په ټولو ټولنو کې په يوه څېرنه ده او د عمل او کارونې لارې چارې يې د يوې ټولنې له بلې هغې سره توپير لري.په داسې حال کې چې د ژبې هره بڼه د يوې ټاکلې ټولنې د وګړو ترمنځ د اړيکو او پوهاوي دنده ترسره کوي.دا خبره ټولو ته څرګنده ده چې ژبې د بشري اړيکو تر ټولو مهمې وسيلې دي او ترڅو پورې چې د وګړو ،ټولنو ،ټبرونو ،قبيلو ،ولسونو او ملتونو ترمنځ د اړيکو وسيله وي ژوندۍ ژبه ګڼل کېږي.کومو ژبو چې په هر دليل په يوه تاريخي دوره کې پورته يا د نقش له لاسه ورکړی هغو ژبو ته مړې او لرغونې ژبې ويل کېږي.(ژبه د صوتي علايمو او سمبولو داسې يو اختياري ،شفاهي سيستم دی ،چې د هغه په واسطه د يوې ټولنې غړي په خپل ثقافت کې د ننه يو بل سره مفاهمه کوي) (ډاکټر هربرت د پنزل ګرامر)

بلاک او ټراګر ژبه داسې تعريفوي:ژبه له غږيزو سمبولونو څخه يو داسې جوړشوی سيستم دی چې يو ټولنيز ګروپ د هغې په واسطه له يو بل سه مرسته او همکاري کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبه فقط دبنیادم دخولې وتې هغه صوتي اشکالوته وايي چې دی پرې دخپلو خیالاتو اظهاربل بنیادم ته کوي.

ژبه چې په عربي يې لسان یا لغت بولي اوله یوناني (لوغوس) څخه به جوړه شوې وي چې معنا يې کلمه ده اوپه اروپايي اصطلاح يې Languageبولي هغه رغونه دي ،چې ددغو په وسیله هر اولس دخپلو مقاصدو تعبیرکوي یا هغه اصطلاحي وینا وې دي،چې دیوه قوم پرژبه جاري وي.(۲۲:۲۲مخ)

ژبه په ټولنیز چاپېریال کې دپوهولواوراپوهولو وسیله ده او ترټولو مهمه دنده يې پوهاوی دی. دپورته یادونوڅخه داسې تحلیل کېدلای شي،چې ژبه په ټولوټولنیزوبهیرونواوپه هغوپورې اړونده برخوکې مخامخ اوغیر مستقیمه توګه ورګډه ده،هېڅ یوه داسې پروسه نشته چې پرته له ژبې او یوازې پرمخ ولاړه شي.دژبپوهنې یوه پوه اوڅېړونکي (ېبنګ هاوزEbbomghaus ) دژبې په اړه داسې ویلي:ژبه په یوه رسم او رواج کې دنښونښانویوه سیستم ټولګه ده او دغه نښې نښانې په هروخت کې تولیدېدای او منځته راتلای شي.(۲۳:۳۲مخ)

دژبې دپیدا ېښت په اړه بېلابېل نظرات شتون لري ،چې دټولو راوړل ناشوني دي ،یوازې دوه نظرونه را اخلم:ځینې په دې اند دي چې انسان پنځلس سوه زره کاله دځمکې پرمخ پرته له ژبې اوکلتورڅخه ژوند کړی اولس لکه کاله مخکې له نن څخه دژبې کارونه يې پیل کړې ده .

ولې مقابل نظریات یې چې زما په اند ځواکمن اوپرمعتبرودلایلو او اسنادوولاړدي هغه دادي:چې ژبه دانسان دپیدا ېښت سره سم منځ ته راغلې ځکه چې دانسان بې له شلېدونکې اومهمه ځانګړتیا ده .(۵:۱۸۲مخ)

همدا راز په دې اړه قرآن عظیم الشان صریح او ښکاره معلومات وړاندې کوي:(وعلم آدم الاسماء کلها )(سوره بقره لومړۍ سپاره ۳۱ آيات ) ژباړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

او الله (ج) ور وښوول آدم (ع) ټول نومونه.(۳۰-۹۲مخ) چې د نومونو ټولګې څخه ژبه رامنځته کېږي. همدارنګه بل ځای فرمايي:(خلق الانسان علمه البيان) (۲۷سپاره ،الرحمن سوره،۲آيت)ژباړه – پيدا مې که انسان او دبيان او وينا پوهه مې ورکړه.چې د دې آيات له مخې ثابتېږي چې د انسان له پيدا ايښت سره سم ژبه هم منځته راغلې ده .دژبې په اړه د پورته ټولو تعريفونو او اندونو په پای کې بايد وو ايم چې که څه هم ژبې دلومړني انسان يعنې آدم(ع) څخه را وروسته د تاريخ په بهير کې بېلابېل پړاوونه او ډولونه تېر کړي دي؛ترڅو دې حد او موقف ته را رسېدلې ده ، نو زه به هڅه وکړم داوسنيو حالاتو او نظرياتو سره سم يوڅه ناڅه وروستی تعريف ورته ورکړم. ژبه ديو لړ معنا لرونکو ويېزو او اوريېزو غږونو يو داسې سيستماتيکه ټولګه ده ،چې انسانان خپل اندونه ، خيالات، افکار، عاطفې، احساسات، پوهې، تجربې، غوښتنې او هراړخيزې اړيکې دهغې په وسيله يو تر بله لېږدوي.دژبې وړتيا او استعداد د انسان له پاره طبعي او فطري ځانګړنه ده او په ټولنيز چاپېريال کې ژبه يوه ټولنيزه ، اکتسابي،ميثاقي او قراردادي پديده ګڼل کېږي.دژبې دجوړښت په اړه پوهانو بېلابېل نظريات وړاندې کړي دي چې دهغو له ډلې څخه يوڅو نظريات راوړو.ژبپوهان په لومړي سرکې ژبې په دوه کټګوريو وېشي.

۱ مصنوعي ژبېLanguage Arficial : هغه ژبې چې ديوه ځانګړي ميلي اونړيوالو موخوته د رسېدو له پاره د طبعي ژبې په مرسته رامنځته شوي دي لکه:رياضيکي، کيمياوي، کمپيوټري...ګډ سبمولونهټاکلي دي.

- طبعي ژبه Natur Liche spreche:طبعي ژبې څخه موخه انساني ژبه ده چې انسانان يې د پوهولو او را پوهولو له پاره په ليکلي اوناليکلي بڼه په خپلو منځو کې کاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۲فلالوژي (Philology):

مخکې له دې چې د فلالوژۍ یا فقه اللغې په اړه هر اړخیز بحث وکړو ؛ دا باید ووایم چې فلالوژي د ټولو هغو پوهو او علومو څرګندونکې ده ؛ کوم چې د یوه تېر یا قومونو دیوې ډلې ژبه څېړي او هغه ټولیز کلتور او ادبي آثار چې دهغې ژبې یا ژبو د وګړو په وسیله رامنځته شوي ارزوي. سره له دې چې اوس ژبنیو پوهنو او څېړنو ډګر دومره پراخ شوی چې د پوهنو بیلابیلې برخې د یو بل په مرسته د بشپړې څېړنې او سپړنې لاره هواره کړې . بیا هم د علام رشاد اکادمۍ د څېړونکي شیرشاه رشاد په اند ، لغت پوهنه (فقه اللغه) د ژبنیو څېړنو هغه بشړونکې څانګه ده ، که لغوي څېړنې په ډېره دقیقه او ژوره توګه تر سره شي د ژبو ویش او دهغو ترمنځ د اړیکو په پلټنه کې ښه پوره مرسته کولای شي.

همدارنګه استاد پوهاند عبدالحی حبیبي وایي: « په ژبنیو څېړنو کې د ژبو د پرتلیزې پلټنې بحثونه خوارا مهم دي او د دغو پلټنو په مرسته موږ کولای سو؛ ډېر ادبي او تاریخي حقایق څرګند کړو او د یوه محیط د ژبو او لهجو تاریخي اړیکې او خپلوۍ ځانته معلومې کاندو.» (۱:۳۲ مخ) فلالوژي یوناني کلمه ده چې ژباړه یې عربي ته فقه اللغه کېږي.چې د فکر کولو بحث او وینا سره ددوستۍ په معنا راغلې ده. خپله (فیلوس) یوناني کلمه ده ، ( دوست) او لوګوس ( فکرکولو ،بحث او کلمه ) معنا لري. تر هغه مهاله چې په لرغوني یونان کې پخواني علوم سره بېل شوي نه وو. دا کلمه رامنځته شوې ، پرته له دې چې دعلمي فعالیتونو څانګه یې په پام کې ونیول شي ،ټولو علمي شخصیتونو ته فیلولوګ (د پوهې او وینا خاوند ) ویل کیده. (۹:۱۴ مخ) روسته روسته بیا د علومو د تراکم او ډېروالي پرمختګ او اړتیا له مخې د بیلوالي او ځانګړېتوب په پایله کې د فلالوژي مفهوم او مضمون

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم بدلون وموند.دا چې په منځنيو پيړيو او د رنسانس دوره کې د لرغونې دورې د ليکوالو ليکنې د فلالوژي د پوهانو اصلي ماخذونه وو ، نو له دې کلمې نه هم د هغې پوهې استنباط وشو ، چې د لرغونو ادبي آثارو په تفسير څېړنه او مطالعه بسنه کوي.
د يادوشوو مستلزمو او اړينوآثارو څېړنه د هغو ژبو چې دا آثار پرې ليکل شوي او دهغوی د پيدا ښت د مهال د فرهنګي او تاريخي وضعې څېړنه و. په دې ټولو سربيره د وخت په تيريدو د فلالوژي يا فقه اللغې اصطلاح د هغې پوهې له پاره وکارول شوه چې په راپاتې ليکنو او آثارو کې يې د هغې يا دغې قبيلې او ټبر کلتور او فرهنګ څېړي. ورو ورو چې دخلکو ترمنځ د او سني صنعتي پير او پړاوو اړيکې پراخې شوې په اروپا کې څو ملي دولتونه رامنځ ته شول ، نو د ژونديو ملي ژبو د راسپړنې او څيړنې اړتيا پيدا شوه.همدا مهال د ختيځو ژبو (ترکي ژبې – له ۱۵ زيږديزې پيړۍ راهيسې ، آريايي ژبې –له ۱۲ سپاړلسمې زيږديزې پيړۍ راهيسې همدا راز فنلاندي ، قفقازي ، يغنوري د لرې ختيځ اونورې ژبې.... ) اړونده لومړنۍ شرحه تاليف شوه.همدا رنګه د (تطبيقي ګړدودونو او ژبو ويي پانګه )په نامه د روسيې پوه :س.پلاس تاليف چې د ۱۸ پيړۍ په پای کې په پترزبورک کې خپور شو ،د نړۍ د ۲۷۲ ژبو وييونه او لغات لري. همدا راز د نولسمې پيړۍ متنونو د لرغونو او ژونديو ژبو د بر هغه آثار د پوهانو په واک کې ورکړل چې پخوا تر دې ترينه نا خبره وو او د اړتيا له مخې د مطالبو د تراکم او پاړسوب له امله د فلالوژۍ پوهه يې هم په څو څانګو وويشله. د بيلګې په توګه: سلاوي ، آريايي او روماني فلالوژي چې د نولسمې پيړۍ په پيل کې بيلې شوې او د لرغوني پېرد ليکنو او ليکوالو دمتونو او ليکنو د تفسير ، تعبير او لوستنې حواله يې په پخوانۍ يا په اصطلاح

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلاسیکي فلالوژۍ ورکړه.په دې توګه اوس په دوديز ډول سره فلالوژي کلمه د ټولو هغو علومو ، پوهنو ، بيانونکې ده ؛ چې د يوه قوم او يا قومونو د يوې ډلې ژبه څېړي او هغه فرهنګي (عام کلتور او ادبي آثار ) چې د هغې ژبې يا ژبو د ويونکو وګړو په وسيله رامنځته شوي ارزوي.

## ۱-۷د فلالوژي څېړنو موخې او دندې:

د ټولنيزې او پيښليکي (تاريخي )ودې په بيلابيلو پړاوونو کې د يوه ټبر يا قومونو ليکلي آثار دي. له دې امله فلالوژي د کلتوري تاريخ او تاريخي پوهنو له ټول څانګو سره چې غالباً د تاريخ او فلالوژۍ څانګه ترسرليک لاندې سره يوځای کېږي نيږدې اړيکې لري. د فلالوژۍ او تاريخ ترمنځ دنږدې اړيکو لامل دادی چې فرهنګي او تاريخي څېړنې تر ډېره بريده د ليکلو آثارو ، متنونو او سرچينو په څېړنې پورې اړه لري. هر څومره چې دا څېړنې د ليکنو آثارو تجزيه ، شننه او په تحليل ولاړې وي. هغومره يې فلالوژيکي اړخ څواکمن وي. له بله پلوه فلالوژيکي څېړنې په ځانګړې معنا يعنې ددغه يا هغه قوم د ژبې او ادبي آثارو ارزونه د ټولنې د ژوند د تاريخي شرايطو د څېړنې وړ ژبې او ادبياتو په نظر کې نيولو سره ناشونې ده. ادبپوهنيز او ژبپوهنيز مصالح يو ډول دي يعنې کلمه ، هغه کلمه چې په غږ اداء شي يا ثبت شي يا متن خو د ژبپوهنې موضوع ژبه او د ادبپوهنې سکالو ادبي آثار ،دوه بيلابيل څيزونه دي. ادبي آثار چې د کلتوري تاريخ يو اړين توکی دی. په عقيدوي او فکري ښکاره جوړښت ، روبينا پورې اړه لري. خو کلتوري بهير بيا په هغه ټولنې کې د تکامل سير د تولنيزو قوانينو تابع دی. ژبه يوه ځانګړې ټولنيزه پديده ده ، چې په فکر او ظاهري عقيدوي جوړښت پورې اړه نه لري. د تکامل بهير يې د نورو قوانينو تابع دی. له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

املـه کـه هغـه ځـانګې چې ژبـه يې موضـوع ده لـه هغـو ځانګو سـره چې ادبـي پنځونه يې موضوع ده يو ځای کړو له خورا ستونزو سره به مخامخ شو.(۱۴: ۱۰ مخ) د ادبپـوهنې موضـوع ادب او ادبـي فکـري آثـار دي او ژبپـوهنې موضـوع يعني ژبه ،چې دوه سره بيل ځيزونـه دي. ادبي اثـار چې دکلتـوري تـاريخ يـو مهم توک دی ، ديوه ملت فکري او عقيدتي روبنا پورې تړاو لري ، تـاريخي او ادبي بهير يې د يـوې ټولنې عقيـدوي او فکـري دټـوليز تکـاملي سير د قوانينو تـابع ده. خو ژبپوهنـه يـا ژبـه پـه ټولنيز چاپېريـال کې يـوه ځـانګړې ټولنيزه ښـکارنده ده ؛ چـې فکـري او عقيـدتي روبنـا پـورې اړه نـه لـري او پرمختيايي بهير يې د نورو قوانينو(ژبپوهنيزو ) تابع ده. (۱۳: ۴۳ مخ) له دې سره سـره فلالـوژي چـې څـو اړخيـزه ، پيچلـې او واحـده راڅرګنـده ده ،ځکـه لـه پخوانيـو وختونـو څخـه علمـي دود او دسـتور پـه دې بنسـټ ولاړه وه. هغـه ډېرې تجزيـې او ويشـنې چې ددې پـوهې پـه زده کـړه کـې ترسـره شوې ددې پوهې شتون د پام وړ ګرځوي. او دا چې د ژبپـوه او ادبپـوه د څېړنـې مطالـب يـو دي. هم د فلالـوژي زده کـړه د يـوې ځـانګړې پـوهې پـه ډول غـوره کـوي ، دبيلګـې پـه توګـه سـره لـه دې چـې ادبپـوه اوژبپـوه د څېړنـې پـه کـړنلاره (طرزالعمل ) کې ډېر توپير شتون لري او هغـه ژور تـوپير دی چـې ادبپـوهنې پـه کاري اسلوب کې له يوه او دژبپوهنې پـه هغـې کـې لـه بلـه پلـوه تـر سـترګو کېږي بيا هم دا دواړه پوهې له يو بل سره نه شليدونکی تړاو لري. ځکه چې د دواړو د څېړنې مواد هـم يـو ډول دي او دواړه د ليکنـو آثـارو او متنونـو سـره سروکار لري.

هغه لرغونې لوحې چې په ډېرو کنبل شوي ، د منځنيو پيړيو خطي نسـخې ، د پهلوانۍ حماسې ،عاميانه افسانې او معاصر هنري آثـار ټـول د کـلام پـه مرسته بيان شوي دي.او نه يوازې د ليکنو ادبي آثارو برخـه ده ؛ بلکـې ژبنـي

(c) ketabton.com: The Digital Library

آثار هم دي او د ژبپوهانو څېړونکو پام هم ځانته اړوي. او د ادبپوهانو هم سره له دې چې دا پام اړونه سره توپير لري ، مثلاً مهم لرغوني آثار لکه: اوستا او يا د شهنامې په ډول د پهلوانۍ حماسې او په همدې مهال کې د آريايي ژبو د پام وړ مهم آثار دي. (تر دې چې اوستا د خپل پېر يوازينۍ تر اوسه را پاتې اثر دی. ژبه د ژبپوه د مطالعې موضوع ده ؛ ولې دا ادبپوه لپاره هم فوق العاده ارزښت لري د يوه قوم ادبي ، فرهنګي ، ملي نا ليکلي آثار او ليکني ادبيات د کلمې او غږونو نطق او يا ليکني بڼې په وسيله بيان شوي او بيانيږي. د ماکسيم ګورکي د تعريف له مخې ژبه هم د ادبياتو اصلي او بنسټيز توکی دی او هم يې مصالح (ژبه د ادبياتو لومړنی توکی دی ) او اصلي توکی دی. که عين وخت کې د ژوند له پيښو او پديدو سره يوځای شي – مصالح يې ادبيات جوړوي. څنګه چې مخکې مو يادونه وکړه ؛ فقه اللغه له تاريخ او کلتوري تاريخ سره نږدې اړيکې لري په ځانګړې توګه د ختيځو سيمو فلالوژي چې د تاريخي علومو په ډول ډول څانګو پورې اړه لري د ځينو اسبابو او لاملونو له مخې د ختيځو سيمو د تاريخ ، فرهنګ ، او ژبني تاريخ ادبياتو او ليکنو آثارو مطالعه چې پخوا هم د لويديځ د نظر ملاتړ او پوهې د سيوري لاندې ترسره کېده په ټيټه کچه کې ځای لري. د څېړنې او پلټنې په برخه کې د هغو سترو برياوو سره سره چې د وخت د شوروي او نورو هېوادونو د ختيځ پوهانو په برخه شوي هم دي. ختيځ پيژندنې زوړ وروسته پاتې والی د لويديځ پيژندنې سره په پرتله له منځه تللی نشو شمېرلی. دا چې ډېر تاريخي آثار نه دي څېړل شوي نو ختيځ فلالوجيست اړ دی چې په يوازې ځان په هر اثر يا تاليف کې ورته را پيدا شوي فرهنګي او تاريخي اکر (حالت ) اووضعې څېړنې ته همت وکړي. له بله پلوه په پخوانيو ليکنيو اثارو د کره کتنيزو تاليفاتو کمښت ختيځ پوه ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاریخ پوه اړباسي چې په نوموړو آثارو د فلالوژۍ له انده څېړنه وکړي. (۱۱:۱۴ مخ) په پای کې باید ووایو چې د فلالوژي موخه او دنده داده چې د ټولنیزو او تاریخي ودې په بهیر کې دیوه قوم یا یوه ملت ژبني ، ادبي ، کلتوري او فرهنګي آثارو څېړنه ،ارزونه ،سپړنه او مطالعه کوي. او د تعریف په برخه کې یې داسې ویلی شو چې فلالوژي د یوه ملت یا ولس ژبه او په هغه ژبه لیکلي ادبي اثار چې د هغې ژبې د وګړو په وسیله د تاریخ په اوږدو کې رامنځته شوی (فرهنګ او کلتور) تر بحث او څېړنې لاندې نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دويم څپرکی

## ۲-آرياني فلالوژۍ ارزښت او آريانا پوهنه

آرياني فلالوژي هغه پوهه ده ؛ چې آرياني ژبې او هغه ادب ( له دې ډلې ولسي ، ناليکلې پنځونې او ادبيات ) چې د نومړو ژبو په وسيله رامنځته شوی له تاريخ سره د هغو تړاو ته په پاملرنې سره مطالعه او تر څېړنې لاندې نيسي .له پورتنۍ پېژندنې ښکاره ده چې ددې پوهې بنسټ د آرياني ژبو له مفهوم او دا چې د دغو ژبو د آرياني والي نښې څه دي څخه عبارت دی يا په لنډه توګه له هغو ژبو څخه بحث کوي چې د آرياني مفهوم او ښوځانګړنو څخه برخمنې وي. په بله وينا هره ژبه او ګړدود چې د آرياني ژبو په کورنۍ پورې اړه لري او هر متن چې د نومړو ژبو يا لهجو څخه په يوه ليکل شوی وی د آرياني فلالوژۍ د مطالعې موضوع بلل کېږي.

د دوی په اند د خدايانو او پهلوانانو په اړه اوستايي سرودونه او بدلې د لرغونې فارسي ډبرليکونه په منځنۍ فارسي مذهبي او غير مذهبي آثار ، دپارتي ژبې اقتصادي او وتېز لاسووندونه او اسناد چې په خاوروينو لوښو ليکل شوي ، سغدي ليکونه او په څرمنو ، لرګيو ، سيکو او په لوړ بيه تورېل شوو ډبرو سودا ګريز او اقتصادي اسناد همدا راز هغه مهرونه او لوښي ،چې په خوارزمي ، باختري ژبو منځنۍ فارسي او سغدي ژبو پرې مطالب ليکل شوي مانوي سرودونه يا ميدي ځانګړي نومونه په ساکي ژبه ځينې ځانګړي نومونه او بودايي تاليفات په منځنيو پېړيو کې دکردي ،تاجيکي ، ا پارسي ژبو شاعرانو ديوانونه او د پارسي او تاجيکي رومانونه يا معاصر افغاني (پښتو ) کردي ، پارسي ورځپاڼې يا هم په تړليز

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلتور پورې تړلي يادښتونه او بې شمېره آريايي ،يا آرياني لهجې (د غرو لیکنې یا د غرېونو د ضبط په ډول) دا ټول متون که هرڅومره دوخت ، ځآی ، لیکنې ، مضمون، موخې ، ديني اړيکو او تاريخي ارزښت په پلوه توپير ولري يو ځيز يې سره ګډوي چې هغه آريايي او آرياني والی دی او دا ټول کيدای شي ديوه مصلحت په ډول د آرياني يا آريايي ژبو او بيا د تکامل د هغې يا دغې دورې د مطالعې له پاره وکارول شي ، دا خو طبيعي خبره ده چې د دې هر اثر اهميت او ارزښت د فلالوژيکي مطالعاتو له نظره سره توپيرلري د بيلګې په ډول د اوسنی پارسي او تاجيکي او دري د مطبوعاتو او ډليزو رسينو متنونه څومره ډېر دي ؛ او لوستل او تفسير يې څه شک ،ترديد او ستونزه نه پيدا کوي او څه نا څه توپير هم نه نه سره لري خو که هرڅومره د لرغونې دورې په لور لاړ شو او ژور شو نو وضع بلکل بدلون مومي يو شمېر لرغوني آثار چې زموږ لاس ته راغلي اصلاً لږ دي او نوموړي آثار د اوسنيو ژبو د متنونو په خلاف په اسانی د پوهيدلو وړ نه دي. هر څومره چې د يوې ژبې آثار لږ خوندي شوي وي د ژبپوهنې تاريخ او فرهنګ له پلوه يې هم هغومره ارزښت ډېر وي. څو په ورته وخت کې يې مطالعه هم ستونزمنه کېږي. هر هغه څېړونکی چې لرغوني آريانا آثار څېړي له ډول ډول ستونزو سره به مخ کېږي: لکه د متن سموالی ، او ناسموالی ،تاريخ يې ،د تدوين شرايط يې ، وضع ، حالت ، ساتنه او له منځه تګ يا استنساخ يې ، د تحريف موضوع او هغه تړاو او تصحيح سمونې چې يوه ليکونکي په خپل سر کړي. کله کله دغه متونونه ټوټه ټوټه او غوڅ غوڅ زموږ لاس ته رارسيدلي دي غورځي ، پرځي او خلاوې لري؛ خو يوازې د تدوين او تنظيم د ځانګړو اسلوبونو په مرسته يې رغولی شو.(۲۹:۴۳) که د څېړونکو او محققينو سرو کار له دا سې متن سره وي ؛ چې ډېر پخوا هير

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی او نا متداولې او مسلکي ژبې باندې لیکل شوی وي. نو کار څو ځله پیچلی او ستونزمن کېږي. په ځانګړې توګه که په نا سم او معضل ستونزمن لیک لیکل شوی وي. چې د متن لوستل ډول ډول ممکنوي ، ډېره مهمه وسیله چې په ډېره اندازه موضوع او اروي او په نا مشهودې او مجهولې ژبې د متن لوستل آسانوي له خپلوانو ژبو سره یې تړاو دی. او یا هم د پام وړ ژبې د تکاملي او بشپړاوي بهیرد نویو پړاونو آثار دي. د بیلګې په توګه د لرغونې فارسي د رمزونو کشفول او لوستل (له شپږمې تر څلورمې مخزیږد پیړۍ) ناشونې وو. که یادې دورې د ډېرلیکونو ژبه د لرغونو آریایي اوستا او لرغونو هندي ژبو له متونو سره نه پرتله کېږي او د پارسي د بشپړاوي وروستي پړاوونه (منځني او وروستي ) په پام کې نه وای نیول شوي دلږو پیژندل شوو او مجهولو ژبو په تفسیرولو کې د خپلوانو ژبو له آثارو کار اخیستنه د تطبیقي او تاریخي ژبپوهنې په اسلوبونو د پوهیدنې او کارونې سره تړلې دي. هر څومره چې لرغونې دوره ته ور وړاندې کیږو او پرمخ ورځو د تاریخ او فلالوژۍ اړیکې یا په بله ژبه تداخل لا ډېر احساسیږي او څرګندیږي. د یوې تاریخي څیړنې کچه د یوه متن په سم لوستلو پورې تړلې ده. د لرغونو متونو لوستنه چې ډېری ټوټه ټوټه تر لاسه کېږي او له پېچلو اصطلاحاتو او ویيکو ډک وي تل مفهوم نه ورکوي. هغه وخت شونې ده چې څیړونکی د هغه چاپېریال په کلتوري او تاریخي حالت او وضع کې ور ننوځي. چې متن په کې لیکل شوی دی، او له ټولو هغو کلتوري او تاریخي خپلویو سره آشنا وي. چې په اړوند چاپېریال او هغه وخت سوری غورځوي. دانو د اړتیا په وخت کې د فلالوژۍ په نړۍ او د اټکل (فرض) شوي چاپېریال ، افکارو ،معتقداتو باورونو او د ژوندانه په ډول په درستو پوهیدو پورې اړه لري. په لازمي ډول په دې وخت کې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرغونپوهنې له مادي فرهنګ ، هنر ، دين او سکه پېژندنې له تاريخ او له نورو ډېرو فرعي او مرستندويه تاريخي څانګو سره سروکار پيدا کېږي.

آريايي فلالوژي هغه پوهه ده چې د دوه زره او پنځه سوه ۲۵۰۰ مخزيږد کلونو (له شپږمې مخزيږد پيړۍ تر نن ) او بيلابيلو اړوندو تاريخي دورو ليکنو آثارو باندې ولاړه ده.له دې امله په دې پوهه کې تاريخ ډېر ارزښت او اهميت لري. ارياني فلالوژي د خپل شتوالي په پېر کې د آرياني ژبو قومونو له نورو څانګو لکه تاريخ ، فرهنګي تاريخ سره نږدې تړاو ساتلو کې وده کړې ده. او په ټوليزه توګه دا پوهه هغه څانګه چې آريانا پېژندنه نوميږي جوړوي.

په دې بنسټ آريايي او آرياني فقه اللغه يا فلالوژي د آريانا پېژندنې له څانګو څخه يوه ده. يعنې هغه ګډه پوهه چې د آرياني ژبې عمومي تاريخ او د آرياني ژبو قومونو د کلتور او فرهنګ تاريخ تر څېړنې او مطالعې لاندې نيسي. (۱۴:۱۲-۱۳مخ )

د پورته څېړنې پر بنسټ ويلی شو ؛ چې آرياني فلالوژي هغه پوهه ده چې د آرياني ژبو او هغه ليکنې ادب او فرهنګي او کلتوري مسايل چې د آرياني قومونو د ژبو(فرسيک ، باختري ) په وسيله رامنځته شوي د تاريخ په اوږدو کې تر څېړنې او بحث لاندې نيسي. د تاريخي شواهدو په مرسته د آرياني ژبو او اقوامو ګډ کلتوري او فرهنګي مسايل څېړلی او پلټلی شو چې دا په آرياني فلالوژۍ کې د تاريخ له نظره يې ارزښت ښيي. د آرياني فلالوژۍ موضوع او څرنګه چې دا موضوع د آريانا پوهنې يوه برخه ګڼل کېږي نو د آريانا پوهنې په برخه کې د آهميت وړ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۱د ختیځ پوهنې په څانګو کې د آریاني فلالوژۍ ارزښت او مقام:

آریاني فلالوژي نه یوازې د آریانا پوهنې له ډول ډول څانګو بلکې د ختیځ پوهنې له نورو ډېرو څانګو لکه هند پوهنه ، سامي پوهنه ، ترک پوهنه او نورو سره نږدې اړیکې لري. دغه تړاو د آریاني ژبو قومونو د تاریخ معلول دی. چې د خپل شتون په پېر کې یې له نورو هغو قومونو سره چې په نورو ژبو غږېدل ډول ډول وټېبز (اقتصادي) ، کلتوري او ژبنۍ اړیکې لرلې دي. څرنګه چې وروسته به وګورو او د آریاني ژبو پرتله له هندي ژبو سره د لرغونو آریاني ژبو د ارزونې او د دې ژبو د تاریخ په تدوین کې لویه مرسته کوي. سامي او بیا په لومړۍ کچه عربي په خپل لغوي ترکیب کې له ډېرو آریاني ژبو نه ژوره اغیزه لري. له بله پلوه آریاني لغتونه له لرغونو پیړیو (بین النهرین) د دوو رودونو ترمنځ د قومونو ژبې ، قفقاز ، هندوستان ، شرقي ترکستان ، منځنۍ آسیا او وړې آسیا د ژبو ترمنځ ډېر نفوذ کړی و. په عیلامي ، اکدي ، آرامي ، عربي ، ارمني او ګرجي ژبو کې د آریاني لغتونه د پام وړ پاتې شونې موندل شوي دي.د شمالي هند او ترکیې ژبې له آریاني ژبو ډېر وییونه (لغتونه ) پور کړي دي. او د لرغونو آریاني ژبو قومونو (فارسیان ، پارتیان ، سغدیان ، میدیان او ساکان ) د لیک په بشپړاوي کې هم سامي ژبو ټبرونو یعنې بابلیانو ،آرامیانو او عربانو ستره ونډه لرلې . د لرغونې زمانې آریاني ژبو قومونو تر ډېره بریده په بېلا بېلو مهالونو کې د دغو لیکونو پر بنسټ خپل لیکونه را پیدا کړي دي. لکه( د لرغونو پارسي ، میخي ، اوستایي ، خوارزمي او پهلوي لیک ) چې د لیک د بشپړاوي بهیر په تاریخ او دهغه په لیږد کې د ختیځو سیمو نورو ټبرونو لکه (ترک

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبې ، او یغوران او نورو ) ته ډېر ارزښت لري. په همدې مهال کې آریانا پوهنه چې د ژبې په فلالوژۍ څېړنه کوي نه شي کولای چې د ترک ژبو او آریاني ژبو قومونو د تاریخي ، فرهنګي او ژبنیو اړیکو په موضوع کې چې په منځنۍ آسیا ،آریانا او ګاونډیو سیمو ترمنځ دژبنۍ نقشې دبنسټیزو بدلونونو لامل و ، بې له لیوالتیا وو سي. د لرغوني آریانا لیک او کتیبې د لرغوني ختیځ ، منځنۍ آسیا ، قفقاز او ګاونډیو څمکو د قومونو د تاریخ (پېښلیک ) کلتوري تاریخ ،باورونو او معتقداتو او د دینونو د مطالعې او څېړنې له مخې یوه ګران بیه سرچینه شمېرل کېږي. ایراني لیکوال کریم کشاورز په اند «د فارسي د بې شمېره پوهنیزو او تاریخي آثارو او څېړنو ته په کتو سره د فارسي وروستۍ دوره ډېره د پاملرنې او ارزښت وړ ده» څرنګه چې پورته مو یادونه وکړه د ۲۵۰۰ کلونو په اوږدو کې لیکنې اصیل آثار د آریاني ژبو د کورنیو په بشپړاوي بهیر شاهدي ورکوي. سربېره پردې باید وو ایو چې آریاني ژبو تر ټولو لرغوني لیکني آثار په ورته وخت کې د هندو اروپايي ژبو له تر ټولو پخوانیو اثارو څخه دي.له دې امله د اریاني ژبو د تطبیقي تاریخ مطالعه نه یوازې ددې کورنیو د ژبو د بشپړاوي بهیر د قوانینو د پېژندلو په برخه کې بلکې دټولو اندو اروپايي ژبو په اړه په ټولیز ډول با ارزښته مصلحتونه په واک کې ورکوي. د آریاني ژبو مطالعې د هندو اروپايي ژبپوهنې په برخه کې ډېره مهمه ونډه لرلې او لري يې د آریاني او سلاوي ، آریاني او ارمني ، اریاني او بالتیک ژبو ترمنځ د تړاو ځانګړو مسایلو د ژبپوهانو ځانګړې پاملرنه ځانته را اړولې ده. طبیعي ده چې په دې لړ کې باید د اوسنیو آریایي ژبو ارزښت او اهمیت له پامه ونه غوځوو ، هغه آثار چې په ځانګړي ډول په آریاني ژبو او په ټولیز ډول په پارسي رامنځته شوي یوه وخت په ټول پخواني او منځنۍ ختیځ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له قسطنطنيې په غرب کې تر کلکتې او چين د ترکستان تر ښارونو پـه ټول ختيځ کې خپاره وو. او نه يوازې د ختيځو ټبرونو بلکې د روسي او يو شمېر اروپايي قومونو په ادبياتو يې هم اغيزه لرله.

د آرياني قومونو ادبيات چې د پيړيو له ژورو سرچينه اخلي د نړيوال ادب پنځونې د تاريخ په بهير کې يې مهمه دنده او ونډه لرلې او لـري يې او د دې آثـارو څېړنـه او مطالعـه چـې زرګونـه کلونـه لرغونتيـا او سـابقه لـري د نـړۍ د کلتوري او فرهنګي تاريخ له مخې د ډېر زيـاد پـام وړ دي. (۱۴: ۱۴-۱۵ مخونه) سـره له دې چې د دې سيمې پـه فلالـوژۍ او ادبيـاتو پـه دې وروسـتيو دوو پيړيـو کې علمي څيړنې تر سره شوي دي نو له دې سره جوخت د دې سيمې ټولو ژبو او ژبپوهنې ته چې د فلالـوژۍ بنسـټيز خـام مـواد او تـوکي دي کـار شـوی او بايد وشي. ځکه چې ژبې د بشر په ټولنيز ژوند کې اړينه ونډه لـري ، ولـې لـه ژبې سره مو ډېرې مينې او څرنګه چې بشر وربانـدې اشـرافيت او لـوړوالی پيدا کړی هغسې پالنه نه ده کړې. د بشري ژوندانه پـه اوږدو کـې لـه مناسـبې پاملرنې غوځيدلې او زموږ په څير ټبرونو خو په کوټلي توګه ژبې ته خدمت او کار کول ، نعوذ بالله تعصب ګڼلی دی ، څرنګه چې د بشر له ځانګړتياوو څخه خوراک ، څښاک ، خوځښت او ساه ايسـتنه يـوه غريـزه او طبيعـي امـر ګڼـل شـوی دی ژبـه هـم بايـد د بشـري ژوندانـه پـه هـر اړخ او برخـو بانـدې د ډېـرو اغيـزو درلودلـو لـه املـه تـر ډېـرې پـاملرنې لانـدې راغلـې واي او راشـي. او ځيني ولسونه بايد د تاريخ په اوږدو کې ترينه نا خبره او غافله نه واى پـاتې شوي چې اوس يې د ژبې د ليکلو اسناد د تباهۍ او لـه منځـه تلـو لـه املـه پـر نژادي او قومي حتمي حضور او لرغوني شتون بانـدې ملنـډې وهـل کېـږي ؛ دا ځکه چې د انسان او نورو شويو ترمنځ توپير په لومړي سره کې يـوازې او يوازې د ژبې او نطق سره شوی او کېږي. له دې امله په کارده چې د هېـواد او

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرغوني هېواد (آريانا ) په ټولو څېړنيزو مرکزونو کې د آرياني ټولو ژبو او يا هم ژوندیو ژبو شتون ته متوازنه پاملرنه وشي. د ژبو د څېړنې او مطالعې له پاره د فلالوژۍ د يوې برخې په توګه ژبپوهنه په نننۍ مفهوم سره په بشپړه توګه يو نوی علم او پوهنه ده. چې ديوې او يا هم څه پخوا زمانې را هيسې د يو لړ ژورو او پرله پسې څېړنو او مطالعاتو په لړ کې رامنځته ، پرمختګ او پراختيا موندلې ده. په دې برخه کې له ډېرو پخوا زمانو تر اوسه د ژبې په اړه پلټنې او څېړنې روانې دي. چې دلته په لنډه توګه يادونه کوو. په پيل کې به د ژبپوهنې په اړه څه نا څخه معلومات په خپل هېواد او اړوندو برخو کې وړاندې کړو. په لنډيز کې بايد ووايم چې د ختيځپوهنې په څانګو کې دآريانا اوآرياني فلالوژۍ د ريځ او اهميت ترټولونوروهغولوړځای لري هغه داچې آريانا بوه له هغو سيمو څخه ده چې د اندواروپايي کورنۍ په تاريخ کې لومړني ليکني اثار، ډبرليکونه اومتون په واکې لري او دا فلالوژيکي اثار دختيځپوهنې له نوروڅانګوسره هم تړاو لري چې له دې لارې موږ کولای شو:هند ،سامي،ترک پوهنې سره اشنا کړي ،همدارازکومې اړيکې چې ارياني ژبې دليکدود په برخه کې دسامي ژبو اوتبرونوسره لري(آرامي ،بابلي اوعربي ) دهغوی په اړه دمعلوماتو په برخه کې ګټورتمامېږي.په همدې توګه په منځنۍ اوکوچنۍ آسيا په ژبوکې دارياني ژبو دپراخ نفوذ له مخې چې دلغتونو په برخه کې لري ،کولای شو ووايو چې دختيځپوهنې په برخه کې دآرياني فلالوژۍ ارزښت لوړځای لري...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۳-ژبپوهنه د تاریخ په بهیر کې

## ۳-۱ژبپوهنه په آریانا ، یونان...کې:

د لویدیځې نړۍ پوهان په دې اند وو ، چې ژبپوهنه په لومړي سر کې له یونان څخه پیل شوې او اپلاتون (۴۲۷-۳۴۷ م ز) چې د لومړي ځل له پاره یې د Cratylus اثر لیکوال د ژبې حقیقت او ماهیت په اړه یې خبرې کړې ،لومړی ژبپوهـو . ارستو دمنظم ګرامر کاشف Systematic Grammar ګڼي خو پاتې دې نه وي چې زموږ پـه هېـواد د لوغونو پوهانو (آریانا ) مخکې له اپلاتون او نورو څخه ددغې سیمې په پوره علمي بڼه تشریح کړې دی. چې ښایي ددوی آثار د نیستۍ بادونو وړي وي او یوازې له دغې زمانې څخه زموږ په لاس کې د پاڼیني (Panini ) ګرامر را پاتې دی. د پاڼیني ګرامر د ډېرو پوهانو له خوا دیوه بشپړ علمي او اډیالي ګرامر په توګه پیژندل کېږي. (۸:۳۴مخ) پاڼیني په ډېر اغلب ګمان د آریانا وېجه د اټک د سیمې و. او د انګلستان د اکسفور پوهنتون ژبپوه مکس مولر (۱۸۲۳– ۱۸۲۸ م ) په قول په (ځلورمه م ،ز) پېړۍ کې، د ګولد زیخر آلماني پوهان په قول په اتمه م.ز پیړۍ کې او د امریکایي پوهان بلوم فیلد په قول ۳۵۰ – ۲۵۰ م.ز پورې ) ژوند درلود. د پاڼیني دژوند د نېټې په اړه بل امریکایي پوهان وایي چې د ژوند دقیقه نېټه یې نه ده ښکاره. د پاڼیني د ژوند مهال په اړه دژبو څېړونکي په یوه خوله نه دي؛ او ژوندژوند ځای ځایګي په اړه یې دآریانا د سیمې (لغمان تر پېښور ) ښودلی ، ټول په یوه خوله دي. (۵:۲مخ)

امریکایي او اروپایي پوهان پاڼیني هندی ګڼي ،ښایي لامل یې داوي چې د پاڼیني ګرامر ژبه هندي شوې ده. ولې تر هغه ځایه چې تاریخ پرې شاهدي ورکوي د سانسکرېټ ژبې اصلي ټاټوبی لرغونی افغانستان دی. ددغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبې لرغوني ډېرې ليکنې هم له ګنداهارا څخه تر لاسه شوي دي. چې د غربي پوهانو د نظرياتو پـه وړانـدې د لرغـوني افغانسـتان لـه ويارونو څخـه ګڼل کېږي. پردې بنسټ ژبپوهنه له يونان څخه نه بلکې له آريانا وېجه او لرغونې افغانستان څخه پيل شوې ده . خودخواشينۍ ځای دادی چې ؛ د تاريخ بدو پېښو د افغانسـتان کلتـوري ، تهـذيبي او پـوهنيز آثـار لـه منځـه وړي دي او ددې ترڅنګ زموږ پوهان ؛ کيدای شي لامل يې غفلت وي؛ زموږ دهېواد له علمي ادبي ويـاړونو څخه بې خبره پـاتې شـوي وي. پـاڼيني دخپـل وخت د سانسکريټ ژبه په اتو بابو چې هر بـاب يې څلور څپرکي لـري تشـريح کـړې دی. جان کرول امريکـايي پـه خپـل (دژبې مطالعـه ) نومي اثـر کـې د پـاڼيني ګرامر په هکله داسې ويلي: « په دربيمه مخزيـږد پيـړۍ کـې يـا لـه دې نـه هـم مخکې ختيـځ کـې يـو هيښـونکی (حيـرت آور ) بـدلون رمنځتـه شـو ؛ پـه دې معنا چې ديونان له ګرامر ليکونکو څخه بيل او په بشپړه توګه خپل واکه بڼه د هندي ژبې يو تن ګرامر پوهـد پاڼيني په نوم يو شـهکار رامنځتـه کـړ، چـې هغه د سانسکريټ ژبې کاملاً تشريحي او غير فلسفي څېړنه و. » هغه دا خبره هم روښانه کړې ده چې ؛« موږ تـه لا تر اوسه نه ده څرګنده چې له دې اثـر څخـه مخکې هم کوم ګرامري اثر شتون درلوده اوکه نـه ؛ مګـر د پـاڼيني ګرامـر تـر دې مهاله يو جامع تشـريحي ګرامـر پـه توګـه پيژنـدل شـوی دی. » دامريکـا د معاصرې ژبپوهنې بنسټ ايښودونکي او ژبپـوه بلوم فيلـد د پـاڼيني ګرامـر داسـې سـتايي: ددغـه کتـاب ليکنـه بـې دربغـه ماهرانـه او هېښـونکې ده. د پـاڼيني د څيړنيـز روش څخـه پيـروي کـول پـه اروپـا کـې د ژبـو د بنسـټيزو مطالعـاتو پـه دوره کـې او د علمـي روشـونود بشـپړتيا لـه پـاره دغـه ګرامـر رغنده ونډه درلودله او معاصـر ژبپوهـان هـم دده پـوړوري ګڼـي.(٦:٧ مخ ) پـورتـه څېړنو او نظرياتو څخـه ثـابتيږي ؛ چې ژبپوهنـه پـه اريانـا لـه لرغـونو زمـانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه پیل شوي او خورا ډېره مخینه لري چې د پاڼیني په عصر کې یې خپل د بشپړاوي پړاوونه تر سره کړي دي. د خواشینۍ وړ خبره داده ؛ هغه اسناد چې زموږ پورته ادعا د مخالفو د تائید وړ وګرځوي ، په لاس کې نه شته. ددې لنډ بحث په بهیر کې به بیرته د ژبپوهنې او ژبې په برخه کې ، نړیوالو څېړنو ته په لنډه توګه مخه کړو. څرنګه چې مخکې مو هم رڼا پرې واچوله بیاهم د لا روښانتیا له پاره هغه څه چې نن ورځ د ژبپوهنې په نوم یادیږي او د پوهې په کتار کې راځي یو نوی بحث دی ؛ چې د پیدا ایښت نه یې لږ و ډېر دوه سوه کاله اوړي د ژبې او د هغې د اصولو په هکله څېړنه کومه نوې خبره نه ده ، د پورته څېړنو پر اساس د آریایانو (پاڼیني ) وروسته یونانې پوهانوژبې ته پاملرنه درلوده خو د هغوی لویه ستونزه داوه ؛ چې آیا د ویونو او الفاظو دلالت په ذاتي او طبیعي معنا ده او که په قرار دادي. چې دا بحث د ډېرو خبرو اترو ، ژبني کړکېچ او شخړولامل وګرځید ، او د سوفسطایانو ترمهاله یې پایښت درلود.ارستو د کلام د توکو د پیژندنې له پاره هر یو سره بیل کړل ، نورو فیلسوفانو هم دغه بحث د ګړپوهنې (مورفولوژۍ ) او د وینا پوهنې (نحوې ) په هکله تعقیب کړل. خو د هغوی د کار نیمګړتیادا وه ؛ چې د منطق قوانین یې د ژبې د قواعدو سره په پرتله نیول ، دا یوه لویه نیمګړتیاوه ، ځکه چې د ژبې بدلون او تحول د منطق اصولو تابع نه دي.

د میلاد دمخه په دریمه پیړۍ کې د هومیر Humar منظومې د یونانیانو ترمنځ دود وې ؛ خوعام خلک د هغو منظومو په معنا نه پوهیدل ، ځکه چې د وینا او خبرو اترو ژبه د هومیر له شعرونو سره توپیر درلوده ، په همدې اساس سکندر یې د حوزې پوهانو بحثونه هکله پیل شو ؛ وروسته له دوی رومیانو ددې مطالعاتو د نتیجو په پام نیولو سره هغه قواعد او اصول د

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاتینې ژبې سره پرتله کړل ،همدا رنګه د اسلام د سپېڅلي دین له راتلو سره سم هم د ژبې د قوانینو ،اصولو او لغت په هکله بحث د پاملرنې وړ وګرځېد او د پام څرګند لامیل یې داوه چې بیلابیل ټبرونو او لسونو د اسلام دین ومانه ،چې هغوی په عربی ژبه نه پوهیدل؛نو الهي کلام د اسماني کتاب قرآن عظیم الشان په لوستلو کې له ستونزو سره مخامخ شول. د دې ستونزې اوسهوو د مخنیوي له پاره د ژبې د قواعد اړتیا منځته راغله ، دا سې ویل شوي چې د لومړي ځل له پاره (ابولاسد دوئلي ) د حضرت علي کرم الله.. په نغوته د نحوې قواعد ولیکنه او تدوین وکړ ، په (۹۲ هـ ق مړ ) . د عربي ژبې صرف او نحوې په اړه د اسلامي خلافت په مشهورو ښارونو بصره او کوفه کې څېړنه پیل شوه ، د بصرې د علمي مرکز پوهانو په سر کې (سیبویه )او د هغه پلویان (اخفش ، اوسط ، او بوعلي ) د یادونې وړ دي. د کوفې د پوهانو مخکښ (کسان )وو ،او(وفرا ،ابن القیس اوثعلب )د دې ډلې د مشرانو څخه شمېرل کېدل. په همدې ډول د ژبو په ادبیاتو کې د لغت،صرف اونحوې پوهنو ډېرپراخ اود پام وړ پرمختک کړی دي. چې پر دې مسئله هراړخیزبحث به زموږ د لیکنې اوڅېړنې له وسه وتلې خبره وي.

خو له دې سره سره د دې خبرې ستر لامل دادی ؛ چې دیونان ، سکندریې او اسلامي ژبپوهانو لویه نیمګړتیا داوه ،چې ټول اصول او قواعد یې له یوې ژبې څخه او هغه هم په یوه ټاکلي پېر او پړاو کې تر څېړنې لاندې نیول ، او دا انګیرنه یې نه درلوده ، چې د دوی ژبه هم په تیر پېر او پړاو کې بله بڼه درلوده او نورو قواعدو تابع به وه .څرنګه چې یونانیانو د نړۍ ډېروټبرونو اوولسونو سره اړیکې درلودې چې په بېلابېلو ژبو غږېدل خو هغو ژبو ته هېڅ پاملرنه او کارونه کړل. که چېرې هغوی خپله ژبه له نورو ژبولکه:ساکایي،مېدي،سانسکرېټ،پاړسي او پښتو سره په پرتله

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړېوای، په ربنتیا سره به ډېرو ارزښتناکو پایلوته به رسېدلي وای.کـه یونانیانو داوخت کړی وای، دهغــو دڅېړني او پلټنو پــه پالــه کـې بــه دنوروژبوتر څنګ(داندواروپایي)ژبې ډېرې لهجې اوغړونه چې په هغه مهال کې وو ،خوندي شوي وو.اوس به دنړیوال کلتوربوه بډایه برخه ساتل شــوې وه.دیونانیانودښــکېلاک اوځبېښناک(اســتعاري او اســتثماري) ځانګړتیا یوه داهم وه چې دنورو ولسونو اوتېرونوژبوته ته په سپکه سترګه کتل اوڅوک به چې دهغو په ژبه نه غږېدل توتړي Bar bare ورته ویل همدارازدعربوژبپوهانود دې سره سره چې دعبري اوسریاني ادبیاتو شتون درلوده،اوډېرپوهان په دې ژبوپړهېدل اودهغو په ژباړه بوخت وو.اوهغه ادبیات په عربي ژبه ژباړل،خودخپلوڅېړنوپه ترڅ کې یې دې خواته نسبتاً هېڅ پاملرنه ونه کړه،چې پورته یاده ژبه یې سره پر پرتله نیولې وای.داسلام دسپېڅلي دین دپلویانوخلافت او واکمني په ډېره پراخه سیمه کې وه،چې د دې سیموولسونوپه بېلابېلو ژبو لکه: هندي، پارسي، مغولي، ترکي، لاتیني، اندلسي، یوناني، پښتو، دري او تاجکي او نورو بېلابېلو ګړدودونو خبرې کولې،چې عربوهم ددغوژبوقواعدو اوجوړښت ته کومه پاملرنه ونکړه. نازیانو هم د یونانیانو په څېر هر هغه چاته چې په عربي ژبه نه ګړېدل ، عجمي (ګونګي ) ویل.نو ځکه د ځینوځانغوښتونکو کړیو د ځانغوښتنې پایله کې دډېرو پخوانیو ژبو په هکله څېړنه ونه شوه.او دډېرو له ډلې څخه مخکې او روسته آن تر دې چې دځینو ژبو خوېې ډېر ارزښمتن آثار یا له ځان سره په غلا او یرغل ویوړل او یا یې له منځه وړل په همدې بنسټ هندیانو دځینې مذهبي اړتیا له پاره د ډېرو پخوا زمانو څخه دیونانیانو او عربانو په خلاف د خپلې ژبې په هکله څېړنې او پلټنې کړې دي.نامتو تاریخ پوه ابوریحان البیروني د هغوي د ژبې په اړه ارزښتناکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښېړنې کړي دي. او د هندیانو ژبنیو څېړنو بنسټیز لامل د هغو مذهبي کتاب و. چې په لرغوني ژبه لیکل شوي وو او ژبې بدلون او پخوانیو مفاهیمو سره توپیرد عواملو د پوهیدنې له پاره ستونزه درلوده چې پر همدې بنسټ د هندي ژبې او ژبو له پاره څېړنې او پلټنې پیل کړې چې د هغوی د تګلارې په پوهېدلو سره په اروپا کې «ژبپوهنه» منځته راغله. په منځینو پېړیو کې ژبې ته دومره پاملرنه وشوه چې د رنسانس او نوو اختراعاتو په پایله کې چې اروپایانو د نورو ملتونو ، ولسونو او هېوادونو سره نسبتاً هر اړخیزې اړیکې پیل کړې. په همدې توګه ځینې مذهبي بحثونو لړلړ عسویانو مذهبي روحانیونو او سرلارې د عبري مطالعې ته وهڅول. چې اړتیا وو ، خبره د ژبښوونیزو (ګرامري) پرتلنې ته ورسول. او د ډېرو ژبو سره ورته والی د اروپائیان د حیرانتیا لامل وګرځېده ، څرنګه چې په اسماني کتابونو کې ورته نغوته شوې ده ؛ اودتورات دا آیات په یاد راوړي ،چې دټولې نړۍ یو لغت او ژبه وه. چې ځینو څېړونکو بیا دا عبري ژبه وبلله خو وروسته بیا دا ثابته شوه ،چې دډېرو ټېرونو ژبه د بېلګې په توګه د امریکا د بومي (ځایي) سورپوستوژبه.(۴۴:۴مخ) د عبري ژبې سره هېڅ ډول سمون نه لري. د عیسوي اولسمې پیړۍ د ژبپوهانو له ډلې څخه یوه دا فرضیه رامنځته کړه. د ده په اند چې سرو نژادو خپله ژبه قصداً په لوی لاس بدله کړه. تر څو په جګړه کې د دوی په ژبه څوک پوه نشي. (۴۴:۵مخ) چې دا ډول فرضیې وروسته دمنلو وړ ونه ګڼل شوې. او ورو رور پرېښودل شوې. د نولسمې پیړۍ نه مخکې د (ژیزونت Jesuite) دکشیشانو څخه یوکس دې برخې ته پاملرنه وکړه چې: ټولې یو بنسټ نه لرلو بلکې د ژبو بنسټونه بیلابیل وو. د نولسمې پیړۍ په لومړیو کې ژبپوهنې پوهنیزه او علمي بڼه غوره کړه اوله هغه وخت وروسته د ژبې څېړنې او څېړنې د منطق او

(c) ketabton.com: The Digital Library

استدلال د اصولو تابع نه شو. بلکې د ژبې او سنۍ بڼه د لرغونې بڼې سره په پرتلنه کې ونیول شوه. په تېرو دورو کې به چې د منطق قواعد او قوانین د ژبې د قواعدو سره تطبق کېدل په روستیو دورو کې منسوخ او پرېښودل شول. او د هغې پر ځای د ریښتینو او واقعي ټکو او برخو لیدنه او مشاهده دود شوه.

ژبپوهنې هغه وخت پرمختګ وکړ کله چې اروپایانو سانسکرېټ ژبې ته پاملرنه وکړه.[۲:۴۰] د دې له پاره چې د هند خلکو سره اړیکې ونیسي نومړې ژبې په زده کړه بوخت شول. انګریزي پوه Willinam Jonse ویلیام جونز ۱۷۴۶–۱۷۹۴ م، د سانسکرېټ ژبې اړیکې او نږدېوالی د یوناني او لاتیني سره وپوهید هغه د دې دریو اړو ژبو د پرتلې په پایله کې د یوې اصلي ژبې شتوالی چې د دې دریو اړو ژبو مور به وه ثابته کړه نوموړي چې د اروپا ستر سانسکرېټه پوه دی. د لومړي ځل له پاره دا خبره وکړه چې د اروپا ژبې د سانسکرېټ څخه نه بلکې سانسکریټ، یوناني، لاتیني، او یو شمېر نورې ژبې هم د یوې مخکې له تاریخ ژبې څخه راوتې دي. جونز په ۱۷۲۸ م کال په لندن کې د خپلې وینا په ترځ داسې وویل: « سانسکرېټ د فعلونو په ریښو او ګرامري غړونو کې د یوناني او لاتیني ژبې سره دومره ځواکمنه اړیکه لري چې تصادفي نه شي ګڼل کیدای. دده په وینا په ربښتیا دا اړیکه دومره ځواکمنه ده چې که هر ژبپوه یې وڅېړي. یقین پیدا کوي چې له یوې داسې سټې څخه پیدا شوې ده، چې اوس یې پته نشته. (الهام، پښتو ژبې منشاء: ۱۷۷–۱۷۸ مخونه) د اندو اروپایي ژبو نږدېوالی یو وخت د هغو د کلمو او لغاتو دورته والي له مخې ګڼل کیده ترڅو چې پرتلیز ګرامر په ډاګه کړه، چې د دغو ژبو په صرفي او نحوي اصولو کې هم ډېر یو رنګوالی شتون لري. د غه ژبې نه یوازې چې په لیکنه کې ورتوالی سره لري بلکې په ګرامري جوړښت هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته والی لیدل کېږي. د اندو اروپايي ژبو اړیکو بنسټیز لامل یو اځې هغه ګډه سټه وه ،چې د هغې لـه مخې ښکاري ،چې سانسکرېټ ، یوناني ،Greek ، لاتیني Latin ، سلاوي Salavic ، اوستا Awesta او نوري اندو اروپايي ویونکو یومهال یوځای ژوند سره کاوه او په یوه ګډه ژبه سره غږېدل، چې هغې ژبې ته د(ژبو مورینه) یا(اندواروپايي )وایي.دد غوډلو سره بېلېدل او پرځانګو وېشل کېدل یې داندواروپايي اصلي ډډ څخه دفرعي ژبو ، ګړدودونو کورنیو رامنځته کیدو لـه کبلـه شوي دي. ژبپوهانو د اصلي اندو اروپايي ژبو د پېژندلو او رابرسېر کولو له پاره د دوه مهمو لارو څخه کار اخستی ؛ یو د ګړ پوهنې او وینا پوهنې د قواعدو پرتله ده او بل دژبو د غږونو د بدلون څرنګوالی دی. لکه د فعلونو ګردان دنومونو صرف او کلمو اشتقاق نورې برخې له دې څېړنو څخه ثابته شوې ده ، هلته یوه ژبه د (اندواروپايي ) ژبو برخه او جز منل کېږي. چې د غږیزو اصولو له مخې په یوه لرغونې ژبه کې په اصلي منشا یوه لـه بلې سره ګډون پیدا کوي. (مخ ۶:۴۴)

(التاني پوه (شبګل )shilgillخپل کتاب(هندیانو فلسفېاوژبې په هکله په بحث ۱۸۰۸ز )هغه داانګېرنه(فرضیه )چې سانسکرېټ ژبه دټولونه لرغونې ژبه ده، چې د دې انګېرنې نیمګړتیا داده، چې ویل کېږي داندواروپايي ژبودکورنۍ په اړه معلومات نه وه ترلاسه شوي یاکړي.په (۱۸۲۷ز )کال مړ دالمان یوبل پوه (فرانتزبوپ FrantzBop)داندواروپايي ژبودنږدېوالي اوخپلوۍ په اړه خپل دلایل وړاندې کړل.داکتاب چې د سانسکرېټ، یوناني ،لاتیني، الماني اوپاړسي ژبو کلمې سره پرتله کړې وې چې په(۱۸۱۲ز )کال خپورشو ، دا دتطبیقي صرف اونحوې د پېل مهال وه.داکتاب داندواروپايي خوژبو سره په پرتله نیول شوی ،دهغوژبویورنګوالی اوتوپیرونه ښوول شوي وو.چې ژبپوهنه یې بوې نوې لارې ته راوګرځوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډنمارکي(راسک )اوالماني(یاکوبګریم )دفرانتزبوپ کار تعقیب کړ.ګریم خپل کتاب یې په(۱۸۲۲ز )کال کې خپورکړ، دې پایلې ته ورسېد ، چې هغه بدلون چې دکلمې دتوروپه منځ کې دهرې دتاریخ په دوران کې منځته راځي.انحرافي ،اتفاقي،تصادفي اوکوم شخص دغلطۍ محصول نه،بلکې دمنل شویو قوانینوتابع دي ترديې وخت پورې ژبپوهان نه پوهېدل،چې دهرې ژبې دتورو بدلون ځانګړوقواعدوپه مطابق بدلون مومي اوپه نورو توروبدلېږي،(ګریم Grim )دالماني ژبې داوسنیواوپخوانیوبڼوپه پرتلې سره دتورو دبدلون قانون کشف کړ چې تراوسه پورې د(ګریم قانون GrimLaw )په نوم یادېږي.په دې توګه سره دتطبیقي صرف اونحوې څخه بوه بله پوهه تاریخي صرف اونحو منځته راغله پوهنه ځکه په لومړي سرکې دهغوډلوژبوپه هکله چې اندواروپایي نومېدل په بحث اوڅېړنه پیل وکړ،اود دې ژبواوسنۍ اولرغونې بڼه په پرتله ونیولې شوې.سانسکرېټ چې د دغوژبوله ډلې څخه وه،په خپله د ارت اودقیق صرف اونحوې لرونکې وه.چې دتاریخ اوتطبیقي صرف اونحوې دڅېړونکوکارآسانه کړو.ددغوڅېړونکودڅېړنودکارپایلې څخه بوه داوه،چې:هره ژبه د خپلې بشپړتیا په بهیر کې له لاندې درې پړاوونو څخه تېرېږي او درې بیلابیل حالتونه نیسي ، لومړی پیوندي حالت ، دویم تصریفي حالت او درېیم تحلیلي حالت ؛ دا انګیرنه په دې توګه ځکه سمه نه وه ؛ چې پوهان په دې ویوهیدل هره ژبه د تحول او بدلون په بهیر کې ددرې واړو حالتونو لرونکې ده. ددې پوهانو تیر وتنه دا وه چې غوښتل یې د پخوا به څیر د عقلي استدلال او فلسفي بحث په مرسته د خپلو مطالعاتو او څېړنو څخه جاج واخلي. د نولسمې پیړۍ په پای کې ځینې پوهان چې نوي ګرامر پوهان New Grammarians یادیدل ، فیلسوفانه بحثون او دلایل یې کوږتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوې خواته او د ژبې په آر يعنې منشاء څېړنه دژبپوهنې د مباحثو څخه لرې کړل. دې پايلې ته ورسيدل چې ژبه ډېره پخوانۍ ده. له هغه څخه نه چې تر اوسه پرې ګمان کيده. داصلي ريښې اند په کلي توګه ناسمه وګڼل شوه. اندو اروپايي ژبې چې اټکل کېده ددې ژبې آره او بنسټ د هغې نه ده چې خپل مقام له لاسه ورکړي. ډېرو قرائينو دا حکم کاوه چې نوموړې ژبه له هغې نه وړاندې ژبو د ډېرو بدلونونو او بشپړتيا په پايله کې منځ ته راغلې چې له هغو نه هېڅ اثر او نښه را پاتې نه ده.(۴۵: ۲۴۸ مخ) له دې مهال نه وروسته د ژبپيژندنې اړيکې د ژبدود سره به هراړخيزه توګه وشليده. د ژبدود موخه داده چې ؛ د يوې ژبې ټول غږيدونکي بايد د يوې تکراري څخه ګټه پورته کړي او له نورو لارو څخه ډډه وکړي. د ساري په ډول په پښتو ژبه ( ورځ ، او ورور ) په همدې بڼه وليکل شي او ( روځ او رور ) يې زړه يا بله بڼه ده. خو ژبپوهنه يوه پوهه ده؛ ژبپوه دې ډول توپيرونو سره کوم کار نه لري. بلکې هغوی غواړي چې شته وييونه او کلمې سر پر تله کړي او د ډلبندۍ په ترڅ کې د هغو د علت او معلول اړيکې ولټوي. د هغو کار په بشپړه توګه د طبيعي پوهنو يوه ماهر سره ورته دی. هغو د سمې او ناسمې بڼې اولوستلو پسې نه دي. بلکې غواړي چې د ژبې لرغوني او اوسنۍ بڼه په انډوليزه توګه ، تر څيړنې لاندې ونيسي. نو دهغوی پوهېدا د ډېرو ګړدودونو او غږونو سره د هغوی دکار له پاره ګټور دی. ژبپوهنې له هغه وخته چې پوهنيزه (ساينټفيک ) تګلاره غوره کړه په ځانګړې توګه هغه څه چې د هرې ژبې تورو ته اړه درلوده ، د فونټيک په نوم يعنې د معنا لرونکو غږونو پوهه و پيژندل شوه .چې دا يوه لوی پرمختګ و. همدا راز يوه فرانسوي پوه( مودريس ګرامون د ژبپوهنې په برخه کې يو نوی قانون په ۱۸۹۵ زيږديز کال کې خپور کړ. چې د يوې رسالې په ترڅ کې يې اندو اروپايي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

رومیایي ژبو په باره کې و. نوموړي پوهـد هرې ژبې له پاره بېل بېل قانونونه کشف کړل. چې هرې یوې د نورو ژبو له قانونو سره توپیر درلود. د غې پاملرنې او ځیرنې له کبله چې د دې کتاب په تګلاره او روش کې پکار وړل شوې وه. ژبپوهنه یې د پوهانو له ډلې څخه شمېر یعنې ژبپوهنه د یوه خپلواک او مستقل علم په توګه وپېژندل شوه. چې د همدې اثر په خپرېدو سره د ژبپوهنې مضمون رامنځته شو او په پوهنتون کې یې د تدریس چارې موریس ګرامون ته وسپارل شوې یوه بل فرانسوي پوه (انتوان میه ) چې د ډېرو لیکنو او تالیفاتو له امله په فرانسه کې لوړ مقام لري. د خپلو څېړنو او پلټنو په پایله کې څرګنده کړې ده چې: د ژبو په تله کولو کې دهغو داړیکو او خپلوۍ په هکله څېړنه یوازې په ښکاره ورتوالي بسنه او اکتفا ونه کړ، د ساري په توګه د (بد ) کلمه په انګریزي ، دري ، او پښتو کې سره ورتوالی لري او په لفظ او معنا کې هېڅ توپیر نه سره لري. د هغو کسان په اند چې د پوهې لرونکي نه دي. غالباً دا درې کلمې د یوې ریښې او د یوې ستې نه وتلې ګڼې. خوربښتیا داده چې دغه مشابهت او ورته والی کاملاً د اتفاق او تصادف پایله ده. او هره یوه د یوې بلې ریښې او آرې را وتلي دي. چې یوه له بلې سره هېڅ اړیکه نه لري. ددې نظریې پر خلاف په ارمني ژبه کې د (ارکو Erku ) کلمه چې د دوه په معنا ده.د دري ژبې د (دو ) او د پښتو ژبې د (دوه ) لفظ سره یوه معنا لري او د یوې ریښې څخه راوتلي دي. سره له دې چې هېڅ ښکاره ورتوالی نه لري. البته دا پرتله او نظریه دلرغونې اندو اروپایي ژبې د څانګو لکه ،سانسکریټ ، لاتیني ،یوناني ، اوستا او لرغونې فارسي لغات د لرغونې ارمني سره د پرتلې او مقایسې څخه هم د اپایله او نتیجه لاس ته راغلې ده ،چې داندو اروپایي ژبو دوه توري ( D او W ) انډول دي. د ارمني له (E.R.k ) تورو سره د ساري په توګه د (وېرېدل )

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کلمې ريښه په لرغوني يوناني کې (Dwl ) دی او په ارمني کې (ERKI )دی په همدې توګه هغه لفظ چې د (ځنډ ) يا اوږد مهال معنا لري، په يوناني کې ( DWERON ) او په ارمني کې (ERKCAR ) دي. ددې کلموله پرتلې څخه کولای شو دا نتيجه واخلو چې د (DW )توري په اندو اروپايي لرغوني ژبه کې د ارمني (ERKU ) سره يو ډول دي. پردې بنسټ دارمني(ERKU )او د دري (دو ) او پښتو(دوه ) هم ديوه واحد اصل څخه راوتلي اوبېل شوي دي.. (مخونه ۳۹: ۵۱-۵۲) د پورته لنډو څېړنو ، يا دونو ، نظرياتو او بېلګو څخه دا جوتېږي چې ژبپوهنه د فيلالوژۍ يوه برخه ده. چې په ښکاره او ظاهري ورتوالي ، مشابهت او خيالبافۍ حکم نه کوي. او له هغه څه چې د عاميانه (فقه اللغه ) فيلالوژۍ په نوم يادېږي راوتلې ده. چې د ژبې په اړه وينا او نظريات او پوهنيزو (علمي ) اصولو سره اشنا يي لازمه او اړينه ده. دد ې اړتيا دې بشپړاوي له پاره يو څه هم د ژبپوهنې په تاريخچه تم کېږي. چې د ژبپوهنې تاريخ د ژبې د ځانګړو او تخصصي څېړنو او مطالعاتو په معنا او مفهوم ده. ) څرنګه چې ؛ مخکې د (فلالوژي په آريانا ) بحث کې مو ورته نغوته وکړه بيا يې هم يادونه کوو. چې د سانسکريټ د ګرامر د تاليف تاريخ څخه چې په څلورمه مخزيږد پيړۍ کې ليکلی د سانسکريټ ژبې له پاره ډېر پرمختللی ګرامر ګڼل کېږي. را پيلېږي خو ژبپوهنه په اوسني عصري مفهوم سره د فردينانند دوسوسور ( د عمومي ژبپوهنې دوره ) کتاب تر خپرېدو وروسته پيل شوه. د دوسوسور د ژبې د تشريحي ( په يوه ټاکلې تاريخي دوره کې ) او تاريخي ( د تاريخ په اوږدو کې ) څېړنو ترمنځ په توپير قايل شو او ( د ژبې نظام ) باندې ټينګار وکړ. چې په ۱۹۵۰ ز لسيزه کې ( نوام چامسکي ) په دې برخه کې څرګند بدلون (انقلاب) راوست. چې د توليدي ژبښودنې (ګرامر) د رامنځته کيدو لامل شو. ( Generative

(c) ketabton.com: The Digital Library

Grammar ) ده. پـه (Behaviorist ) سـلوكي اروا پـوهنې بانـدې سـخته نيوكه وكړه په سلوكي اروا پوهنه كې د ژبې زده كړه سلوكي تقليد گڼي او د اسـنادو او شـواهدو پـه وړانـدې كولـو سـره يـې د هغـوې منفـي اړخونـه را برسـېره كـړل. نومـوړې پـه دې بـاور و. چـې پـه انسـان كـې د ژبـې اصـول او ځانگړنې ذاتي او فطري دي. يا په بله وينا د ژبې زده كړې لارې چارې په ارثـي او جنتيكي بڼه په مغـزو كـې ځـاى پـر ځـاى د ي. او چاپېريـال د ټولنـه ماشوم ته يوازې د مـورنۍ ژبې زده كـړه كـې تحريـک كـوونكې دنـده ترسره كوي. ماشوم د معلوماتو يوه لړ شمېر ټولگه له خپل ژبني چاپېريال څخـه تـر لاسه كـوي. او نـوي تركيبونـه جوړوي. ځكه چې پـه ځـان كـې دا ځـواكمني شتون لري. (۳۲:۲۸مخ) د نظر پخواني خاوندان په دې باور وو. چې مـورنۍ ژبـه په اكتسابي بڼه يوازې د شا او خوا خلكو د وينا د اوريدو لـه لارې د ماشـوم ذهن ته ننوزي. څرنگه چې مخكې ليكنو كې هم څه نا څه يادونـه وكـړه. پـه ژبپوهنه كې ځينې پـوهنيز انقلابونـه رامنځتـه شـوي دي. چې د ژبپـوهنې د پوهې په تاريخ كې يو څو د پام وړ ټكي شتون لري. د ژبپوهنې په څانگه كې لـومړنی علمـي انقـلاب تـاريخ پيـژندنـه Historicsm دی. چـې پـه اتلسـمه پيـړۍ كـې رامنځتـه شـو. هغـه څـه چـې د ژبپـوهنې پـه تـاريخ كـې د لـومړي انقلاب پيلامه وگڼل شوه. (۱۷۸۲ ز ) كال ته رسېږي. (۴:۲۲۴ مخ ) لكه څرنگه چې پورتـه څېړنـو كـې يادونـه وشـوه. ويليمزجـونز كلـه چـې سانسـكرېټ، د لرغونې فارسي ژبې او لاتيني ژبې متـون سـره پرتلـه كـړل پـه دې بـاوري شـو چې د ادرې وا ړه ژبـې لـه يـوې منشـاء چـې هغـه انـدو اروپـايي مورينـه ده، سرچينه اخيستې ده. چې دا هم د ژبپوهنې په تاريخ كې لومړنی انقلاب پيل كړ. ورپسې د ژبو برخليـک د ژبـو كـورنۍ او دا چـې دې ژبـو د څـو ډلـو څخـه سرچينه اخيستې ده. پيل كړ. چې دا انقلاب د ( تاريخ پيـژندنې تـر سـرليک

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې مطرح شو. په دې دوره کې د ژبپوهانو پاملرنه د تاریخي بدلونونو او تحولاتو ته اوښتې او هرې ژبنۍ پدیدې څرګندول او بیانول تیر وخت او مهال ته په کتنې او پاملرنې سره و. دا انقلاب د یوې ډلې ژبپوهانو په پیدا کیدو سره ( نیوګرامریان New Grammarians ) ویل کېدل. بشپړ شو. چې دوی بیا د ژبنیو بدلونونو له پاره د قاعدو او قوانینو دموندلو په لټه کې شول.

په ژبپوهنه کې دویم انقلاب جوړښت پېژندنه (Structuralism ) دی. چې بنسټ اېښودونکی یې فردیناند دوسوسور دی. دو سوسور ژبپوهنې د تاریخ پېژندنې او لومړي انقلاب په وړاندې یو عکس العمل و. هغه څخه چې سوسور په دغه بحث کې مطرح کول ، د ژبې تشریحي حالت ته پاملرنه وه؛ نه دهغې د تاریخ بیان ته. خو د سوسور د بحث جوهر د نښې او علامې په مفهوم ولاړ و. سوسور ژبه د یوه نظام په توګه تر څېړنې لاندې ونیوه. او تشریحي ژبپوهنه یې له تاریخي ژبپوهنې بیله کړه. تر دې وخته پورې د پوهنتونونو د ژبپوهنې څانګې ډېرې په تاریخي ژبپوهنې بوختې وې. سوسور داسې نظر درلود ؛ چې نښه یا علامه کلمه ده. او کلمه د ژبې بنسټ دی. نوموړي له دال او مدلول څخه خبرې کولې. چې د نښې یا علامې دوه عمده برخې دي. د سوسور دا پورته نظر پنځوسو (۵۰ ) کلونو پورې ژبپوهنه تر خپلې اغیزې لاندې نیولې وه. د جوړښت پېژندنې په دوره کې چې شلمې پیړۍ په لومړۍ نیمایي پورې اړه لري د ژبپوهنې عمده کړنې د ژبې صرف او غږیز نظام و. د ژبپوهنې په دې دوران کې د پراګ په مکتب کې متن مطرح شو. بیا ورپسې د پراګ په مکتب کې خبرو اترو (ویلو اوریدلو ) د تحلیل په برخه کې ښه زیری ګڼلای شو. دغه مکتب په رول لوبونه او دنده پالنه (Functionalism ) باندې باور درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا راز په ۱۹۵۷ ز کال نوام چامسکي د ژبپوهنې په برخه کې دربيم انقلاب د نړيوال ګرامر او د ماشوم د ژبې د زده کړې په اړه د نظرياتو په وړاندې کولو سره رامنځته کړ. دا نظريات د ژبپوهنې په پوهه د يوې مهمې نظريې د اډانې د رامنځته کېدلو لامل شو. چې توليدي ګرامر ورته ويل کېږي. د دغه انقلاب په دې سبب د پاملرنې وړ دی. چې دی په ژبپوهنه کې وينا پوهنه (نحوه) بنسټ ګڼي. او د ژبپوهنې له پاره يې غونډله (جمله) د مطالعې واحد وټاکله. پردې بنسټ ژبپوهنې يو تکويني بهير پر مخ وړی.
په شمالي امريکا کې له ۱۹۵۰ ز کال څخه تر او سه پورې د نوام چامسکي ليد لوری او د توليدي ژبپو هنې په نوم د هغه مېتود پلويان لري. دا مېتود دلومړۍ جملې په سطحه باقي پاتې دی، او تر جملې وړاند ې نه ځي. دويم دا چې د دکارت د عقل پالنې په تفکر باندې باوري دی. يعنې دا ټکی د انسانانو د ژبنۍ پوهنې يوه برخه ده. چې د زوکړې له لومړۍ شيبې څخه له دوی سره نړۍ ته راځي. پر دې بنسټ بايد په دې سره باوري او معتقد وي چې؛ د ژبې ځينې ځانګړنې ذاتي او فطري دي.
په همدې بهير کې د شلمې پيړۍ د شپږمې لسيزې په شاو خوا کې يو شمېر پوهانو خپل نظريات څرګند کړل، چې په ژبپوهنه کې څلوم انقلاب ورته ويل کېږي. دوی د پراګيانو د مکتب تفکر چې د چامسکي د ژبپوهنې د نظرياتو سيال او رقيب و. راژوندی کړ. يعنې چامسکي (جمله بنسټ ګڼله) او د دکارت د عقل پالنې په فلسفي نظر باوري و. د څلورمې پېښې ارزښتناکه او عملي بڼه درلوده. او ددې نظريې خاوندان په دې باور و. چې د ژبې د مطالعې واحد بايد (ويل او اوريدل) وي. پر دې بنسټ دا نظريه له فلسفي پلوه د تجزيې وړ وه. دا انقلاب ژبپو هنه له ټولنپوهنې سره ګډه ګڼي، خو د چامسکي نظريه ژبپوهنه د اروا پوهنې او په پای کې له ژوند پوهنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره مانوسه ګڼي. وروستۍ پېښنه څرګندوي هغه څه چې په تصور او خيال کې جوړ شوي له دې څخه ډېر ارزښتناک دي او دا ښکاره کوي چې هغه جمله په يوه متن پورې اړونده ده. ان تر دې چې که ساده هم وي. معناوې لري: خبري محتوا او منځپانګه (دڅه شي په اړه خبرې کېږي) او ددې محتوا په بيان کې په کومه بڼه تعامل ټينګيږي. دويمه معنا داده ؛چې دا جمله د يوه متن د اجزا Component په توګه څومره په متن جوړونه کې مرسته کوي. د څلورم انقلاب بنسټ (ويل او اوريدل) جوړوي. او هېڅکله جمله د يوه خپلواک واحد په توګه نه څيړي. تل په متن کې څېړنه کوي. دا سمه ده چې دا علامې او متعارفې بيلګې په توګه ژبنی واحد او توک متن دی. ولې سره له دې هم باوري دي چې ان تر دې يوه کلمه هم کيدای شي متن وي ؛ لکه (غورځنګ) يعنې متن ټاکلې اندازه نه لري. (۲۳۵:۴ مخ) د پورته يادونو څخه دا پايله په لاس راځي. چې ؛ ژبپوهنه **Linguistics** هغه پوهه ده چې د ژبې څرنګوالی ماهيت د پوهنيزو او معاصرو مېتودونو پر بنسټ مطالعه کوي. او د بيلابيلو ژبو کورنۍ ، د هغو يو تر بله تاريخي بدلونونه او اړيکې ډلبندي او تشريح کوي. په ټوليزه توګه په ژبپوهنه کې ژبه او دوو اړخونو څخه څېړل کېږي. ژبه دوينا دځواک په توګه يعنې هم هغه ځانګړتيا چې آدميان له ژويو څخه په توپير کې تر مطالعې لاندې نيسي. او پر هغه شته قوانين څېړل کېږي. (۱۴:۱۷ مخ) او بل اړخ ټولې مورنۍ ژبې څېړي د ننۍ نړۍ د کاريدونکو ژبو معلومونه ، ودې او د وروستيو څېړنو کې چې د ژبپوهانو له خوا شوي دي. د نړۍ د ژبو شمېره ۲۰۰۰ څخه ډېره ښيي. چې په ځينو ملتونه او په ځينو د ګوتو په شمېر وګړي خبرې کوي. څرنګه چې ټولنې تل په بدلون او تحول کې دي. او له انقلابونو څخه اغيزمنې کېږي او هېڅ کله هم ثابتې نه شي پاتې کېدای پر همدې بنسټ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله طبعي ځانګړتیا خپل اصول بدلوي. چې ژبه هم په ټولنیز چاپېریال کې د خپل ماهیت پر دلیل چې هغه ټولنیز والی دی. یو ثابت پاینښت نه لري. او تل د ټولنې له بدلون سره تحول او بدلون کوي.چې دا بدلونونه او تحولات د ځانګړو ژبنیو قاعدو او قوانینو پر بنسټ منځته راځي، چې د دغو بدلونونو پېژندنه د ژبپوهنې د کار په محدوده کې ده. دا محدوده بیا ببلا ببلې برخې او څانګې لري.دژبې مطالعه بوه پراخه ساحه رانغاړي ،چې دژبې ټول اړخونه ،ممیزات،ډول ډول پړاونه په عینې وخت کې او تر یو سر لیک لاندې مطالعه او څېړل کېدای.پردې بنسټ ژبنیو پدیدو څېړونکو او ژبپوهانو د پلان او موضوع سره سم او په څېړنه کې د اسانتیا او و په موخه په لاندې څانګو وېشل کېږي:الـواکي(نظري) ژبپوهنه Theorettical Liguistics دا و سنیو ،معاصرو پوهنیزو مېتودونو سره سم ، د پوهنیزولیدنو او مشاهداتو په اغېزمنتیا دژبې په اړه دحقایقو په راسپړنه او دکلیاتو ،پرنسیبونو او تعریفونو په تأسیس بخث کوي.د بوې پوره او بشپړې منظمې تیوری ټولګه رامنځته کوي.چې دژبو په اړه په ټولیز(عمومي ) او ځانګړي ډول صدق کوي.نظري ژبپوهنه د څېړونکي دموخې او اړتیاله پلوه کېدای شي ، په داسې څانګوو وېشل شي چې له بوې خوا دنړۍ دژبوله بنستیزو کورنیو سره د تاریخي تړاو له پلوه سمون ولري او له بل پلوه په ډېرو محدودو او فرعي څانکو و وېشل شي ،چې په تر تیب سره دلومړۍ برخې و بشنه لکه داندواروپایي ، سلاوي یا دآریک ژبو ژبپوهنه او دویمې وېشنې له پاره چې فرعي څانګې دي ، لکه دآریاني ژبوا واندوآري ژبوژبپوهنه ،چې دواړه په آریک ژبې پورې اړوند بېږي.دنظري ژبپوهنې د څانګوله تشریح څخه موخه په هغو څانګو باندې دهغې وېشل دي چې دژبې دڅېړنې علمي مېتودا وبرید پولې ټاکي،ځکه دا څانګې ټولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره تړښت او په ځينو برخو سره ننوتې دي؛ کېداى شي دژبپوهانو دژبوهانو دخېړنې وړ وګرځي.
علمي او تطبيقي ژبپوهنه Applied Linguistic عبارت له هغې ژبپوهنې څخه ده ،چې د ژبنيو مسايلو دحل او روښانتيا له پاره دژبپوهنې په اړه دنظرياتو ،مېتودونو اوموندنوله کارولوڅخه بحث کوي. دتطبيقي ژبپوهنې ساحه ډېره پراخه او ارته ده. اودبهرنيوژبو زده کولو او ورزده کولو ،دژبې دتدريس په ساحه کې داړوندوموضوعاتودتدريس لکه دژبې ګرامر،متنونه،املا ،انشا اوداسې نوروڅخه کار اخلي. همدا ډول: کلتورليکنه،ژباړه اوتفسير،سبک پېژندنه ،ژبني اختلالات،دويناتحليل او دلوستلو مېتودونه هم رانغاړي.ژبپوهنه دژبې له تيوركي اونظري مطالعاتو څخه پرته نشي رامنځته کېداى،پردې بنسټ عملي ياتطبيقي ژبپوهنه په الواکي(نظري ) ژبپوهنه ولاړه ده.دريمه څانګه چې ده زده کړييزه ژبپوهنه Educationnal Linguisjics ده هغې ته وايي، چې دبوه ولس ،هېواد اوياهم سيمه ييزې ژبې دزده کولو او ورزده کولوبهير په ښوونيزو ،تحصيلي او اکاډميکوځايونوکې تربحث اومطالعې لاندې نسي اوپر مخوړي.چې Pedagogical Linguistics هم ورته ويل کېږي.په همدې توګه دسواد زده کړې بېلابېل مسايل مطالعه اوژبښودنې پرمختللي مسايل اوموضوعات لکه ادبي سبکونه ،ارزونه،کلمې اودژبې کارونه اوپه هر اړخيزه معنا دژبپوهنې پکاراچونه ، په متونواوعملي برخوکې دژبې کارونه اولارې چارې دښوونکو اوزده کونکوتر منځ دخبرو اترو ماهيت تر مطالعې لاندې نسي.بله ټولنيزه ژبپوهنه Socialingistics ده هغه ژبپوهنه چې دژبې دلارو چارو يوکېدل دانساني ټولنو سره په ځانګړې توګه: نژاد ،نژادپالنه،طبقې،قشر،جنس اوټولنيزو ادارولمه مقولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره په اړيکو کې تربحث او مطالعې لاندې نسي. ټولنيزه ژبپوهنه د ژبې او ټولنپوهنې تر منځ توپير په نظر کې نسي. ولې د ژبې ټلنپوهنه د ټولنپوهنې له ليد لوري کړنو ته لېوالتيا لري. په دې معنا که په ټولنه کې بدلونونه منځته راځي همهال په ژبه کې هم بدلونونه ځرګند يږي ځرنګه چې ټولنه تل د بدلون په حال کې ده او وي، ژبه هم ورسره تحول او بدلون مومي. په همدې بهير کې بله څانګه تاريخي ژبپوهنه Historrical Linguisti ده عبارت له هغې ژبپوهنې څخه ده، چې د ژبې جوړښت، منځته راتګ نظام بدلونونه د تاريخ په ټولو پړاونو کې يعنې له پيل تر پايه مطالعه، بحث، څېړنه او تشريح کوي. د يوې ژبې لرغوني او وروستني ژانرونه، فورمونه او ډولونه له پلټنې او يا د بېلا بېلو ژبو له پرتلنې څخه دا په ډاګه کېږي، چې ځيني ژبې سره خپلوي لري او ځيني نه لري. لکه اندواروپايي کورنۍ ژبې په همدې توګه کېدای شي چې بنې يې بيا ورغول شي او ښکاره شي، چې په يوه فرضي ژبه کې مخکې تر دې چې ليکنې سوابق يې شتون ولري د غه سوابق موجو وو. د بېلګې په ډول د اندواروپايي ژبو د مورينې ژبې *p په هغه p پورې اړوند کېږي چې د سانسکرېټ ژبې د pito په کلمه کې دې او په انګلسي کې د Father د کلمې په (F) پوره اړوند کېږي، چې د (پلا) په معنا ده. په همدې ډول بله څانګه تشريحي ژبپوهنه ده عبارت له هغې ژبپوهنې څخه ده چې د ژبې جوړښت، نظام، بدلونونه د تاريخ په يوه ټاکلي پړاو کې تر بحث او څېړنې لاندې نسي د ژبپوهنې دا څانګه د ژبپوهنې نورو څانګو ته د بنسټ او سريزې حيثيت لري. د تشريحي ژبپوهنې برخې: غږپوهنه، فزکي غږپوهنه، د غږونو وتونځي، کلمې (صرف) مورفولوژي، ويناپوهنه (نحو) پوهه ده. سربېره پر دې د ژبپوهنې بله څانګه پرتليزه ژبپوهنه Comparative Linguistics ده چې له تاريخي ژبپوهنې سره نږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تړاولري او بېلابېلو ژبو(ېوې کورنۍ يا ېوې څانګې او يا هم د ېوې ډلې يا هم د دوه کورنيود ژبو ) څانګړنې ،اړيکې او تړاو تفاوتونه سره پرتله کوي چې له تاريخي پلوه له ستې رابېلې شوې وي او ياله بېلو ستو څخه وي. د دې ژبپوهنې موخه داده چې داړوندو ژبو ستې اولومړنۍ ژبې جوړښت او نظام له هغو قاعدو ،اصولو او پرنسيبونو سره سم چې لري يې بيا څلي ورغوي، د ستې يالومړۍ منشا ژبې د ژبنۍ جوړښت بنې چې د دې پوهې د مېتودونو سرسم وي اټکلي(فرضي ) خوبنستې او اصل ته نږدې وي، تاريخي پرتليزه (مقايسوي )ژبپوهنه نړېوال اصول ته نږدې وي. تاريخي پرتليزه (مقايسوي ) ژبپوهنه نړېوال اصول او قواعد لري، چې(پرتليزو اصولو ) په نوم ياديږي.ځنې کسان دې څانګې ته اوس هم پرتليزه لغت پوهنه Comparative Philology يا پرتليزه ژبښودنه Comparative grammarاصطلاوې کاروي.د دې ليکنې په بهير کې بله څانګه هم مقابله يې ژبپوهنه Contrastive Linguistics کاروي.د دې ليکنې په بهير کې بله څانګه هم مقابله يې ژبپوهنه ده، چې د دوو يا څو ژبو جوړښت، بدلون او نظام چې له تاريخي پلوه سره اړيکې لري يا يې نه لري د پوهنيزو موخوله پاره ،يې مقابله کوي.د پرتليزې او مقابله يې ژبپوهنو توپيرپه دې کې دي، چې په پرتليزه ژبپوهنه کې هغه ژبې سره پرتله کېږي، چې له تاريخي پلوه سره اړوندې وي يعنې له ېوې ريښې څخه وي لکه (دري، تاجکي، پاړسي) (۲۳۷:۴) چې په لسګونو پېړۍ پخوا سره هم ريښه وې او وس د درې بېلابېلو هېوادونو اوقومونو ژبې دي (پارس، تاجيک او د بګان يا تاجيک )اود داراز ژبو په پرتله کې د ژبو تا يخي تحولات هم په پام کې نيول کېږي لکه (دري او منځنۍ پاړسي ) ولې په مقابلوي ژبپوهنه کې سره اړوندې ژبې (همريښه ) لکه (دري او منځنۍ پاړ سي ) او يا نا اړوندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

(پښتو او عربي) دواړه سره مقابله کولای شي په دې پرخه کې تاریخي بدلونونه په پام کې نه نیول کېږي.په همدې توګه بله فلسفي ژبپوهنه Fhilasophical Linguistics ده.دا دژبپوهنې هغه څانګه ده ،چې دژبې ونډه دژبې د درک سره په اړیکه کې او دفلسفي مفاهیمو تشریح اودانډونو فلسفي حالت او ژبني مېتودونه ترمطالعې لاندې نیسي.بله څانګه چې ده هغه سیمیه ییزه ژبپوهنه Areal Linguistics ده دجغرافیاوي سیموځېړنه او مطالعه ده چې ځانګړنه یې دګډوژبنیو ځانګړنو درلودل دي.ژبنۍ سیمه چې کله ورته Sprachbund هم ویل کېږي ، له یوې کورنۍ څخه په ډېرو پورې اړوندې ژبې لري،خوګډې ځانګړنې هم شتون لري، چې دکورنیو په نوروغړوکې لږترلږه یوه یې شتون ونه لري ،دبېلګې په توګه (نچ) غږونه دسهیلي افریقا په سیمه کې په څومتفاوتو اوبېلابېلوژبنیو کورنیوکې شته دي. بله جغرافیایي ژبپوهنه Geolinguistics هغه ژبپوهنه ده چې په نړې کې دژبوجغرافیاوي وېش اودهغوی دسیاسي ،وټیېزو(اقتصادي) اوکلتوري حالت په پام کې نیولو سره مطالعه کوي او Geographical Linguistics هم ورته ویل کېږي. دا ګړنې(اصطلاحات) په ځانګړې معناسره هغوپېښوته کارول کېږي ،چې دګړدودونو بڼې یادلهجو جغرافیا ،دښارونو په لهجو پورې اړوند مطالعات اوانساني جغرافیاته له ژبني اوټولنیز پلو سره اړیکه ورکوي. دیوې ژبې ګړدود د ډول ډول بڼو بدلونونه او ورتوالی دسیمو اوجغرافیایي حوضوپربنسټ په ټاکلونقشو کې ثبتوي. دې ډول نقشوته (ګړدودیز اطلس) ویل کېږي. داڅانګه کله کله د ګړدودپوهنې په نوم هم یادېږي. همداډول بله اروایي ژبپوهنه Psycho Linguistics ده: دا هغه ژبپوهنه ده چې دژبني سلوک اود ذهني تکړتوبونو(مهارتونو ) اوبهیرونو ترمنځ متقابله اړیکه ،چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سلوک بنسټ او بېخبنسټ(زيربنا ) ګډول کېږي مطالعه کوي. پخوا ورته دژبې اروا پوهنه ويل کېده، دماشومانو په وسيله دژبې دکسبولو مطالعې ته د بري وخت پرمختيايي اروايي ژبپوهنه Developmental Psycho Linguistics ويل کېږي کله چې داروا پوهنې دنظريو او بهيرونو دوړاندې کولوله پاره دبوه توکي (عنصر ) په توګه دژبې په کارولو باندې ټينګاروي ، دارواپوهنيزې ژبپوهنې Psycho Linguistics ويل کېږي.بله نوعي ژبپوهنه ده يا دژبې ډول پېژندنه Typology Of Language ده، چې دژبو ترمنځ جوړښتي ورتوالی پرته دتاريخ په پام کې نيولو سره مطالعه کوي.دژبو دډولونو پرتلنه په ځانګړې توګه دژبو تر منځ په هغو موادو کې داړيکو دټاکلو له پاره هڅې دي ،چې پر وراثتي بنسټ باندې دډلبندۍ دمنلو او تايدله پاره تاريخي لاسوندونه او مدارک په واک کې نوي، چې په دې برخه کې څو مقولې پېژندل شوي دي.بېلونکي تحليلي يا ريښه يي(Analytic isolatingortoot)ژبه هغه ژبه ده چې کلمې يې بدلون نه منونکي دي او نحوي اړيکې دکليمو دسمون او ترتيب له لارې بيانېږي لکه : چيني اوويټنامي ژبې.بل ترکيبي يا تصريفي(Inflected inflectional) ژبه چې دتحليلي مقولې په تقابل کې واقع ده، په دې ډول ژبو کې کلمې ډول له يوه څخه ډېرمورفيمونه لري خو ددې مورفيمونو او کلمې دليک جوړښت ترمنځ سمون شتون نه لري ددا ډول ژبو بېلګې: لاتيني، يوناني، پښتو ،دري اوعربي غوندې ژبې دي. همدا ډول پيوندي ژبه( Agglutinative or Agglutinating)هغه ژبه ده چې کلمې يې بوه له بلې سره دڅنګ په څنګ اېښودلو سره جوړېږي او اوږده لړۍ منځته راوړي لکه جاپانۍ ،ترکۍ اوسواحلي ژبې.همداراز څوترکيبي ژبه( Incorporating or Polysynthtic ) چې دکليموبڼه يې پېچلې او اوږده ده،دپيوندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او تصریفي ځانګړنو آمېزه لري او د ډېرى کلیمو کارونه یې د بشپړو غونډلو (جملو) د کارونې په څېر دي. دا ډول ژبه د استرلیا په ځایي یا بومي ژبو کې لیدل کېږي.

ریاضیکي ژبپوهنه (Mathematical Linguistic) هغه څانګه ده چې د ژبې حسابي او ریاضیکي ځانګړنې مطالعه کوي لکه د متنونو احصایوي ځانګړتیاوې د زنځیري ټولګو (مجموعو) جبري مطالعه، د صوتي ځانګړنو مطالعه د ژبښوونیز و قاعده الګوګانې او په محاسبه کې د ترکیب او تجزیې لوګاریتمونو کشف تر څېړنې لاندې نیسي. په همدې توګه د متن ژبپوهنه یا (Text Linguistics) عبارت له هغې ژبپوهنې څانګې څخه ده چې لیکلي او نالیکلي متون لکه توصیفي د خبرو اترو یا ننداري صحنې او داسې نور تر څېړنې لاندې نیسي. دا پوهه د یوه متن د برخود تنظیم او اړیکو مېتود یو له بل سره د مفهوم لرونکي او بشپړ متن منځته راتګ په موخه په پام کې نیسي. ځینې ژبپوهان دا ښه ګڼي چې ټول نالیکلي یعنې شفاهي متن په ځانګړې توګه له بوې جملې څخه ډېرې اوږدوي د تحلیل او تجزیې تر سر لیک لاندې وڅېړي.

انسان پېژندنې پورې اړونده ژبپوهنه (Anthropological Lingyistics) د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې د ټاکلې ټولنې د ژبې کلتور (دودونه یا خویندو ژبو او کورنی جوړښت) ترمنځ اړیکې څېړي بشرپوهانو د ژبې په برخه کې مېتودونه مطالعه کړي دي چې په بېلابېلو فرهنګونو کې د کورنیو خپل منځي اړیکې بیانېږي او دوي په دې برخه کې څېړنه کړې ده ، چې دوګروپه ځانګړو ټولنیزو ، فرهنګي چارو لکه ملي ، مذهبي مراسم ، رسمي غونډې، جرګې ، د خوښۍ مجلسونه او داسې نورو کې یو تر بله څه ډول روغبړ کوي وروسته بیا دوي د دغو لاسته راوړنو او موندنو ته د بوې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځانګړې تهولنې لـه تهولنيز جوړښت سره اړيکه ورکړي.دژبې دوګړپوهنې دولســـتنې(مطالعې ) ځينـــې څـــانګې دژبپـــوهنې پـــه سوســـيالوژي (Sociolinguistics ) اوپـــــــه انتـــــــوګرافي اړيکـــــــو (Etnographycfcommunication ) پوري اړوند برېږي. ژبپوهنه لـه پورتـه يادوڅانګو څخه پرته نورې څانګې هم لري چې هغه زما دليکنې لـه چوکاټ څخه ډېربرېږي اودژبپوهنې په ځانګړوآثارو اوقاموسونوکې شتون لري. ماپه هغه اندازه څانګې را واخيستلې کوم چې دفيلالوژۍ داړينې برخې جزوي.

## ۴-دنړۍ دژبو کورنۍ:

څرنګه چې ژبپوهنه دژبوپه اړه هراړخيز معلومات وړاندې کوي نوپرهمدې بنسټ دژبو ،ژبپوهنې اوفيلالوژي پوهانودخپلونـه سترې کېدونکوسپړنو اوڅېړنوپـه تـرخ کـې دنړيوالوژونديوژبوشمېره لـږ وډېره دڅلورزره ژبـو پـه شاوخواکې ښودلې ده او آن چې لـه دې هـم لا ډېـرې، چـې دابيـا پـه اصـلي اوفرعي خپلوانوژبوو ېشل شوي دي ددغوڅېړونکوپه آند تهولې ژبې لـه يـوې ياڅو ژبنيومورينوڅخه چې دژبونيا ګڼل کېږي رامنځتـه شوې دی اوهـرې يوې ژبې په خپل ځانګړي بهيرسره تکامل کړی دی.ددغـه بهيـر اوبشـپړاوي پـه اړه دوه اندونـه شـتون لري،چـې پـه واقيعـت کـې دواړه نظـره پـه يـوه چورليزاومحور راڅرخي:الف شجريي نظريات(Treetheory )چې دلومړي ځل لپاره الماني پوه شلايشر(A.scheicher ) لخوا وړاندې شوې هغـه پـه دې باوردی چې تهولې بشري اودبشپړتيا په بهير کې ژبې ديوې واحدې ژبې سره داسې اړيکه لري لکه ديوې ونې بېلابېل ښاخونه اودې اړيکوته نسبي ياجينټکي اړيکې وايي.دځمکـې پـرمخ بېلابېلـو سـيموکې پراخـې ژبنـۍ سـاحې شـتون لـري چـې دژبـو ډلـې يـې دګرامـري جوړښـت سـره ورتـه والی،کلمواودبيا طرزو ،ريښې دورته والي پربنسټ ژبپوهانودنړۍ ژبې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ســـتروکورنیوا و ډلـــوچې دغړپـــوهنې اونـــوروګرامري اوکلمـــه یـــي جوړښــتونوکې ځرګنــدې ځپلــوی سـره لــري وېشــلي دي اودژبود کــورنۍ (Family of Language) په نوم یادېږي.
پورته یاده ډلبندۍ کې دژبو یوه ډله کولای شي دکورنۍ ونه برابره کړي، چې دهغوي نسبي مهالي تړون یا زمان بندي ځرګندوي. په ډېره ځیرني یعني دقیقې پرتلنې سره دهرې کورنۍ غړي یوه یوه ژبنۍ ځانګه رامنځته کوي دا ډل بنـدي ډېـرې ګټـې لـري چـې یـوه یـې داده دژبـو پـه پراخـه او پېچلـې ډلبندۍ کې تریوې اندازې دژبو پراړیکو او تړاونوکې چې یو تربله یې سره لـري سـتونزې رالـړه وي. دبېلګـې پـه توګـه بـه دلتـه د(انـدو اروپـایي ژبـو کورنۍ )ځخهداندوآریایي یاهندي ځانګه وښایي



(H.L.F : ٤٧)
٣- شکل

په دې ډلبندۍ کې هرښاخ دیوې ژبې پـه توګـه ځځېـدلې دی او لـه یـوې تنـې ځخه بېلې شوې دي چې هغـه هـم داروپـایي کـورنۍ چـې لـه هغـې ځخـه نـورو ژبوتکامل کړی. ځرنګه چې دا ژبې یوه له بلې سره نسبي اړیکـې لـري نـو پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدې بنسټ په اندو اروپايي ژبو کې د مور کلمه داسې ترپرتليزې سپړنې لاندې نيسو: اندو اروپايي ژبو کې مور ( *mãtã )کلمه ،اوستايي ( mãtar )، زړه فرس ( mãdar )، سانسکريټ( mãtar )، سلاوي ( mãti )، يوناني ( meter )،لاتين کې ( mãter )،ليتواني ( motë )، الماني ( muoter )،تخاري ( mãcer )،آيسلنډي ( modir )، اېرلنډي ( mãthir )، البانيايي( motër )،ارمني ( mary ) ،دري( mãdar )،اورمړي( mawa ) او پښتو( mor ). (۲۳۴:۴)

څرنګه چې پورته يادونه وشوه په ټولو اړوندو ژبو کې اصلي ريښه ساتل شوې او آن کلمه په لږ الون بدلون تلفظ کېږي.

ب دويمه نظريه څپه ييزه نظريه ده ( Wavetheory ) : په لومړي سر کې شمېټ( J.schmidt ) لخوا وړانديز شوه. نوموړي ژبني بدلونونه او تحولات هغو څپو په څېر ګڼل کوم چې اوبو کې د ډبرې دلوېدو پر مهال رامنځته کېږي، چې له يوې مرکزي سرچينې څخه خپرې شوې وي.په دې نظريه کې هره څپه د خپلې مخکښنۍ څپې پايله او د خپلې وروستۍ څپې درا څرګندېدو سبب کېږي.

که چېرې دا دواړه نظريې سره پرتله کړونو وبه ګورو چې شجره يي نظريه د بدلونونو د پېښېدو څرګندونکې توصيف او څپه ييزه نظريه د خپرېدو توصيف دی.په او سنيو شرايطو کې ژبپوهان د ژبو په څو کورنيو باوري دي او حساب پرې کوي.د دې ژبنيو کورنيو ترمنځ د دقيقو اړيکو او څېړنو په پايله کې موږ تر اوسه هم دې موخې ته نه يو رسېدلي چې يوه واحده او پيليزه ژبه پيدا کړو . ولې د ژبپوهان د څېړنو په ترڅ کې په دې يوه خبره سره يوالی لري چې د نړۍ په ټولو ژبو کې ژبنۍ نسبتاًيوډول ځانګړنې شتون لري، چې د نړيوال ګرامريا( Universangrammar ) په رامنځته کېدو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

شته والي باوري دي او دځانګړنو په رابرسېره کولو يې بوخت دي.او په دې ترڅ کې يې په نړيواله کچه دځينو کورنيو شتون منلی دی.چې په لاندې توګه به دهرې يوې کورنۍ په اړه څه ناڅه معلومات وړاندې کړو.

## ۱-۴ اندو اروپايي کورنۍ:

له نوم څخه يې څرګندېږي چې له هند څخه تراروپا پورې پراخې سيمې رانغاړي اوبېلابېلې ژبې په کې شاملې دي،خو تاريخي پيښوځينې اندو اروپايي ټبرونه يوبل سره لرې کړي او ډېرې يې سره نږدې کړې دي چې اوس په اندو اروپايي کورنۍ کې ځينې داسې ژبې موندل کېږي چې ډېرې همرنګي(تجانس ) سره لري په ټوليزه توګه په دې کورنۍ کې دوه سوه ژبې او دوه ميليارده ويونکي لري،چې دنړۍ نيمايي وګړنيزه ټولنه رانغاړي او په لاندې بېلابېلو ډلويا ګروپونو کې شامېلې دي.

ر:لاتينه ډله يا ګروپ:

رومانيايي، ساريني، ايټاليوي، کرسي، پرووتسال، اوکسيتياني، کاتلان، اسپانيوي، پرتګالي او فرانسوي پهکې رازي.

بن:ګرمانيک ډله:

ايسلنډي(سويډني،ناروېژي،ډنمارکي )سکنډنيايي،الزاسي،افريقايي،ه النډي،الماني اوانګليسي په برکې نيسي.

ز: سلاوي ډله:

کرواتي، صربي، سلاوياني، بلغاريايي، اوکرايني، بېلاروسي (سپينه روسي )، روسي پولنډي،سلواکيايي،چېکي په کې داخلې دي.

خ:سلتي ګروپ:

واکوسي،ګالي،ايرلنډي او بريتانوي په کې شتون لري.

ټ:بالتي ډله :

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېتواني او لاتوي ژبې په کې شاملې دي.
ن:بېلابېلې ډلې:
د کولايانو ،ارمني ،يوناني او البانيايي ژبې کې شاملې دي چې همدا مهال دا اندو اروپايي ژبې شمېرل کېږي.
د:آريک ډله:
(الف) آرياني څانګه: پاميري ژبې ،اورمړي، پراچي آسي، کردي، بلوڅي، پښتو، پارسي، دري، تاجکي، په کې شاملې دي.
ب:اندوآري څانګه: نيپالي، اسامي، بنګالي، ګجراتي، مراټي، سريلانکايي، سينهالي، پنجابي، سندي، اردو او هندي رانغاړي.(۸:۸-۹)
ج:دارديک:انکو ،پشه يي ،نورستاني اونورې ژبې په کې شتون لري.

اروپايي ټبرونه ميلاد څخه لږتر لږه پنځه زره کاله پخوا د اوسنۍ روسيې هېواد سهيل لور ته په پراخه سيمه کې د سايبريا سهيل ته په دښتو او غونډيو د اورال په بحيره ، دخزر بحيرې شمال ، او د قفقاز شمال ته اوسېدل د هغو شواهدو او لاسوندونو له مخې يې لاس کې دي ، اندو اروپايي ټبرونه له څلور زره تر درې زره مخزېږد کلونو په شاوخوا کې د لويديځې نړۍ لور ته وليږديدل او د درې زره مخزيزږد د کلونو په شاووخوا کې يې يو پراخه سيمه د ختيځې اروپا له مرکز څخه د آريانا تر شمال پورې په واک کې درلود ، همدا مهال اندو اروپايي ټبرونه ليږد اومهاجرت بيلابيلو خواوو او بيلابيلو سيمو ته پيل شو او له هند څخه تر اروپا شمالي برخو پورې ميشت شول ، له همدې امله دا ټبرونه د لړۍ په بيلابيلو برخو کې د اندو اروپايي په نوم يادېږي. ددې له خپل اصلي ټاټوبي مهاجرو او په هېواد د ميشتو قومونو ژبې د يوې يوازني (واحدې) نيا (مورينې) اندو اروپايي Proto Indo European په نوم يادېږي ، رابيلې شوې


(c) ketabton.com: The Digital Library

دي، د دې نيا په مورينې ژبې څخه هېڅ سند السوند او اثر په لاس کې نه شته، چې مخامخ هغه وڅېړل شي. له دې امله ژبپوهان د هغې ژبښودنې (ګرامر) جوړښت او غړيز سيستم تعقيبولو له پاره اړ دي، چې د هغې څخه د بېلو شوو او رامنځته شوو ژبو مقابله او پرتله وکړي او له دې لارې څخه د ژبني قواعدو تهلاس (کشف) او را وباسي. اندو اروپايي اصطلاح په نولسمه پيړۍ کې د فرانس بوپ Franz Bopp له خوا وړاندې او وضع شوې ده، د په خپله څېړنه کې سانسکرېټ زړه يوناني، لاتيني او زړه پارسي د يوې کورنۍ ژبې وګڼلې او په خپلو او په پای کې دې پايلې ته ورسيده، چې د پورته يادو ژبو د مخکېنۍ اصلي مورينې ژبې شتون حتمي دی، چې هغه ژبه له اندو اروپايي مورينې څخه عبارت دی، آلماني ژبپوهانو د اندو ګرمانيک Indo Germanic اصطلاح و کاروله، دوی باور درلود چې د دې ژبو بنسټ له يوې خوا هند او له بلې خوا آسلنډ او جرمني ايسلنډ دی کله چې دا اصطلاح په هندي پيل کېږي په جرمني بايد پای ته ورسيږي، چې بيا د شملې پېړۍ په لومړيو کې انګليسي ژبپوهانو د اندو اروپايي پر ځای (آريايي) اصطلاح کاروله، څرنګ چې دې نوم، آريايي ټبرونو او آريايي ژبې (آريک) پورې اړه درلوده، د اندو اروپايي ژبو له پاره متركه او له كاره ولويده، د اندو اروپايي لومړنيو ټبرونو پنځيدل، ډېريدل او خپربدل د اندو اروپايي ژبو د پراخېدلو خپرېدلو او دودېدلو سبب هم شول، چې له دې اندو اروپايي لومړنۍ ژبې څخه د ژبو څو ډلې (ګروپونه) رامنځته شول؛ چې پوهانو د kmton يعنې د اندو اروپايي په سل(۱۰۰) کلمه کې د (k) ک نا خپلو اک غږ (کانسوننټ د بدلون او بشپړتيا له مخې د دې ډلو دريځ ټاکلی او ځانګړی کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| د centum ( کنتم ) ډله | | | | د Satam ( ستم ) ډله | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لاتيني | Centum | ايرلندي | Cet | اوستا | Satam | لتواني | szimta |
| يوناني | Ecatan | تخاري | kant | سانسکرېټ | satam | سلاوي | cbto |
| سلتي | | حتي | | ارمني | | البانيايي | |

## د ستم او کتم پر اساس



(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځيني پوهانو د پوهاوي له پاره دا ژبه د نړۍ په بيلابيلو سيمو او د هغې په جغرافياي موقعيت کې په لاندې توګه ډلبندي کړې ده ؛ لومړۍ ډله چې په دې ډله کې د ساتم ګروپ ټولې ژبې شتون لري. د دې ډلې د غږ پوهنې او ګرامر جوړښت په سيستم کې ګړندي بدلونونه او بشپړاوی راغلی دی. په دويمه ډله کې څلور فرعي ګروپونه شتون لري.

الف: لوېديځې اندو اروپايي ، چې عبارت دي له ايټاليک ، سلتيک او ګرمانيک يا جرمانيک .

ب: يوناني ډله ، چې له مرکزي ډلې سره مخامخ اړيکې لري.

ځ: د ختيځو اروپايي ژبو ډله ، چې تخاري ژبه يې پاتې شونې ده .

څ: حتي ژبه او د د کوچنۍ آسيا ژبې دا ژبې ډېرې لرغونې دي او د اندو اروپايي نيا څخه را بيلې شوي دي. له اندو اروپايي ژبو څخه د بيلو شوو ژبو د تاريخ اوږدو کې د بومي يا ځايي ژبو سره د ګډېدو او د هغو اړيکو له مخې چې ژبه يې له ټولنې سره د يوې ټولنيزې پديدې او انساني ځانګړتيا په توګه لري ، په ځانګړې توګه يې بدلون او بشپړتيا موندله ، د دې ټولو ژبو سټه او اصل يوه ژبه وه ، چې اندو اروپايي لومړني ټبر پرې خبرې کوي او په ورو ورو يې يو تر بلې واټن پيدا شو او په وروستيو کې په بيلابيلو بڼو د انساني او بشري پوهاوي وسيلې شوې (۱: ۴۷۵ مخ).

## ۴-۲ د اندو اروپايي ژبو د کشف تقويم:


الف: ۱۷۸۲ زيږديز ، ويليام جونز د سانسکرېټ ، لاتيني ، يوناني ، ګوتي او سلتي ژبو خپلوۍ ته نغوته (اشاره ) کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب: په ۱۸۱۲ زیږدیز: فرانس بوپ Pranz Boop یابتوي چې یوناني ، لاتیني ،زړه فارسي او جرمني ژبې د یوې کورنۍ ژبې دي.
ځ: ۱۸۱۸ ز ، راسموس.ک.راسک Rasmus C.Rask د بالتو سلاوي ژبو ، یوناني ، لاتیني او جرمني ژبو سره چې یوې کورنۍ ژبې ګڼل ثابت کړل. (یو کورنی توب )
ځ: ۱۸۲۲ ز: یاکوب ګریم Jacob Grimm د جرمني ژبو د ناخپلواو غږونو دبدلون او تحول قانون وړاندې او معرفي کوي.
ړ: ۱۸۳۸ ز: فرانس بوپ ثابتوي چې د سلتي ژبو ډله د اروپا دلویې وچې په سیمو کې کارول کېږي او د اندواروپایي ژبو خپلواکه او مستقله ډله ده.
ښ: ۱۸۵۰ ز: آګوست شیلایشر Agast Schleicher ثابته کړه ، چې البانیایي ژبه د اندو اروپایي ژبو له کورنۍ څخه ده.
ړ: ۱۸۷۷ ز: هاینریش هوبشمن Heinrich Hubschman ثابتوي چې ارمني ژبه داندو اروپایي ژبو څخه ده او ددې کورنۍ خپلواکه او مستقله څانګه جوړوي.
ډ: ۱۹۰۲ ز: یورګین الکساندر کنودسون Jorgen knudtzon Alexander حتي ژبه د اندو اروپایي ژبو له ډلې څخه را پیژني.
ټ: ۱۹۰۸ ز: امیل زیک Emilsieg ثابتوي ، چې تخاري ژبه د اندو اروپایي ژبو له ډلې څخه ده.
ڼ: ۱۹۱۵ ز: بدریچ هروژني Bedrich Hrozny په نولسمه میلادي پیړۍ کې د راټولو شوو معلوماتو او اطلاعاتو دټولګي پر بنسټ د اندو اروپایي ژبو د د تطبیقي ژبنود Comparative Grammar لیکنه بشپړوي. د تطبیقي مېتود پر بنسټ ComParative method د تاریخي ژبپوهنې په کارونې سره کولای شو د آریاني ژبو د خپلوۍ څرنګوالی له ډېرو مهمو

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژبو د اندو اروپايي ژبو د کورنۍ، د شجريي(ونې) نظريې په چوکاټ کې په لاس راکړې ، د بېلګې په توګه د مور کلمه په اندو اروپايي ژبو کې:
اوستا matā، سانسکرېټ mātā ، سلاوي mati يوناني meter ، لاتينه māter ، ليتواني motē ، آلماني muater ، تخاري mācer ، ايسلندي modir، ايرلندي māthir ، البانيايي motre ، ارمني magr، پښتو mor ، دري mādar ، اورمړي mawa.




(H.L.F : ٤٧)

٤- شکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴-۳د اندو اروپايي پيلنې ژبې لنډ فونټيک سيستم:

اندو اروپايي لومړنۍ ژبه چې د دې کورنۍ د ژبو مورينه شمېرل کېږي د اوونا خپلواکو ، شپږ نيم واکو ، درويشت خپلواکو درلودونکې وه ؛ چې له دې ډلې څخه شپاړلس تم نا خپلواک Plosive consonant يو مښلي نا خپلواک Fricative consonant شپږ نيم واک Semi Vowel درې لنډ خپلواک Short Vowel درې ښکتني خپلواک redaced Vowel درې پورتني او لوړ خپلواک Long Vowel ، اته غبرګ لنډ خپلواک Short diphthong او شپږ اوږده غبرګ خپلواک long diphthong درلودونکې ده. (۱۳: ۱۹-۲۱ مخونه)

## ۴-۴چيني او تبتي کورنۍ:

په نړۍ کې د ټول نفوس څلورمه برخه وګړي پرې خبرې کوي چې وروسته له اندو اروپايي کورنۍ څخه د ډيرو وګړوژبنۍ کورنۍ ده.

چينې ژبه د دې کورنۍ پياوړې ژبه ده او د دې کورنۍ د ټول نفوس درې برخې ويونکي لري نورپاتې لږ وډ برپه ترتيب او مساوي توګه دبرمايي،تبتي ،ويتنامي او دتاتي ژبو د ډلې ترمنځ و بشل شوي دي.چې دا ټولې ژبې بشپړ مشابهت نه لري او د دوي ترمنځ د خپلوۍ شتون يا واحده منشا او يوې ګډې نړۍ ته د دې ژبو انتصاب د اثبات وړنه دی په دې بنسټ دتبتي او چيني ژبو ترمنځ ځانګړنه يو ځپييزوالی او آهنګ دستګاه دهغوي بشپړه ځانګړنه ده په دې ډول ژبو کې دصرف يا اشتقاق سيستم په هغه ډول سره چې په تصريفي ژبو(اندو اروپايي يا پيوندي ژبو )کې ليدل کېږي شتون نه لري.دا ژبې نه بدلېدونکې او يو ځپييز ژبې دي.يو ځپييزه ژبې چې له جغرافيايي پلوه يوه له بلې سره ډېرې نږدې دي دګډو کلمو شتون لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

داندو اروپایي ژبو دهغوي دخپلولۍ مننونکی دلیل دی.چینایي او تبتي ژبو څېړنه ډېره ستونزمنه ده ځکه چې دې دغه ډول ژبو څېړنې ته اړتیا دومره نه احساسېږي ځکه چې د برغږونه لري څېړنه او پرتلنه یې ډېره ستونزمنه چاره ده .بل داچې د بوې یو هیجایي کلمې په بدلون سره به بله اصلي کلمه د پېژندنې وړ نه وي څرنګه چې د څو هیجایي کلمیو په برخه کې غږیزبدلون دبشپړبدلون سبب نه کېږي او د خپلوۍ اغېزې هم له منځه نه وړي پردې بنسټ داندو اروپایي کورنۍ دژبو او کلمو ترمنځ دخپلوۍ په اړه مطالعه او څېړنه کول دچیني او تبتي په پرتله آسانه ده.همداډول بله ستونزه داده چې دچیني ژبې کلتوري ارزښت چې زرګونه کلونه مخکې په نړدې ژبوباندې اغېزې کړې دي، چې په ظاهره کې چیني کلمات ښايي دواقعي خپلوۍ دلیل نه وي او په لرغونو ختونوکې دپوراخیستنې له امله وي.ددې ژبو په غږیز سیستم کې څپې ځانګړی ارزښت لري ځکه چې شمېرېې دسلګونو ژبو له څپو څخه ډېردی.او ویونکي یې تریو میلیارده ډېر دي.

## ۴-۵ دراویدي ژبو کورنۍ:

ددې ژبو سیمې دهند په سهېل کې دي.او څلورژبې په کې داخلې دي، چې یوه له بلې سره نږدې خپلوي لري او ددې ژبو اصلي بنسټ جوړوي دویونکو شمېرېې نږدې یو ډول دی او یو سلو شپیته میلیونه ویونکي لري. تامیلي ددې کورنۍ پیاوړې ژبه ده او کناره ،ملایواوتلوګو ددې کورنۍ نورې ژبې دي په افغانستان او پاکستان کې براهوي ژبه چې څو څو زره ویونکي په دواړو هېوادوکې لري ددې کورنۍ له ژبو څخه ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴-۲حامي او سامي ژبو کورنۍ:

ام هري، مالتي دا وسنۍ ایتوپیا رسمي ژبه چې د عربي یوه لهجه ده، عربي ژبې چې نږدې ختیځ او عربستان په ټاپو وزمه کې دي په دې کورنۍ پورې اړه لري دا ژبې د بشري ځلانده تمدنو نو لکه بابولي، اشوري، ریګاتین، کینساني، فینیقي او سامي نو مونه یادولای شو.د دې کورنۍ د ژبو اړیکې د نږدې والي او لرې والي په اړه ژبپوهانو د افریقایي ژبو سره لکه: سومالیایي، افار او ګالایي سره چې د کوشي ترنوم لاندې پېژندنې پلټلې دي.دې ژبو ته په پام سره د دې ډول ژبو جغرافیایي پراختیا ښودل کېږي چې د افریقا له شمال څخه د ښناري ټاپوګانو او سېډونکو هم پخوا په بربري او ګوانش ژبو خبرې کولې او آن چې د پارس ترپولو پورې غزېدلې دي همدا راز په سهیل کې د تورې افریقا د ژبو قلمرو په کې رانغاړي، چې د هغې ځینې ژبې لکه هوسا یګاه په غیر مستقیمه توګه په دې کورنۍ پورې تړل کېږي او دا نو مونه ژبپوهان د حضرت نوح (ع) د ځامنو سام او عام د نومونو سره تړي چې دا خپله د دې ژبو خپلوي ښیي.په دې ژبو شاوخوا یو سلو شپیته ۱۲۰ میلیونه وګړي خبرې کوي او لاندې ډلې په کې شتون لري.<u>الف</u> سامي ژبې: امهري، مالتي، فنقي، آرامي، اورګاتین، بابلي، آشوري، عبري، عربي ژبې کې داخلې دي.

<u>ب</u> حامي ژبې:هوسایي، ګالایي، سومالیایي، عفار ژبې په کې شاملې دي.

<u>ج</u> کوشي ژبې:بربري، زړه مصري، په کې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴-۷الف -التای، اورال، یغوري او دفین ژبو کورنۍ:

دې کورنۍ کې په ژبو دغږېدونکو ګړو شمېر لږ تر لږه دوه سوه او یا ۲۷۰ میلیونو پورې رسېږي. په دې کورنۍ کې فنلنډي، مجارستاني، تیني او تورکي ژبو ترڅنګ جاپاني او کریایي ژبې هم راځي او په لاندې ډول وېشل کېږي.

## ۴-۸» فنلنډي او کریایي ژبې:

ددې ډلې پیاوړې ژبې فنلنډي او کریایي ژبې او فنلنډي او مجارستاني دي. ددې ژبو دغږېدو او بشپړاوي سیمې په لرغرونو زمانو کې داورال لوېدځې سیمې وې. او پر همدې بنسټ ورته اورالي ژبې هم ویل کېږي، داخلک او ددې ژبې ویونکي تل داندو اروپایي او ترکي توکمه ټبرونو ترفشار لاندې وو او له خپل لومړني ټاټوبي داورال غرونو او بالتیک سمندرګي ترمنځ او په ځانګړې توګه دوالګا سیند غاړې دپیروم سیمه وه او له دې سیمو لاندې برخو ته یې ولېږدول. مجارستانیانو په پخوانیو زمانو کې او دپیړیو په پوړیو کې او سني او کراین سیمه کې بېدیایي ژوند درلود او په نهمه پېړۍ کې دډانیوب پرغاړه میشت شوي دي. فینیان خپلو استونیایانو ورونو ته دشمال لوېدیځ لورته ورغلل، فلانډیان چې په لومړیو میلادي پېړیو کې له نوموړو ټبرونو سره دبوې نښتې او جګړې په ترڅ کې اورالي ژبه کسب کړه؛ چې تراوسه یې ساتلې هم ده دا قوم دفیزیکي اړخه له نورو سره ډېرتوپیر لري ددې قوم (لاپایان) لږ تر لږه شمېر ځلو بښت زره تنو څخه اوړي، چې نیمایي یې په ناروې هېواد کې استوګن دي همدارازبل قوم ساموئیدیان(ننتس) دې شمېر یې لسګونو زروتنو ته رسېږي او دسایبېریا

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لوري يې لېږدوني وکړې ددې کورنۍ ځينې وګړي په خپل ټاټوبي يعنې دوالګا د سيند پرغاړه پاتې شول ددې ټبرونولـه ډلې څخه مورد وينيايي، کومي، ماريايان(چرمسيان)او مورتيـان اوځينـې نـور دي چـې شـمېر يـې ددرې زره په شاوخواکې اټکل شوی دی.

» په فنلنډي اوکرايي ژبوکې لاندې ژبې شاملې دي:

فنلنډي(سومي) ،هنګري، (مجارستاني)، لاپنوني، اورالي، استوني، ساموېدني، کارلي،مورتي،ماريايي اومردودي.

» اويغوري:

مغلي،خاتني،مانسي،جاپاني،مادياري،کريايي اودلايتنـي امريکـايي بومي ژبه شامله ده.

# ۴-۹ب -دترک او تاتارژبو کورنۍ:

ترکي ژبه دپخواني شوروي اوچين په ګډه پوله وېل کېږي او داورالي التای يي په نوم دژبو په يوې لويې ډلې پورې تړلې ده او ددې ژبونوم دهغوي دموقيعت پربنسټ دی، چې داورال دغرونوپه لوېديځه لړۍ کې او التای يي په ختيځ کې شتون لري او وېل کېږي.ترکي ژبې لکه مغولي او دختيځې آسيا دتون کوزژبې ددې ډلې په التای څانګې پورې اړه لري.لاندې ژبې په کې شاملې دي:دترکيې هېواد ترکي،عثماني ترکي،اذري(اذربايجانـاو ايران)،ترکمني،ازبکي،چو واشي،کاراکا لپاکي، قرغزي، قزاقـي، کـومي، ايارکوتي،اويغوري،تاتاري،باشـقېري،وېرکوتي،کاراچايي اوساموئيدي ژبې دي.ترکي ژبه په اروپاکې دسايبرياترختيځ منتهااليـه پورې دليناپه حوزه کې پراخه ساحه رانغاړي.دترکيې ترکي ژبه ددې ژبې ډېره لوېديځه بڼه ده.اذربايجاني داذربايجان او پارس يا اوسني ايران په هېوادونوکې او ترکمني ازبکي قرغزي او قزاقي په منځنۍ آسياکې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترکمني او ازبکي دافغانستان په شمالي ځینو برخوکې دلږکیوو ګړوژبه ده همداراز داورال جهیل په سهېل کې دکاراکالپاک په نوم په یوې بلې نږدې ژبې او په همدې توګه دسنک یا رګ او څه ناڅه په پخواني شوروي کې ځینې خلک په اویغوري ژبه خبرې کوي په چواشي، تاتاري اوباشقري ژبو باندې دوالګا سیندله شاوخوا څخه داورال ترغرونوپورې وګړي غږېږي، یرکوتي ژبه دسایبریا ختیځ ته په یوڅه واټن کې دلینا سیند په سیمه کې وېل کېږي دترکي لږکیویوډېرشمېر ژبې له تورسمندرګي او قفقازڅخه (کاراچای، کومي...) ترالتای غرونوپورې دسایبریا داوبي سیند په یرنۍ سیمه کې شتون لري. دوالګا پرغاړه په جواشي ژبې سربېره ددغې سیمې په بله خواکې وېرکوتي ژبه ، چې له نوروژبوسره څه توپیرلري وېل کېږي. ترکي ژبه دژبپوهنې له مخې یوه متجانسه ټولګه جوړوي.

۴-۱۰دااندونیزیایي ژبوکورنۍ اودمالیزیایي- پولینزیایي ډلې ژبې:
دمالیزیایي اوپولینزیایي په نوم ژبو دځمکې پرمخ دپام وړسیمې نیولې دي.اوپه لاندې څانګو وېشل کېږي:

- ملایوژبې: اندونیزیایي، تاګالوک یاپالي پینو
- پولینزیایي ژبې: خوموري ژبې، ددې ژبوسیمې له ما دغاسا کار څخه ترپولنزي ټاپوګانو پورې غزېدلې دي او دسینګاپور، فلپین، اندونیزیااومالیزیاملایو سباهه رسمي ژبې دي.ددې ژبنۍ ډلې آثاردفرمزپه قبایلو،دویتنام په ځینوغرنیووګړولکه جاره یانو(Jaras)،دهاینان(Hainan) په چیني ټاپواوآن دچامورو (Chamuru)په نوم دګوام Juam دټاپوپه ژبوکې لیدل کېږي.ددې ژبو دویونکوشمېر تردوه سوه ۲۰۰ میلیونوډېر اټکل شوی دی، چې له دې ډلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه یو سلو څلو ښت ۱۴۰ میلیونه په اندونیزیا ، ۴۰ میلیونه په فلپین، ۷میلیونه په مادغاسکار ۲ میلیونه په مالیزیا او سینګاپور او ډېر لږکي په کانتوني او تامیل ژبو خبرې کوي دآرام سمندرګي ټاپوګانو پولینزیایي ژبې لکه: تاهیتي Tahaiti، ساموSamua، فیجي Fidiji، والیتس،فوتونا ،هاوایي او نورې بې له شکه دملایایي، اندونیزیایي اوملاګاسي ژبو خپلوانې دي، په پوره توګه له هغو څخه بېلې شوې دي او اوس مهال یوازې دهغوي لرې خپلواني ژبې ګڼل کېږي.

➢ اوقیانوسیه بدوي ژبې: ددې ژبو څېړونکي دوه اړین ټکي باید په پام کې ونیسي ۱- دملانزیایي، پاپوایي او استرلیادبومي ژبوترمنځ هېڅ ډول څرګند یا دمنلووړ خپلوي نشته ده.

۲- ددې ډول ژبو شمېردومره ډېردی چې تراوسه په بشپړه توګه پېژندل شوې لا نه دي، ملانزیایي ژبې دملانزي په ټولوټاپو وزمو او میکرونزیاکي وېل کېږي.ملانزي چې یوناني کلمه ده او دتورو ټاپوګانویعنې دتورپوستکو وګړو درلودونکې معنالري لاندې ځایونه په کې راځي:

۱- دنوې بریتانیا یا دپخواني بیسمارک ټولې ټاپو وزمې چې له پاپوا او نوې ګینې سره نښتې دي.

۲- دفرانسې او انګلستان پخواني ګډ حکومت دنوي هبرید ټاپوګان چې په ۱۹۸۰ زکال دوانو آتو Vanuatu په نوم خپلواکي واخسته.

۳-دفرانسې هېواد دسیند هاخوا قلمرودنوي کالدوني ټاپوګان.

۴- دامریکاتر قلمرولاندې دمیکرونیزیاچې په یوناني ژبه کې دکوچنیو ټاپوګانو معنا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- دنایورو Nauru خپلواک ټاپو، چې دنړۍ ډېر کوچنی هېواد دی او ۲۲ کیلو متره مربع مساحت ۷۵۰۰ وګړي لري او کارولین او مارشال ټاپوګان دي.
په ټوله نړۍ کې لږترلږه یو میلیون څخه ډېر مالینزیایان او سي چې په سلګونو ژبو او ډول ډول ګړدودونو خبرې کوي لکه په نوې کالدونې کې شاوخوا ۵۰۰۰۰ کاناک وګړي ۳۰ ژبې او ۷۰۰۰۰ دوان واتو وګړي ۱۰۰ ژبې لري.

## ۴-۱۱د توري افریقا دژبو کورنۍ:

ددې ژبو او ګړدودونو د شمېر ډېر والی او پرهمدې لامل د څېړنو ستونزمنتیا ددې ژبو دکره ارقامو په وړاندې کولو کې ستونزې را ولاړې کړې دي، دژبپوهانو په باور د افریقایي ژبو شمېر له ۱۰۰۰ څخه تر ۲۵۰۰ پورې رسېږي د احصایو له مخې هرې ژبې لپاره په منځنۍ توګه له ۱۰۰۰۰۰ تر ۲۰۰۰۰۰ پورې ویونکي اټکل شوي دي چې په واقعیت کې ځینې ژبې میلیونونه او ځینې نورې یې څو زره وګړي ویونکي لري، چې له دې شمېر ژبو ډېر لږ ژبې لیکنۍ او دلیک لوست ژبې دي او ډېرې ژبې دنورو پیاوړو ژبو سره داړیکو له امله دله منځه تلو له ګواښ سره مخامخ دي. دافریقادو چې ګڼ ژبنی وېش: دافریقا ژبنۍ پاشلتیا، دبېلا بېلو افریقایي ټبرونو د ټولنیزې او وټه ییزې(اقتصادي ) یوازې والي(انزوا ) له امله ده ،چې په اوږدو پړاوونو کې په ځنګل کې له قبیلوي خرافاتي سیالیو او ژوندانه د پایښت لپاره له مبارزو سره بلدتیا او اشنایي پیدا کړې ده. ددوي ژبنی جوړښت زموږ د ژبې په څېړنه دی فني کلمې یې د کارونې په صورت کې له اروپایي ژبې څخه پور کړې دي چې لاملونه یې ډېر او ښکاره دي خود ټولو هغو موارد و پربیان او څرګندونه کې چې له سیمه یز ژوندانه سره تړاو ولري ډېر لږ تو پیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري.دبېلګـې پـه توګـه: پـه کيرونـدي ژبـه کـې دغـوا اوغـويي لپـاره دعمر،دښکرونودبڼې او نوروځانګړنو پربنسټ شاوخوا شل نومونه کارول کېږي.دافريقـايي کـورنۍ ژبـې دادي:دپـل اولـف ژبې،هوسـايي ژبې،يورويـايي ژبې،سـواحلي،کيروندي ژبې،منـده يامـالي ژبـې، دګينـه خليج ژبې،خوين ژبې،مالاکاسي ژبې،بـانتوژبې او هغـه چې ژبپوهـان يـې دانتلانتيـک دلوېـديځ ژبـې بـولي: ولتـاى ژبې،موسـيان ژبـې ،دافريقـا دځانګې ژبې،کوشي لکه: سومالياىي ،سامي:لکه امهري او داسې نورې.
دژبنيوډلودتولېزې بڼې په نظرکې نيولو سره دنړۍ وګړي پـه اټکلي توګـه لړاو ډېرپه دې ډول ډلبندي شوي دي:

- ✓ بانتوکورنۍ:۱۰۰۰۰۰۰۰
- ✓ دراويدي کورنۍ: ۱۲۰۰۰۰۰۰
- ✓ سامي يا حامي کورنۍ: ۱۲۰۰۰۰۰۰
- ✓ ماليايي- پولنيزيايي کورنۍ: ۱۹۰۰۰۰۰۰
- ✓ اورال او التايي کورنۍ: ۲۷۰۰۰۰۰۰
- ✓ چيني –تاى کورنۍ: ۱۰۰۰۰۰۰۰۰
- ✓ اندواروپايي کورنۍ: ۲۰۰۰۰۰۰۰۰
- ✓ نورې کورنۍ: ۱۲۰۰۰۰۰۰
- ✓ ټوله: ۴۰۰۰۰۰۰۰۰ وګړي(۴:۲۴۲مخ)

دپورته څېړنو او مطالعې په پاى داسې بايد وواېوچې دژبودګرامري، کلمـه يي اولفظي تحاولاتواودتـاريخ پـه اوږدوکې ددوي تـرمنځ ځينـې ريښـوي اړيکـواو بـوې سـتې څخـه دلغـوي بيـا رغـونې پـه پايلـه کې ښـايي دنـړۍ ژبپوهان دمهال په تېرېدواو څېړنوپه ځواکمنتيا ،پراختيا پـه تـرڅ کې بوې واحدې ژبـن سـتې تـه هـم دنړيـوال ګرامرپـه څېـر ورسـېږي يـا پـه بلـه وينـا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دژبپـوهنیزواو دژبنیوکورنیودمطـالعې او څېړنــې څخــه داســې پایلــه اخسـتلای شـوچې دژبـو تـرمنځ دریښـوي، کلمه یي، لفظي، غرېیزاو ګرامري جوړښتونوکې دځینې ژبوترمنځ نږدې، لرغونې اوژورې اړیکې شتون لـري چې پربنسټ یې دژبو ډلـې څانګې او کـورنۍ رامنځتـه شوې دي اوتراوسه پورې په نړیواله کچهد یوې واحدې مـوریني یـا نیـاژبې یـاکورنۍ تـه نـه یـو رسـېدلي، لرې نـه ده چـې دژبپوهانواواړونـده نوروپوهـانودهڅو، څېړنواو ژبنیوبیـا رغونـو(Linguistic Reconstrauction) او روښـونوله لارې دوخـت پـه تېرېدوسـره (لسګونو، سـلګونو، زرګونو... ) کلونـو پـه تـرڅ کـې ښایي یوې واحدې او یـوا ځینۍ ژبې یـا کـورنۍ تـه ورسېږو.ولې موږیـو بـل دلیـل ددې ادعـا او مـوخې تـه درسـېدو لپـاره لـرو ، چـې هغـه ځینـې قرآنـي آیتونــه دي چــې ددې موضــوع دثبــوت او روښــانتیالپاره یــې وړانــدې کړو.څرنګه ،چې دعلومواو ځینې لاینحل بشري اوعلمي مسائیلودثبوت اوریښـتینولۍ لپـاره راغلـي کاربـدلي اواوس مهـال دبشـري ټـولنې ټـول قشرونه په عیني، تجربوي، ټکنالوژیکي اوساینسي توګه ورتـه ثابتـه شوې چې حقیقت او واقیعت لري.پرهمدې بنسټ زمـا پـه انـد پـه دې برخـه کـې هـم دقـرآن کـریم دا آیـت چـې وایي(وعلمـه آدم الاسـماکلها ) ژبـاړه: او الله(ج) آدم علیه سلام ته ټول نومونه وروښودل یـا مـوږآدم علیـه سـلام تـه ټـولې ژبـې ور وښودلې (لومړۍ سپاره، بقره سوره، ۳۱ آیت ، قرطبي تفسیر، ۷ټوک ، ۱۴جز مخ)۱۳

پردې توګه ویلای شوچې دالله (ج) مطلب که ژبه وي نو اوس مهال خولږ ترلږه دغې مسائلې تـه رسـېدلې یـویعنې څـوژبنۍ کـورنۍ پـه نړیوالـه کچـه اټکـل شوې دي.او که دالله (ج) موخه یامطلب نومونه وي نو بیا خو ادم(ع)یـو کـس وه او ورته په یوه ژبه کې بېلابېلو څیزونولپاره نومونه ورښودل شـوي ، څرنګـه چې ادم(ع) دټول بشراو انسانانو پلاریا اب البشـردی او تراوسـه داسـې کـوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریښتینی او مؤثق دلیل او سند نه لروچې له ادم (ع) څخه مخکې دانسان ژوند ثابت کړي. نو دا آیت مورږته په ډاګه کوي چې آدم (ع) په یوه ژبه نومونه ورښودل شوي او بیا دآدم (ع) داولادونو او ضربې د ډېروالي ،نفوسود پراختیا اولرې والي له امله دایوه ژبه لومړی په لهجواوبیا په بېلابېلو ژبواوډېروخت دتېرېدو وروسته په زرګونوژبوبدله شوه چې اوس یې څرک او آثارنه لیدل کېږي آن چې دورستیو ژبو هم څرک اونوم لانشته. کیدای شي دژبپوهانو لپاره دانظرهېڅ دمنلو وړنه وي خو دعیني ثبوتونواو باورونو پربنسټ مورږ دا یو دلیل لروچې دېوې مورینې ژبې یا نیا کورنۍ ته درسېدو ښه دلیل وي. الله (ج) ښه پوهېږي.

## ۵-آریک ژبه Proto-Ārsan او څانګې یې

آریک ژبه چې ۲۵۰۰ کاله مخکې دحضرت عیسی (ع) څخه ،ژوندۍ ژبه وه اوویونکي یې درلودل کله کله دآري Ārii او یا هم دآریایي Āryāi اوخپله ژبه یې آریک Āric ګڼله چې بیا وروسته سره له دې یوالي دا دواړه ټبرونه د۲۵۰۰ مخزېږد کال کې په دې دولهجواوقومونوپه اندو آریایي او آریاني Indo Āryāyi-Āryāni سره تحول وکړ ،البته دا تحول په هماغه آریایي میشته سیمه کې غوړېدلی دی.دآریایانولېږد او مهاجرت وروسته داندو آریایي ویونکود(ویدا ) قبیله وه په پای کې دهند دقارې په شمال کې مېشت شول او آریاني څانګه لومړی داورا بحیرې سهیل او له هغه ځایه دسېردریا او امو سیند سیموته راغلل ،کېدای شي دآمو سیند دواړو غاړو ته یې هجرت کړی وي او هلته به استوګن شوي هم وي. په دغه سیمه یې آریانا ویجه Airyana Vaejah (āiryān∂m vaējāh)نوم کېښود ه(۱۳-

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۰مخ)، چې دآريايانو ټاټوبی او استوګنځي معنايې درلوده.له دې وروسته د سهيل لورته خوځښت او لېږد پيل کړو او باخترته له تېرېدو وروسته په ننني ټول افغانستان او دهغه دباندې خپاره شول.چې آرياني ځانګې دمنځنۍ آسياځايي او سېدونکي په ځان کې راجذب او خپله ټولنه يې نوره هم ګڼه کړې وه .دخپراوي سيمې ،منځنۍ آسيا لويديځې برخې افغانستان ته يې دآريايانو هېواد يا Aryanan Dahyu آريايي ټاټوبی نوم ورکړو.(۱:۳۸مخ)

څرنګه چې دآريک ژبې هېڅ ليکلی سند په لاس کې تراوسه نشته دهغې ژبې دپېژندلو لپاره دنوميزو او غږيزوريښې او اړينو ويوکو(اسمي،فعلي اومهموکلمو) ژبنۍ بيا رغونه Linguistic Recorstraction له لارې ورسېږو.(۳:۱۱-۴مخ) چې دژبپوهنې ، معنا پوهنې او غږپوهنې دقواعدو او اصولو له مخې لرغونې ژبې له هغې څخه راوتلې او ليکل شوې دي چې دژبپوهانو وروستيو څېړنو له مخې لږترلږه يوه نښه راپاتې ده هغه داندو اروپايي مورينې کورنۍ (k*g*gh*) غږونه په آريک ژبه کې داندو اريايي،ارياني او نورستاني ژبو دغږونو پربنسټ په لاندې توګه تثبيت کېدای شي: دآريايانو او دهند دآريايانو له بېلتون څخه څو پېړۍ وروسته دوي له ځان نه مهم لاسوندونه لکه: ګاتا(Gaθa)او ريګويدا (Regveda) په يادښت پرېښي دي،چې آريک دژبې له اصلي هستې څخه يې تکامل او تحول کړی دی:چې دڅو کلمو په پرتلنې سره به يې روښانه کړو:

۱-اريک(ګرم)*Gharma، اندو آريايي Gharma، آريايي (اوستاGarama، زړه فرس Gharma،پښتو Ghərma غرمه)

۲-اريک Bhand*(بنديابستن)،اندوآريايي Bhand،آرياني(اوستا او زړه فرسBhand،پښتو Bhand)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- اریک Cata*(سل)، اندو آریایي Sata، آریاني (اوستا Satem، پښتو Sal سل- په پښتو کې د T او D اوښتل په i).
۴- اریک Dasa*(سل)، اندو اریایي Dasa، آریاني (اوستا Dasa، اورمړي Das، پښتو Las (په پښتو کې د D، T اوښتل په L)، دري Dah ده).
۵- اریک Pacu*(ښکرور ژوی)، اندو اریایي pasu، ایراني (اوستا Pasu، پښتو Psa پسه).
۶- آریک Garant*(زوړ-پیر)، اندو اریایي Jarant، آریاني (اوستا Zarant، پښتو Zor).
۷- اریک Arya*(اریا)، اندو اریایي Arya، اریاني (اوستا Airya، زړه فرس Airya).
۸- اریک Drapsa*(درفش، بیرق، بیرغ یا جنډه)، اندو اریایي drapsa، اریاني (اوستا drafso، کلاسیکه فارسي درفش (۱: ۳۸-مخ) او په پښتو کې جنډه Janda وايي.

| (*) | ۱ آریک | ۲ ویدایي | ۳ آریاني | ۴ اوستا | زړه فارسي |
|---|---|---|---|---|---|
| | *bh | bh | *b | b | b |
| ورور | *bhrātar | bhrátar | *brātar | brātar | brātar |
| وړل | *bhar | bhar | *bar | bar | bar |
| اخیستل | *grabh | grabh | *grab | grab | grab |
| | *dh | dh | *d | d | d |
| درلودل | *dhār- | dhār- | *dār | dār | dār |
| جوړول، نافذ | *dhā- | dhā- | *dā | dā | dā |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | ک |
| band | band | *band | bandh- | *bandh | تړل |
| g | g | *g | gh | *gh- | |
| garma- | garəga- | *garma- | gharma- | *gharma- | تود |
| gauša- | gauša- | *gauša- | ghóşa- | *ghauša- | غوږ |
| darga- | darəga- | *darga- | dirgha- | *dŗgha- | اوږد |
| f | f | *f | ph | *ph | |
| kaf | kafa | *kafa | kapha- | *kapha- | لاړې، قف |
| آسي saf | safa- | *safa- | sápha- | *śapha- | د آس او خرونال |
| θ | θ | *θ | th | *th | |
| yaθā | yaθa- | *yaθa- | yathā | *yathā- | ثرنګه |
| paθi | paθā | *paθa- | path- | *path- | لاره |
| ṙaθa- | raθa- | *raθa- | rátha- | *rátha- | عراده |
| x | x | *x | kh | *kh | |
| x̊ara- | xara- | *xara- | khara- | *khara- | خر |
| haxā | haxa˚ | *haxā- | sákhā | *sakha- | ملګری |
| f | f | *f | p | *p | |
| fraθ- | fras- | *fras- | praś- | *pras- | پوښتنه کول |
| ˚dirafš | drafšō | *drafša- | drapśa- | *drapsa- | بیرغ |
| fra- | fra- | *fra- | Prá- | *pra- | پیشایند |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| θ | θ | *θ | t | *t | |
| puθra- | puθra- | *puθra- | putra- | *putra- | هلک |
| xšaθra- | xšaθra- | *xšaθra- | Kşatra- | *kšatra- | حکومت،دولت |
| θuvām- | θwąm- | *θuvām- | tvam- | *tuām- | ستا لپاره |
| x | x | *x | k | *k | |
| xšap- | xsšp- | *xšap- | kşap- | *kšap- | شپه |
| xšay- | Xšā(y)- | *xšāy- | Kşay- | *kšay- | مالک، حاکم |
| θ | s | *s | ś | *ć | |
| θafa- | safa- | *safa- | śapha- | *ćapha- | د اس او خره نال |
| θata- | sata- | *sata- | śata- | *ćata- | ۱۰۰ |
| | syāva- | *syāva- | śyāva- | *ćyāv- | تور |
| daθa- | dasa- | *dasa- | dáśa- | *daća- | لس |
| | āsu- | *āsu- | āśú- | *āću- | چالاکه |
| θard- | sarəd- | *sard- | śarád- | * ćarad- | کال |
| | pasu- | *pasu- | paśú- | *paću- | پسه |
| d | z | *z | j | *j | |
| drayah- | zrayah- | *zrayah- | jrayas- | *jraya- | سین |
| yad- | yaz- | *yaz- | yaj- | *yaj- | دتعظیم په موخه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | سرټيټول |
| | zantu- | *zantu- | jantú- | *jantu- | توکم، نسب |
| | zātō | *zata | jātáh- | *jāta- | زېږېدلی |
| | zarant- | *zarant- | jarant- | *jarant- | زوړ سړی |
| d | z | *z | h | *jh | |
| adam | azəm | *azam | aham | *ajham- | زه |
| dasta | zasta- | *zasta- | hasta | *jhasta- | لاس |
| | bərəzant- | *brzant- | brhant- | *brjhant- | لوړ |
| h | h | *h | s | *s | |
| | hapta- | *hapta- | sapta- | *sapta- | اووه |
| hačā- | hača- | *hača- | sacā- | *sačā- | له |
| āham- | ahmi- | *aham- | amis- | *asmi- | زه يم |
| haina- | Haēnā- | *haina- | *senā- | *saina- | د دښـــــمن لښکر |
| hindu | hindu- | *hindu- | sindhu- | *sindhu- | هندوستان |
| ḣaitu- | haētu- | *haitu | setu- | *saitu- | پُل |

(۴۱:۱۳)

تاريخي لاسوندونه او تاريخي پرتليزه ژبپوهنه دا په ډاګه کوي، چې آريايي ټبرونه ژبې او ګړدودونه سره ببره په خپلوۍ ډېرې لرغونې اړيکې هم لري او ديوې ستې (آريک) بېلابېلې څانګې دي(۳۷:۳۵مخ). مقايسوي ژبپوهنه دغه خپلوي دلغتونو غږونو او دژبښوونې (ګرامر) جوړښتونو په برخه او ساحه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې ښه يي، همداړګډې ژبنۍ څانګړنې چې ددې ډلې ژبې او لهجې يې لري ژبپوهانو ته دا علمي دليل او اجازه ورکوي چې دا ټولې ژبې او ګړدودونه د يوې ستې څانګې او ښاخونه وبولي.چې دا سته او منشه آريک ژبه ده دنومونړې ژبې ددود او ژوند مهال ډېر لرغونی دی چې ژبپوهانو لږترلږه دوه دوه نيم زره کاله مخکې دعيسی(ع) له ژوند څخه اټکل کړې دهاوتراوسه پورې يې دليکلولاسوندونو څرک نه ليدل کېږي، ددې نيا يا مورينې ژبې څخه لومړی دوګړودډېروالي او لرې والي له امله ګړدودونه اوډياليکټونه رامنځته شول، چې بيا وروسته دډېر وخت اوزمان په تېرېدوسره په څانګړوژبو واوښتل چې دابهيرپه ژبوکې داوږدمهالوبېلابېلو شرايطوپربنسټ رامنځته کېږي او په څانګو لهجو وېشنه او انشعاب يې متوازن بهير نه لري، چې دآريک ژبې په برخه کې هم ددې بهير په ترڅ کې ځينې ژبې له منځه ولاړې او دځينو ويونکي ډېردځينو بيخي لږځينې په يو ځېراوځينې په بل ځېر مړې يا ژوندۍ راپاتې شوې.دټولنيزو، تاريخي اوجغرافيايي شرايطوسره سم دټولوآرياني ژبو پراختيا يو ډول نه وه او په خپلوۍ کې هم سره يوډول نسبت نه وه. يعنې لږ څه توپير شتون درلود چې له ځينو دا ټولې اړوندې ژبې ؛ لرغونې او معاصرې ليکلي اسناد لري اوکه يې نه لري لږ ويونکي لري او که ډېر دا ټولې هغه لهجې اوژبې دي چې له يوې آريک ستې څخه رامنځته او په بېلابېلو ژبواوښتي پايله کې ځينې ژبې له نورو هغولرې اځينې نورې له يو يابل اړخه نږدې پاتې شوې چې ددغوژبو ترمنځ دالږ يا ډېرلرې والی په لومړيوکې دلهجوپه ځېر وه ، ولې څومره چې دتاريخي بشپړتيا او تکامل څانګړي توب خواته پرمخ تللي هومره ډېر توپير رامنځته شوی چې آن دا سې پړاو را ورسېده چې دهمدې ډلې ديوې ژبې ويونکي دبلې هغې په ژبه سره نه پوهېږي، دبېلګې په توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپاړسي ژبې ویونکي دبلوچي ژبې او دپښتو ژبې ویونکي داورمړي او یاهم دتاجکي ژبې ویونکي په پښتوژبه نسبتاً نه پوهېږي.

## ۵-۱دآریک ژبې څانګوپه اړه نظریات:


اندوآریاني(آریک ) ژبنۍ ډلې یاکورنۍ،داندواروپایي کورنۍ یوه له لاند ېنیو ژبنیوڅانګوڅخه ده. اندوآریاني ژبې دیوې پراخې او لویې جغرافیایي سیمه کې ،چې دآریاناپه لوړواو پراخه سیمو ،منځنۍ آسیا ځینې برخې،دهند نیمې وچې شمالي برخې او دقفقاز ځینې برخې رانغاړي،ځای نیولی دی.دآریک ژبې دڅانګوپه اړه بېلابېل اندونه اونظریات شتون لري چې په لاندې توګه به په هریوه لنډ بحث وکړو.

داندوآریاني (آریک ) ژبودلاندېنیوڅانګو(اندوآریایي ،آریاني،داردي ،نورستاني ) په اړه اختلاف شتون لري،چې ډېری یې دنورستاني او داردي ژبود څانګوپه اړه دی:

- لومړۍ نظریه- اندوآریاني(آریک ) ژبنۍ ډلې دڅانګوپه اړه ده:

په دې نظریه کې دداردي ژبوڅانګه داندوآریاني ژبولاندېنۍ شاخچه ګڼل شوې اونورستاني ژبې دداردي ژبو دشاخچې جزاوبرخه فرض کړې دي.

۱- اندوآریایي ژبې
۲-آریاني ژبې
۳-داردي ژبې



(c) ketabton.com: The Digital Library

- دویمه نظریه- داندو اریاني ژبنۍ ډلې دلاند ښنیو څانګوپه اړه ده:

ددې نظریې پربنسټ اندو آریاني ژبنۍ ډله درې لاند ښنیو اصلي څانګو درلودونکې ده.

۱-اندوآریایي ژبې

۲-آریاني ژبې

۳- داردي ژبې


- دریمه نظریه – داندوآریایي ژبنۍ ډلې دلاند ښنیو څانګوپه اړه ده:

په دې ډلبندۍ کې چې په **۱۹۷۳**تر**۱۹۷۵** زیږدیز کال پورې دناروېژي ژبپوه له خوا وړاندې شوه(ګنورک مورګنشترنه) نورستاني ژبې داندو آریایي ژبنۍ ډلې خپلواکه (مستقله) لور فرض او اټکل کړې ده او داردي ژبې یې داندو آریاني جز یابرخه ګڼلي دي ددې نظریې پر بنسټ داندو آریاني ژبنۍ ډلې اصلي څانګې عبارت دي له:

۱-اندوآریایي ژبې

۲-آریاني ژبې

۳-نورستاني ژبې





څلورمه نظریه – داندوآریاني(هندو ایراني) ژبنۍ ډلې دلاند ښنیو څانګوپه اړه ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ډلبندۍ کې ،داندو آرياني ژبنۍ کورنۍ د څلور خپلواکو (مستقلو )لوښو يادونه شوې ده.

۱-آرياني ژبې
۲-اندو آريايي ژبې
۳- داردي ژبې
۴- نورستاني ژبې(۳۷:۱۳ -۳۸ مخونه)




دپورته نظرياتو له ډلې څخه څلورمه يا وروستۍ نظريه چې ايرانيان يې دنوروتبعيضي کارونو په څېر دهندوايراني په نوم يادوي چې اصلي بڼه يې (اندوآرياني )ده زما له نظره وروستۍ پرېکنده نظريه ده ،چې زه به هم په راتلونکي بحثونواو څېړنوکې په آرياني برخه هراړخيزاوپه نورو برخو لنډ ، دفيلالوژيکي تاريخچې له مخې څه ناڅه وليکم.اوس به راشودآريک ژبود څانګو هراړخيزې وېشنې ته:

**۵-۲**اندوآريايي**IndoAryanGroup** :*دلرغوني دورې ژبې يې عبارت دي له: ويدا (۱۰۰۰زر-۱۴۰۰يوزروڅلورسوه مخزېږد ) پورې، سانسکریټ(تردويمې ميلادي پېړۍ )پورې، پراکريت(له دويمې ميلادي پېړۍ را وروسته ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

- اندوآریایي معاصرې دورې ژبې عبارت دي له: هندي، سندي، اردو ، بنګالي، پنجابي، ګجراتي، مراټي، آري، سامي، سینګالي اونیپالي دي.

## ۵-۳دا اردیک ژبو ډله په درې څانګو وېشل شوې دي:

ړ- ختیځه څانګه: نورستاني، وایګلي، تاتي، اشګون ، پرسون اوداملي.
ښ- مرکزي څانګه: پشه یي، شوماشتي، وټه پوري، ګواورباتي، تیراهي، کلاشه اوکورا.
څ- لوېدیځه غرنۍ څانګه: ښکاریک، ګاور، توروالي، مین، ګانیوالي، شینه، کشمیري، پخالوره.

## ۵-۴آریاني ډلې ژبې:

*(لرغونې دورې ژبې):
اوستا(۱۲۰۰تر۱۰۰۰ ق م)، زړه فرس(**۵۵۰**تر**۳۳۱** ق م) میدي(**۵۰۰** ق م) ساکي (سکیتي)-سرماتي)(۹۰۰تر۲۰۰ ق م ) پورې.

- آریاني(منځنۍ دورې ژبې)

ختیځه څانګه:الاني(د سکیتي-سرماتي پاتې شونې)، ساکي، ختني، خوارزمي، سغدي، باختري.
لوېدیځه څانګه:پارتي(پهلوي اشکاني)، منځنۍ پاړسي(پهلوي ساساني)، دزړې پاړسي پاتې شونې.

- آریاني معاصرې دورې ژبې:


ختیځه څانګه(باختري): پښتو او آستي(دالاني ژبې پاتې شونې)، یغنوبي، اورمړي، پراچي، پامیریژبې: سریکولي، زیباکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

واخي، خوفي، یدغه، شغني، سنګلیچي، اورشور، منجي، باجواو پرتنګي.(۲۱: ب،د مخونه)

<u>لوېدیځه څانګه</u>: دري، تاجکي، پاړسي(دکلاسیکې پاړسي پاتې شونې ده چې دنهمې زېږدیزې پېړۍ څخه ترشلمې پېړۍ دوام درلود کلاسیکه پاړسي ته ځینې نوې پاړسي دري هم وایي چې له منځنۍ پاړسي څخه دمنشه نیولې ده .دلوېدیځې څانګې نورې ژبې بلوڅي، تاتي او کردي.(۱: ۳۹مخ)

دیادولو وړده چې ځینې ژبپوهانو لکه: څېړنپوه ډاکټرخلیل الله اورمړپه خپل کتاب مقدمه برزبان اوستایي ۴۰ مخ کې لیکي: «کلاسیکه پاړسي له نهمې میلادي تر پنځلسمې میلادي پورې دوام درلود.»



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۵-۵د آریک ژبې د څانګو لنډه وېشنه:

### ۵-۵-۱اندو آريايي څانګهIndo Aryan Granp: ويديک

سانسکريټ**Vadicsanskrit** ، سانسکريټ**Sankrit**،پالي **Pāli**

۱-مرکزي زون Central Zon : هندوستانيHindustani،هندي Hindi،اردو Urdu،روميانRomani-romany .

۲-دختيځ زونEastern Zone-Languayes (Magadhan Prakrit):

انګيکه Angika، اسامس Assamese، بنګالي Bengali، بهجپوريBhojpuri،مګاهيMagahi،مايتهليMaithili،آريهOriya.

۳- شمالي زونZone Northarn ( Pahari Languahas):نيپاليNepali،پنجابيPunjabi،سندهيSindhi،خوجکيKhojki.

۴- لوېديځ زونZone western: ګجراتي Gujarati، کوتچيKutchi،راجستانيRajasthani.

۵-سهيلي زونSouthern Zone: کنکاني Konkani، مراټي Marathi، دخاني Dakhni،نواتيNawayathi.

۶- تاپو(جزيري) پوري تړلې ژبې Insular Nindo Aryan:ديويهيDhivehi، سنهاليSinhala،ژبې رانغاړي

۵-۵-۲داردیک څانګه: داندو آريايي ژبو د شمال لوېديځ زون په نامه هم شمېرل کېږي.داردي ژبې (باګرته برداري؛ له انګليسي داردي ژبې هم ليکلي دي) او وايي چې داردي ژبې داندو آريايي (هندي ژبو څانګه)چې د پاکستان په شمالي سيمو ،لږختيځه برخه دافغانستان او دهند دجمو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

کشمیرپه ځینو برخوکې په هغوژبو غږېږي. البته ځینې ژبپوهانو داندو آرياني ژبوپه ډله کې داندو آريايي اوآرياني ژبوترڅنګ خپلواکه څانګه فرض کړې ده. (۱۳: ۳۳-۳۴)

## ۵-۵-۳ نورستاني ژبو څانګه Nuristani Languages:

اشکون Ashkunu، باشکلي Bashgali Kamkata-viri، پرسون Prasoni-Vasi-vari، تریګامي Tregami، وایګلي Waigali-kalashala.

## ۵-۵-۴ آرياني ژبو څانګه **Aryanigroup**:

- ✓ ختیځه آرياني Eastern Aryani: اوستايي Gathicold Avestan.
- ✓ شمال ختیځه څانګه Nartheastern- اوستا (Extinct) Avestan، سیتي، سکیتي Seythian (Extinct)، ساکي Sakan (Axtinct)، آسي، آسیتي Ossetin، سغدي Sogdian (Extinct)، یغنوبي yaghnobi، باختري Bactarian (Extinct).
- ✓ سهیل ختیځه څانګه: Southeasten Aryani پښتو Pashto (Paşto)، پامیري Pamiri، سریکولي Sarikoli، اورمړي Ormuŗi، پراچي Parachi.
- ✓ لوېدیځه څانګه Western Aryani:

شمال لوېدیځه North western: بلوڅي Baloči، ګیلکي Gilaki، کردي kurdish، مازندراني Mazanadarani (Tapurian)، پارتي Parthian (Extinct)، تالشي Talysh، تاتي Tati (Iran)، دیلمي Deilami، زازکي Zazaki، لکي LakiS

- ✓ سهیل لوېدیځه څانګه Southwestern (persrd) پیرسیک: لرغونې پارسي old persion (Extinct)، منځنۍ پارسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

(Extinct)Middlepersian ، معاصره یا اوسنۍ پارسي New persion ، تاجکيTajiki ، دريDari ، لوري-بختیاري Bakhtiariluri ، تاتيCaucasus Tati (۱۳: ۳۴-۳۷ مخونه)

## ۲-په اندو آرياني ډله کې د ژبو موقیعت:

لومړی به یې له دارديک ژبې له څانګې څخه پیل کړو: داردي ژبې داندو آريايي ژبو له څانګو څخه هم ګڼل شوي دي، چې د نورستاني او ختیځو آرياني ژبو سره د ګاونډي توب له امله د دغو ژبو لپاره کلک جوړښتي پیوندونه رامنځته کړي دي. نورستاني هغه ژبه ده چې د افغانستان په ختیځ کې لږ شمېر خلک پرې خبرې کوي؛ په لومړیو کې ژبپوهانو نورستاني ژبه د داردي ژبو یوه څانګه اټکل کوله ولې اوس د ګؤرک مارګنسترني نارو بڼي د څېړنو پربنسټ نورستاني ژبه داندوآرياني ژبو د دریو څانګو څخه یوه خپلواکه څانګه ده. د دې ژبپوه د څېړنو سره سم اندوآرياني ژبې په درې څانګو اندوآريايي، آرياني او نورستاني وېشل کېږي. پرته له کشميري ژبې د دارديک څانګې نورې ژبې لږ ویونکي او لږ سیمې ترپوښښ لاندې لري. او ډېری له دوي څخه د لیکلو کلتور فرهنګ او د تدریس ځواو کمني نه لري. ډېری د دې ژبو ویونکي په غرنیو سختو سیمو کې ژوند پرمخ وړي د دې سیمو لویه برخه سربېره د کړکېچنو غرنیو لارو د ستونزو په لرلو سره د دولتي ځواکونو سره په اوږدو اختلافاتو او توتریخوالي کې په سر وړي. تولې داردي ژبې د تاریخ په اوږدو کې د پرمختللو ګاونډیو ژبو لکه آرياني ژبې او نورې هندي ژبو تر اغېزې لاندې راغلي دي چې دا اغېزې د دې لامل شوې دي چې د دغه ډله ژبې دې کومې ټاکلې ژبنۍ کورنۍ یا څانګې پورې تړاو ولري او کومې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څانګې پورې يې نه لري. ورستۍ څېړنې دا روښانه کوي چې داردي ژبې په لاندې څانګو وېشل کېږي:

- پشه يي څانګه: شمال ختيځه پشه يي، شمال لوېديځه پشه يي، سهيل ختيځه پشه يي او سهيل لوېديځه پشه يي.
- کونړ (پېچ) درې څانګه: (نرساتي Narsati، ګاور Gawar، ګاورباتي Gauar-Bati)، ګنګالي Gangali، شوماستي Shumashti. په کې شتون نه لري.
- دخور څانګه khowar کلاش (چترال): خوار او کلاش Kalashamur او کيوي ګړدود په کې راځي.
- تيراهي څانګه، ختيځه داردي څانګه (کوهستاني مرکزي لوېديځه کوهستاني، صوات کوهستاني) باشقريک (ګروي، دېري، ګوري، قلم کوهستاني)، کترکلاي (وټه پوري)، کلکوتي.
- ماين Induskohistani څانګه: ماين څانګه (غرنۍ کوهستاني)، بتيري، چيلي سو، ګبرو (ګورو)،
- شينه څانګه –پهلور (شيني ژبه)، بروک سکات، پلوله، ساوي.
- کشميري څانګه Kashmiri: کشميري ژبه، کشتاوري، پګولي. دومارکي Domoaki، دميلي Dameli، ننګالمي Ningalali

# ۷-آرياني ژبې او څانګې

مخکې له دې چې په آرياني ژبو او څانګو يې څه وليکم لومړى به د آرياني ټبرونو او ژبو په نوموړو لړتم او ځغلنده کتنه وکړم: د تاريخ يو لړ مؤثقو اسنادو پربنسټ د آريايي قبايلو لومړنى استوګنځى بلخ او د هندوکش سيمو دواړه لوري ديو، چې د دې سيمو لومړي هندي اريايي قبيلو د ختيځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پارسیک قبایلو ورپسې دلو بدیځ لورته لېږ او مهاجرت وکړچې له همدې ځایه او مهاله آریایي قبایل په څلوروډلو (مرکزي باختري، پارسیک ،هندي او داردي ) وویشل شول.څرنګه چې هندي آریایانو څوپېړۍ له پارسیک آریایانو څخه مخکې له آریانا څخه مهاجرت وکړ(۲۰۰۰کاله مخکې له میلاده ) او پیرسیکو-میدیکو قبایلو څوپېړۍ نورهم په باختر یعنې بلخ کې پاتې شول او بیا وروسته پارس یا اوسني ایران خاورې ته مهاجرشول.ځکه نو دباختري ژبونږد بوالی او خپلوي د هندي ژبو په نسبت پیرسیکو-میدیکوژبوسره ډېره شوه. اوله دې وخته دا دواړه ډلې(مرکزي باختري )او(پارسیک ) دآریاني اودرې واړه (مرکزي باختري، پارسیک اوهندي ) داندو آریایي په نوم یادېږي ځینې څېړونکي باختري (مرکزي آریایي )او پیرسیک ژبې دایراني په نوم یادوي اوسني ایرانیان یې دنورو تبعیضي خوځښتونو په څېر لکه سید جماالدین افغان چې خپل بولي او په ټوله نړۍ کې یې خپل دڅېړنیزو آثارو اعتبارله لاسه ورکړی دا دواړه ډلې ژبې هم دایراني په نوم یادوي چې ځینې بهرني ژبپوهان هم په دې برخه کې سهوه شوي دي.اوداژبې یې دایراني په نوم یادې کړې دي چې موخه یې آریایي یا آریاني دی.نه دې اوسني ایران جغرافیایي سیمه یا یوازې ژبې یې.ځکه چې اوسنی ایران دبوې ځانګړې اومحدودې سیاسي جغرافیایي سیمې نوم دی ددې سیمې نوم په ټولو مرکزي باختري او پیرسیک ژبوابښودل او کارول بوه لویه اشتباه اوجفاده.ځکه چې اوس داژبې (آریاني ) لږترلږه ددرې یاڅلوروهېوادونوله سیاسي جغرافي او محدودوپولوڅخه اوړي لکه:پښتو ژبه چې دتاریخي اوجغرافیه یې شرایطو له مخې (سره له دې چې دافغانستان ملي اورسمي ژبه هم ده )دپارس یعنې اوسني ایران اوهندي ژبو ترمنځ دوصل کړۍ حیثیت لري او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې ژبې اوداسې اړونده نوروژبويو اړخيزنسبت ايراني ياهندي تـه كول دټولـوعلمي اساسـاتوپرخلاف غيرمعيـاري،غيرعادلانـه اونـه منـونكې نومونه ده .كه څه هم ځينې ليكلي مواد دپارس په لوېديځو غرنيوسيموكې په زړه پاړسي لاسته راغلي دي خودڅېړونكودڅېړنې په باور اوعقيده دا سيمه هېڅكله دآريايي قبايلو لومړنى استوګنځى نه ګڼل سوى اونه نثبيت شوى دى.دلرغونوژبوپه اړه تاريخي لاسوندونه(اسناد ) په دې شاهددي چې دعيسـى [٤] دزوكـړې څخـه دوه يـا درې زره كالـه پخوادپـارس پـه دغولوېديځوسيموكې داسې قبايـل اوسېدل ،چې دهغـوي ژبې نـه يـوازې داچې آريـايي نـه وې بلكې داندواروپايي ژبولـه لړۍ څخـه هم نـه وې.دغـه قبايـل لـه (اېلامېتو ،دكـاروان اوكرخـي پـه وادېګـانواو دروكـې چـې نـن دخوزستان پـه نـوم يادېږي ) ،(كاسيتوبابلي ياكاشواولولويي )قبايلوڅخه عبـارت وه يـوازې دزروكلونـومخكې لـه مـيلاده پـه پيـل كـې دغوسيموته دآريـايي قبايلودمهـاجرت اوهلتـه دمېشـت كېدلونښـې ليـدل كېږي.لـه دغـه وخته وروسته دپارس په شمال لوېديځ كې ميدي قبايلولوى دولت جوړ كړ چې د(ميـديا ) پـه نـوم پـه تـاريخ كـې راغلـى دى اومركزيې ننني همدان وه .لږترلږه همدغه وخت دنهمې مخزېږد پېړۍ پـه نيمـايي كـې دپارسياوپه اړه شـواهد پـه تـاريخ كـې ليـدل كېږي ، چـې دعربـو تـرخليج ورسـېدل او پـه دې خليج يې خپل نوم يعنې پارس خليج كېښوده (٢٩:٧مخ)

جرمني نوميالي ژبپوه اوڅېړونكي (اګوستين شليخر ) وايي چې زه پـه دې باوريم،چې دمعاصرافغانستان اوهغه ته ورڅېرمه سيمه نه يوازې دآريـايي قبايلو اوژبو بلكې داينډويوروپي قبايلواو ژبودځانګولومړنى ټاټوبى دى چې دهغه دليكنې لنډمطلب سرڅېړونكي دوست محمـد شـينواري دخپـل كتاب په ٧ مخ كې داسې راوړي(... هغه اينډو يوروپي اولسونه چې څومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ختیځ ته نږدې او یا په بېدو ختیځ کې دي، هماغومره یې ژبه لرغونې ده اولرغوني صفات ډېرلري او څومره چې لوېدیځ ته نږدې او یا بېدو په لوېدیځ کې دي.هماغومره یې ژبه لرغوني خواص لږلري، سلاویاني اوجرمني قبایلو دلوېدیځ خواته ترټولواوبیا ورپسې یوناني ،ایټالوي، کلتي قبایلو مهاجرت وکړ. په خپل ټاټوبي کې پاتې شویوآریایانو څخه هندي قبایلوجنوب ختیځ نه مهاجرت وکړاوپرسیک قبایلودجنوب لوېدیځ خواته خپاره شول.په دې ډول دا ېنډو ېروپي قبایلوته ټاټوبی دمرکزي آسیادغرونولړۍ ده ) .نوموړی څېړونکی لیکي«هندي قبایلونستباً وروسته په مهاجرت لاس پورې کړ ،دوي له خپل نوي ټاټوبي څخه هغه ولسونه وشړل ،چې له ابنډوېروپي توکمه څخه نه وه او دهغوي له ژبویې څه خصوصیات په خپلو ژبوکې واخستل».ددغه جرمني څېړونکي له څرګندونو داسې ښکاري چې داندو اروپایي قبایلومړی ټاټوبی آریانا یا معاصرافغانستان او ور څېرمه سیمې دي.دپورته لنډو څېړنیزوڅرګندونو څخه داسې پایله لاسته راځي چې آریاني ژبو څانګه عبارت ده له (باختري، پیرسیک ،مرکزي باختري او اړوندې ژبې ) اماکه موضوع یوازې پیرسیک ژبې وي نو بیا(ایراني ) ژبې ورته ویلی شوولې دباختري اومرکزي باختري ژبوته هېڅکله دایراني ژبواصطلاح نه شو کارولی.چې دواړوپیرسیک اوباختري ژبوته (آریاني ) ا و ورسره هندي ژبوته یعنې درې واړو ژبنیو ډلو(باختري، پارسیک اوهندي )ته اندو آریاني اصطلاح کارول کېږي چې له دې سره سم راګرځو خپل سرلیک اوموضوع ته .څرنګه چې دآریک ژبې ترسرلیک لاندې هم بحث پرې وشوخو په لنډه توګه یواربیا هم ورته نغوته کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

آریـاني ژبــې Aryani Languages: پـه لـو مړي سـر کې پـه لنـډه تو ګـه د دورو مهـال او لورو پربنسټ دا ژبې د رپېژنو او بیـا بـه هـره یـوه پـه ځانګړې تو ګه هر اړخیزه و څېړو.

۷-۱لرغــونې ژبـــې: اوســتا(۱۰۰۰-۱۲۰۰ ق.م)، لرغــوني پــرس(۵۵۰-۳۳۱ ق.م)، میدي(۵۵۰ق.م)، سیکتي، سرماتي(له ۹ق.م تر۲ م) پورې.

۷-۲منځنۍ ژبــې- ختیځــه څانګــه (بــا ختري): آلاني(د ســیکیتي او سرماتي پاتې شونې) ساکي، ختني، خوارزمي، سغدي، باختري.

منځنـــــۍ دورې لوېدیځـــــه څانګـــــه-(پرســـــیک): پارتي(پهلوي اشـکاني)، منځنۍ پارسي(پهلوي ساسـاني) چې دلرغـوني پارسـي پـاتې شونې ده.

۷-۳د معاصــرې ژبــې- ختیځــه څانګــه (بــا ختري): پښــتو ژبه، آسي(د آلاني ژبې پاتې شونې)، یغونوبي، اورمړي، پراچي او پامیري ژبې چې عبـارت دي لـه: (سریکولي، زیبـاکي، واخي، خوفي، یدغـه، شغني، سنګلیچي، اورشور، منجي، اشکاشمي، باجو او برتانګي).

د معاصــرې دورې لوېدیځــه څانګــه (پرسـیک): تــاجکي، دري، پارســي (د پارسي دري پاتې شونې) او یا کلاسیکه پارسي چې کلاسیکه پارسي لـه ۹ تــر ۱۵ پېړۍ پـورې شـتون درلـوده چې نـوې پـارسي هـم ورتـه وېـل کېده.لـه منځنۍ پارسي څخه را منځتـه او منځنۍ پارسي لـه لرغـوني پارسي څخه راپاتې ده.

د معاصرې دورې دلوېدیځې ډلې نورې ژبې بلوڅي، تـاتي، کردي...دي(۴:۱۳ مخ)

دآریـاني ژبو دډلبنـدۍ څخـه داسې پایلـه ترلاسـه کېـږي چې پارسـي دري او تاجکي ژبې دزړې پارسي منځنۍ پارسي څخه په لږ پرې او ډېرپرې شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زماني واښ ځخه رامنځته شوي دي په همدې بنسټ پښتو اوآسي ژبې هم دآلاني او آلاني دسيکتي اوسرماتي ځخه منځته راغلي چې سيکتي اوسرماتي ژبې دلرغوني دورې اوستا لرغوني فرس ساکي (سکتي اوسرماتي )اوميدي ژبوترڅنګ ژوندۍ ژبې وې چې پربنسټ يې دپښتوژبې دشاليد لړۍ دآرياني ژبولرغوني دورې ستې ته رسوي.
څرنګه چې مخکې موډآريک ژبې په بحث کې هم ورته نغوته وکړه ارياني ژبې يوه ډله ژبې دي چې آره اوسته يې يوې يوا ځېنۍ ژبې يعنې لرغوني آرياني ژبې ته رسېږي دا ژبه دلرغونو هندي آريايانو دژبې سره يوځای داندو اروپايي ژبو ختيځه څانګه چې (آريک ) ورته وېل کېږي تشکيلوي.دا ژبې په پراخه سيمه کې چې دسهيل له خوا دفارس خليج او عمان سيند ،دلوېديځ لورته دبين النهرين اوشمال له خوا دمرکزي آسيادښتې اودقفقاز غرونه رانغاړي.په ختيځ کې دافغانستان اودپاميرځينې برخې داباسين ترخولې پورې نيولې دي آرياني ژبې په پورته ياده سيمه کې خپرېدي چې دبشپړاوي پړاوونو اوګرامري جوړښت له مخې په درېوومهالي دورو وېشو.

# ۸-دآرياني ژبو دورې:

۸-۱لرغوني دوره : دلرغوني دورې ژبې دليکنې له پيل يعنې ۱۲ق.م تر۳۳۱ ق.م پورې، په دې دوره کې سربېره پراوستا ،زړې پارسي ،ميدي اوساکي ژبې هم شتون درلوده، ميدي ژبه (ميديان ) دمرکزي اولوېديځ پارس اوسېدونکي وه اود۸۲۵ق.م کال وروسته دآشورپاچاهانو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډبرليکونوکې ددوي دنوم يادونه شوې ده.ددې ژبې ځينې اداري اصطلاحات دزړې پارسي اويوناني په ډبرليکونوکې ليدل شوي دي ميدي ژبه دلرغونو ميدي قبايلوژبه ده چې په ۸مخزيږد پېړۍ کې يوځانګړې دولت دپارس په شمال لوېديځ(همدان) کې جوړ کړ. (۲۹: ۹مخ)

همدارنګه اوستا ژبه:دلرغوني بلخ او دهغه وخت دزردشتي دين دکتابونودليک ژبه وه.

ساکي ژبه ساکي Saki:دلرغونو ساکوژبه چې کتيبې يا ډبرليکونه يې په تورفان کې موندل شوي دي د۸ او ۷ ق.م پېړيو څخه دسکيتي په نوم او له ۴مخزيږد ترلومړۍ مخزېږد پورې دسرماتي په نوم اوله لومړۍ ميلادي پېړۍ څخه دالاني په نوم ياده شوې ده.داژبه دتورې بحيرې له غاړو څخه دچين ترپولو پورې پراخې سيمې کې خبرې پرې کېدې اوليکنې يې لږ راپاتې دي چې په نشت حسابېږي؛يوازې يوشمېر کلمې يې چې غالباًدځانګړونومونو په توګه په لرغوني يوناني،لاتين اولرغوني هندي(سانسکرېټ) کې ليدل کېږي. (۹: ۵-۶-۱۳۴مخ)

# ۸-۲دآرياني ژبو منځنۍ دوره:

له ۳۳۱ ق.م څخه داسلام دسپېڅلي دين ترخپرېدوپورې.په لوېديځه آرياناکې دپارتي (پهلوي اشکاني) ،منځنۍ پارسي (پهلوي ساساني) او په ختيځ کې سغدي ،خوارزمي،باختري ژبه، ساکي، ختني، تمشقي او آلاني شواهد لري.چې سغدي دزرافشان ددرې دلرغونو اوسېدونکوژبه ، خوارزمي دلرغونوخوارزم دآمو دلاندېنۍ برخې ژبه او باختري دلرغونو باختري وګړو ژبه چې په يوناني ليک دوداو الفبې ډبرليکونه او کتيبې موندل شوي دي.همداډول سکيتي ژبه دهغوجګړه ماروکوچيانو ژبه ،چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تورې بحیرې او ازوف بحیرې ترمنځ سیمه کې د چین ترپولویې لېږد رالېږد درلوده.

**۸-۲-۲** پارتي ژبه: دلرغونو پارتیانو ژبه چې د رشنکانو په دوره ۲ ق.م تر ۳ میلادي پورې د ټولې پارتیا د شاهي قلمرو، منځنۍ آسیا او پارس کې د دولت رسمي او اداري ژبه وه.(۴۳:۱۲)

**۸-۲-۱** پارتي **Partian** ژبه: په زړه پارسي کې Parθava په لاتین کې Parthia، د آریانا د شمال ختیځ سیمې ژبه پارت وه چې پولې یې د خراسان د ایالت د ګرګان د سیمې او د ترکمنستان هېواد سره برابرې دي. د آریاني ژبو په تاریخ کې د دې ژبې ارزښت او اهمیت د اشکاني کورنۍ چې د فرسیک له ډبرخخه یو ببل قوم وو، د ۵۰۰ کلنې واکمنۍ پورې تړلې ژبه وه چې د پارس او ګاونډیو سیمو باندې کړې ده (۲۴۲ ق.م تر ۲۲۴ میلادي) پورې اشکانیان د پارس د شمال د ایراني یا اریاني کوچیانو قبایلو رهبران وه د دریمې ق.م په لومړۍ نیمایي کې پر پارتیانو بریالي شول. د خپل نوي هېواد ژبه یې قبوله کړه او هغه یې د پارس د خپلې سترې پاچاهۍ درباري ژبه کړه. کومې لیکنې او آثار چې له پارتي ژبې څخه پاتې دي په دوه ډلو وېشل کېږي.

ږ- په پارتي لیک آثار: کوم لیک چې اشکانیانو د پارتي ژبې لپاره غوره کړې وو ارامي لیک څخه رامنځته شوی وو او له ښي لور ګین لور ته لیکل کېده (T-š-r-q-p-s-n-m-l-k-y-h-z-w-h-d-g-b-) د دې آثار د نسا ښار د کنډوالو کدړو چې شمېرېې ۳۰۰۰ ټوټو ته رسېږي چې په پوستکولا یکل شوي دي او رامان، سکې، مهرونه، ګاڼې یا جواهرات او لنډ ډبرلیکونه دي.

ښ- په مانوي لیک آثار: دا لیک هم له ښي لوري ګین لوري ته لیکل کېده د پارتي لیک په نسبت د مانوي لیک هرتوری یوازې یو غړیز ارزښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـري.(b-t-s-š-ŗ -q-d-c-f-b-z-ž-U-w-h-d-r-g-b)آثـاريې اردهنـګ پـرسArdahangwifras آمـوAmmo او مـانوي متـاآخره ياوروستـي آثـار دي (مخ۱۳۷:۹)

**۸-۲-۲سغدي ژبـه:** –پاړسي کې Sugudaتاريخي مخينه يې دسغدي ژبې ليکني مدارک دلرغون پېژندونکولاسته راغلي آثار اوتاريخي دورې (آريايي، يوناني، چيني اواسلامي) پـه ډاګه کوي، چې سغد تېردق.م دويمې په شاوخواکې دسمرقند په شاوخوا او زرافشان دره کې اوسېدل پـه لومړۍ مخزېږده زريـزه کـې دجيحـون او سـيحون سيندونو تـرمنځ يـا مـاوراالنهر پراخــو ورشــوګانوته راوخوځېــدل اودخپلــو نــورو پښــتونو يــانژادونو قومونويعنې؛ سـاکانو، باختريـانو اوخوارزميـانو ترڅنګ استوګن شول. اود۲تـر۴ ق.م پېړۍ پوري دهخامنشيانو تـرواکمنـۍ لانـدې وه.دزرافشـان درې پراخـه سـيمه او نـورې اړونـدې سـيمې يې، چـې ديونـان دپخوانيـو ليکوالو پـه ليکنــوکې يــادې شــوي د۸زېږديــزې پېــړۍ پــه پيــل کــې دعربوسـرتېروپه لاس ورغلـې دسـغدپلازمېنه سـمرقنددچين او لوېـديځ تـرمنځ دوربښـمو دلاروپرسـر ځـاى ځـاى ګـى يـا موقعيـت درلوده.دسـغد سـوداګروګڼ شـمېرکډوال ددې لارې پـه اوږدوکـې دخپـل هېـواد دختـيځ لورتـه ميشـت کړل، چـې پـه پايلـه کـې درکسـتان اوچـين تـرمنځ لږترلـږه منځګړې ژبه شوه.په لرغونې دوره کې سغدي ژبـه دزرافشـان درې اودهغـې پـه ګاونډيو سيموکې دود وه.پـه سغدي ژبـه ليکنـې او کتيتبې دچينـي ،سانسکرېت، سـرياني او منځنـۍ پاړسي ژبـو ژباړې دي،لاسوندونه يـې ډېرى دبـودايي ،مـانوي اودهغـه وخـت پـه مسـيحي ديـن پـورې اړونـد دي،ديغنـايي پـه نـوم دسـغدي ژبـې يـوه لهجـه دتاجکسـتان هېـواد دعليـا زرافشـان دبرخې ديغنـا پـه لوړه دره کې تراوسه مهالـه خوندي او ژوندۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتې ده، چې د سغدي ژبې پاتې شونې ورته ویل کېږي.له دې منځنۍ آریاني ژبې څخه د پام وړ اثار پاتې دي لکه حکاکي شوې سیکې او مسکوکات، منسوجات، پوستکي، ګاڼې او کډړي چې په سغدي ژبه لیکل شوي دي دا ټول آثار د وریښمو دلارې په اوږدو کې ترلاسه شوي دي او په باوري توګه د ۵ او ۲ مخزېږد پېړۍ پورې تړاو لري.د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې د تورفان سیمې او مغ غرڅخه چې کوم څیزونه د لرغون پوهانو کشفیاتو په لړکې ترلاسه شوي دي عبارت دي له: غیر دیني، مسیحي، بودایي او مانوي سغدي آثارهغه لیک ،چې د سغدي متون په لیکلو کې ترې کار اخستل شوی دارامي لیک څخه اشتقاق شوی دی.سغدي ژبه تر ۲ هجري یا لېږدیزې پېړۍ پورې شتون درلود او له دې مهاله وروسته د پارسي (کلاسیکې پارسي ) او ترکي ژبې د نفوس او اغېزو په ترڅ کې له منځه ولاړه .دا ژبه د آریاني ژبو د منځنۍ دورې له ختځې څانګې ،چې د لومړۍ زېږدیزې پېړۍ څخه تر ۱۳ میلادي پېړۍ پورې د تورې بحیرې څخه ترچین پورې په ستره جغرافیایي سیمه کې آریاني قبایلو دیوې برخې خلکو ژبه وه او خبرې پرې کولې چې ابېڅې یې په لاندې ډول دي:(-l-i-u-ū
e-ē-∂-o-ō-a-ā-b-b-c-d-ɕ-f-y-g-h-j-k-q-l-m-n-p-r-s-š-t-θ-w-x-
y-z-ž-s-t-č ) (۹:۵-۲-۱۳۹مخ)

## ۸-۲-۳خوارزمي :

خوارزمي ژبه ( اوستا Xuairzem زړه فارسي huvarazmiya ): د سغدي خپلوانه ده او د آریاني د منځنۍ دورې د شمال ختیځو ژبو له ډلې څخه شمېرل کېږي، چې مخکې د آمو سیند کوزنۍ برخې په واحد ونو کې دود وه او تر اورال سیند پورې غزېدلې وه. تر څوار لسمې مېلادي پېړۍ پورې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

شتون درلود ، خوله دغه نښتې وروسته ترکي ژبې اغېزو په خپل ځان کې ورکه کړه. د خوارزمي ژبې له پاره ښايي په دوه دورو بشنه وکړو :
منځنۍ یا پخوانۍ خوارزمي ، چې په (آرامي خوارزمي ) لیک لیکل شوې او مناخره خوارزمي چې په (عربي خوارزمي ) الفبا ء لیکل شوې ده (۳:۵۲۵مخ).

د توپراق قلعه د لرغون پېژندونکو ترلاسه شوي آثار چې په خوارزمي ژبه په پوستکو(څرمنو )اولرګيو باندې لیکل شوي ، د څلورمې او درېيمې قبل الميلاد پېړۍ پورې تړاولري.
د متاخرې خوارزمي آثار چې د حجم او مطلب له پلوه ډېر د پام وړدي ، په دولسمه اودیارلسمه زېږدیز پیړۍ کې په عربي لیک لیکل شوې دي.( متا سفانه ددې متونود لوستلو ستونزه د ټکو اواعرابو نشتوالی دی )
ابوريحان البيروني د خوارزمي ژبې یوشمېر لغات( د میاشتو ، ورځو ، جشنونو او دولس ګونو میاشتو نومونه په خپل آثار ، التقهيم او آثار الباقيه کې را نقل کړي دي.

# ۸-۲-۴باختري ژبه : Bactria

باختري ژبه د آرياني ژبو دمنځنۍ دورې د شمال ختيځ ګروپ څخه اود لرغوني پلخ د سيمې ژبه ده. دا ژبه له يوې خوا د پښتو ، يدغه اوفخجي ژبو سره او له بلې خوا د منځنۍ دورې د سغدي ، خوارزمي او پارتي ژبو سره ډېره نږدې خپلوي لري.
داژبه د سرخ کوتل د ډېر لیک تر موندلو پورې په بېلابېلو ژبويا دېده. ځينو پوهانو تخاري Tokharia او د سرخ کوتل د ډبر لیک کاشف رښتيني او حقيقي تخاري eteo- Tokharia ، ځينو نورود اوښتي يوناني

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکدود د کارونې له مخې د گریکو باختري Greco-Bactarian په نامه او ځینو نورو بیاد کوشاني واکمنانو په نامه دا ژبه کوشاني Coshano نومولې ده.
د باختري ژبې د نامه او اساساً د هغې د فهم د کیلي په برخه کې تر هر چا دمخه د هېننگ پور وړي یو.
نوموړي لومړی ځل په ۱۹۲۰ م کال د سرخ کوتل د ډ بر لیک د تحلیل او ژباړې وروسته دا ژبه د باختري په نامه ونومولـه او همـد ارنگه ده دکوشاني واکمنانو د مورنۍ ژبې په نومونو کې د iska وروستاړی لکه وازشکا vazesko ، هویشکا ooesko او کنیشکا Kanesko چې د لرغوني آریایي د تفضیلي صفت Sta-ka * یې تکامل کړی ، و پیژانده.
نوموړي څرگنده کړه چې د دې درې نومونو وروستني جز یوازې د پاختري ژبې د غرېز تحول له لارې دفهم وړ دی او معنی لري.
گرشوېچ د هیننگ نظر تائیدوي او لیکي: « هېننگ په دې څرگندونې سره چې د دې درې گونو نومونو وروستاړي ، یوازې دهغې ژبې په ځانگړي غرېز تحول کې مفهوم او معنی پیدا کوي ، کوم چې نوموړي دغه ژبه باختري گڼلې، نو هېننگ د کوشاني واکمنانو د مورنۍ ژبې په پېژندنه کې ، چې په خپله باختري ژبه وه ، بریالی شوی دی. سره له دې چې ددې واکمنانو نیکونه لکه څرنگه چې ټول په دې باور دي ، ساکان وه. دوی کیدای شي د یوې کورنۍ غړي وي، چې دغه مهال یې د دښتي ساکانو له منځه سررا پورته کړی وه.»
په باختري ژبه کې لنډ واولونه u,a ,i او اوږده واولونه I,o,a د کلمې په پیل او منځ کې لیدل شوي دي. خو د e,o او u لپاره په ندرت سره شواهد

(c) ketabton.com: The Digital Library

موندل کېداى شي. په دې ژبه کې شل کانسوننټ ليدل شوي چې عبارت دي له:

x,f,t,ts,s,s,r,p,n,m,L,k,e, dz,z,z,g,r,t

## ۸-۲-۵ Sarmatian سرماتی Alani او آلاني:

د سرماتي اصطلاح دلته په ځانګړې توګه د توري بحيرې په شمالي ختيځ کې د ايوني سوداګريزو ښارونو د يوناني کتيبو په آرياني نومونو باندې چې د اشخاصو له نومونو او د يوشمېر اقوامو له نومونو څخه تشکيل شوي ، اطلاق کېږي. ( د څلورمې ق،م پېړۍ څخه تر لومړۍ ق،م پېړۍ پورې ).

ښايي د کوبان سيمې Өeo onatafan زرينه کتيبه سرمتي وي، د هرورت او اسرابو د ليکنې پربنسټ د روسيې جنوب او د توري بحيرې شمالي ختيځ تر دانيوب سيند پورې ددوي سرمتي کېدل په څلورمه ق،م پيړۍ کې شوې وي.

آلاني ژبه په پيل کې د تاريخي ګزارشونو پربنسټ ، په ځانګړې توګه د ځانګړو ژبو صورتونو (بڼو )په اړوند پوله بندي شوې وي. ګومان کېږي چې بېزانسي ، چېني ، مغولي ، اسلامي ، سرياني ، زړه ارمني ، زړه ګرجي او زاړه رومي را وروسته زاړه منابع اوهمدارنګه د منځنيو پېړيو د مجارستان زاړه منابع و ،زړې آلاني عام نومونه ، د اشخاصونومونه ، د اقوامونومونه او د ځايونو نومونه په ځان کې رانغاړي. د سرمتي او آلاني نور اسناد د آرياني د پوروني ښکارندوی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرمتي او آلاني ترمنځ د ژبپوهنې دقيق تفکيک نا شونی دی. د الانيانو مهم آثار دوه نادرمتون دي ، چې يويې په يوناني ليک د بېزانسي ليکوال يو حناتزس (۱۱۱۰ م- ۱۱۸۰ م شاوخوا ) دوه کربنيزمتن دی، چې د خدايانو د پيدا ښنت د اسطوروپه پايله کې ليکل شوي او دوهم يې په زليخپوک کې د لسمې او يوولسمې ميلادي پېړۍ په يوناني ليک د قبر بر شناختې آلانې ليکنه ده.

**۸-۳آرياني ژبو معاصره دوره:**(د۸او۹زېږديزې پېړۍ څخه تراوسه پورې). اوسنۍ آرياني ژبې او ګړدودونه چې له مرکزي آسيا نه ترعمان او پامير څخه ترقفقازه پورې وېل کېږي او خلک خبرې پرې کوي.

دآرياني ژبودوروته دلنډې کتنې څخه وروسته اوس دبحث اصلي بهيرته بېرته ورګرځو چې له ساکي ژبې وروسته دزماني وېش له مخې پرپارتي ژبه بحث وکړو.

## ۸-۳-۱د معاصری دورې د ژبو ځانګړتيا وې:

له تاريخي پلوه معاصرې ژبې د اتمې اونهمې زېږديزې پيړۍ څخه په عربي ليکدود ( دهرې ژبې په خويا ډېرو ځانګړو توروسره ) ليکل کېږي ، پرته له څو ژبو څخه چې د پخواني شوروي اتحاد په سيمه کې دود وې او د شملې پېړۍ د دېرشو کلونو را هيسې تراوسه پورې دهغې دليکنې له پاره د هرې ژبې دځانګړې سيريلي الفباء(ابېڅو ) څخه کار اخيستل کېږي.

د آرياني د معاصري دورې له ژبو څخه ، پاړسي ، دري او تاجکي اوس مهال درېواړه دبېلوهېوادو ژبې دي ، چې د تاريخ په اوږدوکې يې په بېلا بېلو ليکدودونو له ځانه ډېر آثار پرېښې دي او د اوومې او اتمې ميلادي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېړۍ ځخه يې د آريانا په خاوره کې خپل خپراوي ته پراختيا ورکړې او د لوېديځې آرياني لهجې ( پهلوي اشکاني ) ځای يې ونيو ، په فارس او خراسان کې په پراخه توګه وغوړېدې.
په راوروسته پېړيو کې يې ماورالنهر ته مخه کړه. د زرافشان درې او دهغې دګاونډيو سيمواو وسېدونکي چې سغدي ژبې وو او همدارنګه د ببلابېلو لهجو لکه باختري، ساکي ، او د پخواني تخارستان د تخارۍ د ويونکو تر منځ يې نفوذ پيدا کړاو تر يو وخته پورې د دويمې ژبې په کچه کارېدله ، چې ددې ګړدودونو له منځه را وروسته له بوې خوا دري اوله بلې خوا ترکي ژبې د هغوی ځای ونيو.
پس له هغې چې دغه سيمې دري ژبې شوې ، ځينې غرېزاو ګرامري توکي په ځانګړې توګه ددغه سيمې د پخوانيو ژبو کلمات يې په ځان کې جذب کړل.
کله چې دري ،دغه سيمې ترخپل پوښښ لاندې کړې، په منابعو کې د پارسي، دري په نوم ونومول شوه.
ليکدود يې د خوځانګړو تورو په ډېرېدو سره عربي شو. ددې له پاره چې د منځنۍ پارسي اوزړې فارسي سره يې توپير وشي چې دوی يې پخوانۍ بڼې وې، په علمي ليکنوکې د نوې فارسي ( کلاسيکې فارسي ) په نوم يادېږي.
له لسمې زېږديزې پېړۍ څخه د فارسي او دري ژبې د شعرواودعلي– تاريخي ادبياتودغوړېدا دوران پيلېږي او نړۍ وال د ستروشاعرانو لکه رودکي، فردوسي ،سنايي، خيام ، سعدي ، حافظ ، جامي او مولانا شاهدان دي. په دې دوره کې سترتاريخ پوهان لکه بيهقي ، ګردېزي ، ابن سينا او ...... په پارسي او دري ژبه خپل آثار نړۍ والو ته وړاندې کوي.
پارسي او دري ژبه نه يوازې دمرکزي آسيا او فارس د اقوامو ليکنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ادبي ژبه وه ، بلکې په نړدې ختيځ او منځني ختيځ کې د نورو ګڼو قومونو لکه د آذربايجان ، کردانو ،هندیانو او د مرکزي آسيا د ترک قومونو ليکنۍ ژبه هم وه .
د پارسي اودري ادبيات د بېلا بېلو تېرونو د استازو ( په بېلا بېلو مورينو ژبو ) لاس ته راوړنه وه ، چې له قسطنطنيې څخه د ختيځ ترکستان تر ښارونو او له قفقاز څخه د هند تر شمال لوېديځ پورې په پراخه قلمروکې ميشت وو.
ددې ټولو سره سره بايد په ياد ولروچې د پارسي او دري ادبي ژبو د قواعدو په تشکيل کې د پخواني افغانستان(خراسان) ، سيستان او ماورالنهر شاعرانو او ليکوالانو اصلي ونډه درلوده .
پارسي اودري د منځنۍ پارسي مستقيمه پاتې شونې ده او د منځنۍ فارسي سره يې توپير په ځينو کانسوننټونو او ګرامري نظام کې په لاندې توګه خلاصه کولای شو:
په پارسي دري کې نوميز(اسمي) نظام د پهلوي په شان تحليلي اړخ او د مخنيو او وروستنيو اضافي تورو څخه متشکلو يو شمېر جوړښتونو پراختياته ميلان لري. تحليلي توصيفي شکلونو ( مرکب صورتونو ) ته د پراختيا ميلان د فعل په نظام کې هم څرګنده ليدل کېږي. د ماضي نقلي مرکب صورتونه:
نوشته ام ، بعيده ماضي: نوشته بودم ، راتلونکې: خواهم نوشت ، مجهول: نوشته شد ، له اسم څخه د مشتق مرکبو فعلونو پر يمانه پراختيا ، لکه تبريک گفتن ، گرم شدن...... او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غږیزنظام پخوانی او اوسنی تحول

| زړه فارسی | a | a | i | I | ai | u | u | au | ai | au |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| منځنۍ فارسی | a | a | i | I | e | u | u | o | | |
| فارسی دری | a | a | i | I | e | u | u | o | | |
| دری | a | a | e | I | e | o | u | u | | |
| تاجکی | a | o | | e | e | u | | u | | |
| فارسی | a | a | e | i | | o | u | | | |

| | دری | تاجکی | فارسی | فارسی دری | منځنۍ فارسی | زړه فارسی |
|---|---|---|---|---|---|---|
| چند | cand | cand | cand | cand | cand | cwand |
| آباد | abad | obod | abad | abad | Abad/t | a-pata |
| امروز | emruz | imruz | emruz | imroz | Im-roz | *Ima-rauch |
| شیر | sir | sir | sir | sir | sir | xsira |
| سفید | safed | safed | safid | saped | sapet | spaita |
| خود | xud | xud | xud | xod | Xod/d | xauda |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| بود | bud | bud | bud | bud/bud | Bud/d | xauda |
| کوش | gus | gus | gus | gos | gos | gausa |

# ۸-۳-۲ پښتو ژبه: paşto (Pashto)

د آرياني ژبو د شمال ختيځ ډلې ژبه ده او د افغانستان په ټولو ولايتونو کې رواج او دود ده. په پاکستان کې ( د پاکستان په شمال لويديځ کې ) په سلوکې د اويا وګړو ژبه ده ، چې له شمال څخه په چترال ( په ځانګړې توګه تر خوريانو ) پورې او له ختيځ څخه په هزارې او ديره اسماعيل خان ( په ځانګړي توګه تر پنجابيانو پورې محدوده ده. د پاکستان په شماليسرحد اتو کي غالبه ژبه ده او خوره وره د پاکستان په نورو بر خو کې هم ويل کيږي (۳۱:۲۱۴مخ) .

په هند کې ډېر شمېر پښتانه اوسېږي او د نفوسوارشمېر يې نه دي څرګند شوی. يو محدود شمېر پښتانه د چين په ( سيانکيان ) کې او له پنځو سو زرو څخه ډېر په ايران کې ژوند کوي. د افغانستان نفوس په سلوکې شپيته اويا او ترمنځ پښتانه جوړوي او تشکيل وي. په اوسنيو سيموکې د پښتنو د ميشتېدلو اټکل ستونزمن دی. شواهد په ډاګه کوي چې دوی لومړني آريايي مهاجرين دي. د پښتو paşto نوم کيداي شي په parşr کې د aw د وروستاړي(۴۸:ب) په ډېرولوسره parşuah يا parşa/u وي. (۴۲:۲۴مخ)چې دژبو په نومونو کې په څو منځنيی آرياني ژبو کې موندل کيږي. داسې ښکاري چې د پښتو کلمه د ختيځو آرياني قومونو سره چې په زړو ادبي منابعو کې راغلي دي، اړيکې لري لکه د parşioc دنوم سره چې بطليموس راوړی، له ادبي دورې څخه مخکې پښتوژبې سيمې په دوو ګړدوديزو ډلوو وېشل شوي ، چې د دغو دوو لهجواوسنی استازې ، له

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوې خوا دنوې پښتوټولنې لهجې اوله بلې خوا ونيتسياو په نوروسهېل ختيځولهجوكې زړې پاتې شوې دي.
تراوسه پورېږېپوهانود پښتوژبې څلورلاندنۍ لهجې په ګوته كړې دي:
۱- سهېل لوېديځه لهجه(كندهارۍ) او ورځېرمه سيمې.
۲- شمال لوېديځه( مركزي غلجايۍ ) يا خيځه لهجه: د افغانستان په ختيځ او شمال كې ( د كابل ختيځ او د افغانستان شمال ختيځ ولايتونه )
۳- سهېل ختيځه لهجه: بلوچستان ، بنو ، وزيري ، كاكشي شرني ، سپين /تور ترين.
۴- شمال ختيځه لهجه: د پاكستان شمال لوېديځ ، پېښور، يوسفزي ، مومند ، شما ل ختيځ غلجي ، افريدي ، بنګښ اوركزي.(۹:۲۵مخ) زما په اند په اوس وخت كې پښتو ژبه څلور لهجې لري: كندهارۍ،مركزي(كابل او شاوخواولايتونه)،لويه پكتيا،دافغانستان مشرقي ولايات او كوزه پښتونخوا. البته په كوزه پښتونخواكې كوټه او اړونده سيمې كندهارۍ لهجې ته ورته دي.

## ۸-۳-۳پاميري ژبې: Pamirian Languages

د ختيځو آرياني ژبو يوه ډله ده ، چې د تاجكستان دبدخشان دغزني ايالت درود پنج درې په اوږدو ،دهغې په شاوخواڅانګو ،دخاروغ په اداري مركزيت اوهمدارنګه د دوی په ګاونډې دافغانستان په بدخشان كې په بوه پراخه سيمه كې ويل كيږي. واخي ،چې مركزيي د واخان غاښي دي دا ژبه هم د چترال ګلګېت ،هنزه اودسين كيانګ په ګاونډيوسيموكې ويونكي لري ، په داسې حال كې چې سريكولي يوازې د سريكول دمعبرپه ختيځ كې دود ده ، چې د پخواني شوروي اتحاد اوچين ترمنځ سرحد جوړوي.پردې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنسټ سريکولي ډېره ختيځه ژوندۍ آرياني ژبه ده. د پاميري ژبو ويونکي د (۱۰۰۰۰۰) نفرو په شاو خوا کې ګڼل کيږي.
پاميري ژبې په ګونبې او جلا توګه دا سې شمېرلای شو:
شغني – روشاني څانګه: sugni and Rosani
شغني (شغني xurnun ziv د پخواني شوروي اتحاد د آب پنج په غاړو، په شمال کې له دشت څخه په جنوب کې تر درمورخت پورې او هم د ګونت (غند) درې او شهداي (شاه درې) په اوږدو کې ويل کېږي. د ويونکو ستر او مهم استوګنځی يې د خاروغ ښار دی، چې (۱۴۰۰۰) تنه نفوس (۱۹۷۴م) لري.
په افغانستان کې شغني ژبه د آب پنج د لوېديځو غاړو او د پرشيت په څو درو پورې محدودېږي. ډېره ګڼ مېشته سيمه بر پنجه کليوبانډو کليواله سيمه ده. په جنوب کې د درمارخ کلي د غاران د ناحيې سره سرحدي کرښه جوړوي، د موجوده ګزارشونو پر بنسټ د افغانستان خواته وګړي ډېرکم شوي دي.
په شغني ژبه کې لاندې لهجې پېژندل شوي دي:
۱- د بجو لهجه، چې د شغني سيمې په شمالي سرحد کې د آب پنج په يوه کوچنۍ فرعي دره کې پرې خلک خبرې کوي.
۲- د شهدري لهجه (شغنۍ xoxdara ziv) چې د شهدري په اوږدو کې له منشاء څخه تر توديم Tavdem کل پورې ويل کېږي.
۳- د بروز (برواز) لهجه چې پخوا رشت قلعه (راشت قلعه) ته نږدې په همدې نامه په يوه کلي کې پرې خبرې کېدلې، خو اوس معياري لهجې د هغه ځای نيولی دی. د شغني ژبې ويونکي (۲۰۰۰۰) تنو په شاوخوا کې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخواني شوروي اتحاد او د ( ۲۰۰۰۰ څخه تر ۳۰۰۰۰ ) تنو پورې په افغانستان کې ګڼل شوي دي.

روشاني Rosani:

د رود پنج په غاړه له پستخوف څخه ، چې په جنوب کې شغني سره هم سرحد تر شپيد پورې په شمال کې دود ده. د هغه دولسو کليو څخه چې روشاني په کې رواج ده د روشن ( ومر ) ، درزود Derzud ، بروش Barusan ، او د روشن Derisan کلي ستر دي. د ويونکو شمېرېې د (۱۰۰۰۰) تنو په شاوخوا کې دی ، چې له (۱۰۰۰ څخه تر ۱۵۰۰ ) تنو پورې يې په خوفي لهجه خبرې کوي. دا لهجه د خوف په فرعي دره کې روا ج ده په افغانستان کې روشا نن سيمه يوه نرۍ تراړه ده ، چې اصلي کلي يې چشنود Chasnud او پا يور Pajwar دي او د ښيوې په سيمه کې هم د روشانيانو د شتون خبر ورکړل شوی دی. د ويونکو شمېرېې له (۲۰۰۰ څخه تر ۳۰۰۰ ) پورې اټکل شوي دي.

برتنګي Bartangi:

د برتنګ د سيند په اوږدو کې له رامک څخه تر نکبست Nikbist پورې لږترلږه په شلو کليو کې ويل کېږي ، چې مهم کلي يې له برتنګ ، سپنج Sipanz ، بسيد Basid ، رزوچ Razuc ، هيجس Hidzes او رومد Ravmid څخه عبارت دي. په دوو لهجو بسيد ، سپنج او رومد سره جلا کېږي. د ويونکو شمېرېې د ( ۳۰۰۰ ) تنو په شاوخوا کې اټکل شوي دي.

رشروي Rasorvi:

د رشروي ژبه د مرغاب او ګودره سيندونو په مسير کې په اتو کليو کې رواج ده. يعنې د پامير په بوه ډېره صعب الوصول سيمه کې وېل کېږي. ددې کليو له ډلې څخه روشاروه ستر کلي او ددې ژبې د پيدا ينښت اصلي منشاء

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده ، چې په پخوانيو آثاروکې اوشري ورته ویل کېده ( ظاهراً قرغېزي تلفظ رشروي وا وروستۍ ژبې ته يې لار موندلې ده ) . ددې ژبې د ویونکو شمېر ( ۲۰۰۰ ) تنه دي.

سریکولي Sariquli:

دا دهغو خلکو ژبه ده ، چې په پخوانيو زمانوکې له شغنان څخه لوړو درونه کډه شوې دي او دغه لوړې درې د چين د سين کيانګ - اولېغور وارنيونو ترمنځ سرحد دی. سریکولي لوړيې د پا مير ډېری ختیځې لوړې دي. دا ژبه د شغني - روشاني څانګې پورې د نورو اړوندو ژبو څخه د جغرافيايي جلا والي له پلوه ډېر ارزښت وړده. دا ژبه درې لهجې لري:

۱- مرکزي لهجه چې د دې سيمې په اداري مرکز تاش قرغان او همدارنګه په ګاونډيو کليو په آندره ( تيزناف ، جوشمان ) کې رواج ده.

۲- د نژدې ختيځ لهجه ، چې د مرکزي لهجې ترڅنګ په وچه wacha دره کې تر بلدير Baldir پورې او همدارنګه په مريونګ Marinog کې هم ويل کېږي.

۳- د لېري ختيځ لهجه ، چې په بورنګسل Burangsal ، کيچيک Kichik او تونګ Tung کې رواج ده. د سریکولي ژبې دویونکو شمېر ( ۱۰۰۰۰ ) تنو ته رسېږي.

يزغلامي Yazghulami:

درودیز غلام په دره کې د آب پنج له څانګې څخه تر خافک کلي پورې رواج ده ددې ژبې د ویونکو د استوګنې مهمه سيمه اندربګ Andarbag ده او د ویونکو شمېر يې ( ۲۰۰۰ ) تنو ته رسېږي.

اشکاشمي Iskasemi: (مخ۱۳۱:۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیاتره په اشکاشم او دهغې په ګاونډیو سیمو ، چې دآب پنج رود په غاړه د افغانستان لورته پرتې او په دغه ځای کې د رود مسیرله لویدیځ څخه شمال خواته اوړي ، رواج ده ، خو کېدای شي دغه ژبه د نوموړي رود په غاړه د تاجکستان لورته د رین Run په کوچني کلي کې هم وموندل شي . ( تاجکي غاړې ته دغه موجود کلی د تاجکي ژبې اشکاشم په نامه دی ) . یو کم شمېر رین میشتو اشکاشمي ژبو خلکو په راوروسته وختو نوکې دغه ځای پرېښې د پخواني شوروي په ګورن ( د تاجکستان په غرنیو سیمو ) کې یې د شومجین Sumdzin په نامه په یوه نوې سیمه کې کورونه جوړ کړي دي . د اشکاشمي ژبې ویونکي ( ۲۰۰۰ )تنه ګڼل شوي ، (۱۵۰۰) تنه یې په افغانستان او پاتې نوریې د پخوانۍ شوروي په سیمه کې اوسېږي.

زیبا کي Zebaki :

زیباک د آسیا ددې پرخې ( د پامېري ژبو ) یوه څو ژبیزه سیمه ګڼل کېږي . ځکه د غلته په زیباکي ، تاجکي ، واخي او شغني ژبو خبري کېږي . ددې ژبې د ویونکو شمېره له ( ۱۵۰۰ ) تنو څخه نه زیاتېږي.

سنګلېچي Sanglici :

سنګلېچي ژبه د دریو سیمو ، پروخ Parux ، اسکتول Iskatul او سنګلیچ Sanglich لهجه ده ، چې د وردوچ warduj رود په لوړه دره کې واقع دی . د وېونکو شمېریې د څو سوو تنو څخه نه اوړي.

واخي Waxi :

د وخي جغرافیایي موقعیت د پا میر او هندوکش تر منځ د واخان غاښی دی . واخي ژبې کلي د آب پنج په غاړه د پخواني شوروي لورته له غرکوټ Namadkot څخه تر اتم Ratm پورې پراته دي او په منځ کې یې څو تاجکي ژبې کلي موجود دي . په دې کې دوه لهجې ، علیا او سفلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

تشخیص کیدای شي. سفلي لهجه له غرکوټ څخه تر درشج Darsaj پورې او علیا لهجه له شیتهرو Sitharv څخه تر اتم پورې رواج ده.
د آشور ، لنگر او اتم کلي علیاء لهجه کاروي.
په افغانستان کې ، واخي ژبې کلي اشکاشم ته نږدې له پوتور putur څخه تر رحد پورې د واخان سیند په برنیو غاړو کې غزېدلې دي. د واخي ژبې لهجوي توپیر په افغانستان کې هم مشهود دی. واخي ژبې کلي ، په چترال کې د یرخون Yarxur سیند د بر نیو غاړو په اوږدو کې یعنې په هغه ځای کې ، چې واخیان د خوریانو Xwar سره گاونډیان دي ، هم لیدل شوي دي. واخیان ایشکومن Iskoman په کرمبر Karambar دره کې هم استوگن دي او مرکزیې ایمیت دی. د وروستیو سر شمېرنو پر بنسټ د واخي ژبې د ویو نکو شمېر له (۲۵۰۰۰) یا (۳۰۰۰۰) څخه ډېر نه دي ، چې له دې ډلې څخه (۱۰۰۰۰) تنه یې په پخواني یشوروي کې او (۱۰۰۰۰) تنه یې په افغانستان او (۳۰۰۰) تنه یې په هنزه کې دي
آسي ( استي ) assetic:
آسي ژبه د ختیځو آریاني ژبو له جملې څخه ده چې د ققفازپه شمال کې وېل کېږي. دا ژبه دوه لهجې لري ، ختیځې لهجې ته یې ( ایروني ) او لویدیځې ته یې (دیگوري ) وېل کېږي. ډېری آس قوم په ایروني لهجه ، د ادبي ژبې بنسټ دی ، خبرې کوي. لیکدودیې روسي ( د څو ځآنگړو اضافي تورو په درلودلو سره ) دي. دا ژبه د لویدیځو ساکانو د ژبې پاتې شونې ده او د لرغونې دورې دآریا ني ژبو ډېر ی ځانگړتیاوې یې تر اوسه ساتلې دي. د ویونکو شمېر (۵۰۰۰۰) تنو ته رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۸-۳-۴ اورمړي ژبه:Ormari

دا قوم د پښتنو له خوا د اورمړ په نامه ژبه یې اورمړي او استوګنځی یې اورمړ یاد شوی دی. د تاجکانو له خوا د اورمړ له خوا د اورمړ په نامه ، ژبه یې اورمړي او تاتوبی یې برکي برک ښودل شوی دی. پخپله اورمړیان ځانونو ته اورمړ ، خپلې ژبې ته اورمړي او خپل استوګنځي ته ګرام وایي.

اورمړي ژبه په افغانستان کې د کابل د سهېل په اتیا کیلومتری کې د عبدالصمد خان کلي ، نورالله خان کلي اود تقي کلي کې چې د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالۍ اړوند دي وېل کېږي.

په پاکستان کې د وزیرستان په کانیګرام کې د پاسنیو( بالا ) اوکوزنیو( پاین ) اورمړو په نامه یادېږي. په لوګر ولایت کې اوس د ا ژبه د سلو څخه په زیاتوکرونیوکې چې دوګړو شمېریې ( ۱۰۰۰ ) تنو څخه اوړي ، وېل کېږي او په کانیګرام کې ددې ژبې د ویونکو شمېرهم د همدې اندازې په شاوخوا کې ښودل شوی دی.

داچې د وزیرستان د کانیګرام او لوګر برکي برک د اورمړیانو تر منځ اړیکې له ډېر پخوا څخه پرې شوې دي ، ددې دوو ډلواورمړیانو لهجو له یوبل څخه په جلا او خپلواکه توګه تحول کړی دی. نن ورځ د یوې ډلې وګړي دبلې ډلې د وګړو په لهجه نشي پوهېدلای.

پراچي Paraci:

پراچي ژبه د جنوب ختیځو آریاني ژبو له ډلې څخه ګنل کېږي. نن ورځ پراچي ژبه د هندوکش د جنوبي لمن په دریو دروکې رواج ده ، لومړی د شتل sutul درې په اتوکوچنیو او سترو کلیوکې ، چې پنځه سوه کورنۍ پکې ګډون لري او ستر کلي یې دا دي: ماده ، اندواسات سنګ لخشان ، رویده ،سیغوار ، احمد اندور او استوفالو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم د غوچلان درې په شپږو سترو اوکوچنيو کليو ، تاتخيشات ، کنده (ديان ) ، سمبار ، ماليا ، منديسات او ساغوسات کې چې (۲۳۰ ) کورنۍ لري.
دربيم د پچغال درې په يويشتو کليو ، ذکری ، غښن پاين ، دولت خاه خيل ، کيلی ، حسن خان خيل ، چنداغول /چندانمو کې چې اووه سوه کورنۍ لري .ددې کليو پسې وروسته يوه پشه يي ژبې سيمه موجود ده او نور پراچي ژبې کلي چې ددې سيمې په تغقيب پراته دي عبارت له: شيغر ، لوکاسات ، المديسات ، مغول بيک خيل ديقام ، اينيگرسات ، ابراهيم خيل ، ملک خيل ، زکرياخيل ، جبارخيل ، لتوخيل. کندی موسابر خيل ،فلعچه او خوجغار څخه. شتل ده پنجشېر ته نږدې واقع ده او پچغان اوغچلان درې په نجراب کې دي.
يغنا بي ژبه : Yaghnobi
دا ژپه د تاجکستان د يغنا ب په دره کې ويل کېږي. سره له دې چې زيات ويونکي نه لري د ژبپوهنې د موازينو مطابق د ( سغدي ) ژبې ژوندۍ بڼه او د هغې بلا فاصله پاتې شونې ، چې تر اوسه پېژندل شوې ده او د تاريخي ژبپوهانو ډېر پام يې ځان ته را اړولی دی.
کردي ژبه: Kurdis
کردي ژبه آرياني ژبه ده چې د ايران لويديځ ته په ترکيه ، عراق ، ارمنستان اوسوريه کې ويل کېږي. کردي ژبه گڼې لهجې لري:
۱- کورمانجي هغه لهجه ده ، چې په عراق ترکيه اوايران کې رواج ده او په عربي ليکدودليکل کېږي. کردي ژبه په سوريه کې په لاتين ليک او په ارمنستان کې په روسي ليک ليکل کېږي.
۲- گورماني لهجه د کرمانشاه په ناحيه او زازا( د ترکي په ځينوناحيو ) کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- اومـاني د كرمانشـاه پـه شـمالي ناحيـه كـې رواج ده. د زازا او گـوراني لهجو ځينې ځانګړنې د مركزي ايراني لهجې په ځانګړي توګه د سمناني او سيوندي سره د نږدې اړيكو درلودل دي.

## ۸-۳-۵بلوڅي ژبه: Baluchi

بلوڅي ژبه د بلوچستان په تاريخي سيمه كې دود ده ، چې نوم يې د هغې د اوسېدونكو يعنې بلوڅ څخه اخيستل شوی دی. په اوسني وخت كې د دې ولايت ځينې برخې پـه پـارس اوسـني ايـران پـورې او ځينـې نـوري يـې پـه پاكستان پورې تړاو لري. له بلوچستان پر ته د افغانستان يه جنوبي سيمو ، د پنجاب پـه جنوب لويـديځې برخې اود سند پـه ښـی غـاړه او د ايـران د پولې دننه په كرمان ، لارستان ، سيستان او خراسان كې هم ويونكي لري.
بلـوڅي ژبـه پـه دوو اصـلي ځانګوو ښـل كيـږي: ختيځـه ځانګـه رخشـاني Raxsani لهجه لري چې ستره ځانګه ده ، ټولـه مركـزي سـيمه يـې نيـولې ده او د افغانستان او تركمنستان لهجه هم په كې شامله ده.
سرواني لهجه په ايـران كـې د زاهدان جنـوب تـه ، لتـوني Lotoni لهجـه پـه ايران كې د سرواني لهجې جنوب لورتـه او كچـي Keci لهجـه پـه مكـران او پاكستان كې ده
هغه سيمې چې بلوڅي په كې دود ده:
الـف ـ د افغانسـتان پـه لوېديځ كـې لـه چخانسـور څخـه د هلمنـد سـيند پـه امتـداد ختـيځ لورتـه تـر لنډي محمـد امـين خـان پـورې د سـلو زرو تنـو پـه شاوخوا كې بلوڅ او د دوو سوو زرو تنو په شاوخوا كې پراهيان دي.
ب – د تركمنستان جمهوريت د مروې په كليـو بانډوكې ( پـه ټولیزه توګـه د نولسمې پيړۍ پـه وروستيوكې څلوېښت زره افغاني كډوال شتون لري).

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج –ایران کې ( په ټولیزه توګه د سیستان او بلوچستان په ایا لتونو ، لویدیځ لورته د زابل د شا وخوا څخه تر عمان بحیرې پورې په جنوب کې اوه سوه پنځوس زره تنه )

د- په عربي شبه جزیره کې ( په ټولیزه توګه عمان ، عربي متحده امارات او کویټ کې اکثره هندي او پاکستاني مهاجرین پنځه سوه زره تنه دي ).

ه – پاکستان کې ( په ټولیزه توګه د بلوچستان د سند په صوبو کې ، پرته له براهوي میشتې تراړې څخه یې شمېر ۳۲۰۰۰۰۰ تنو ته رسېږي ).

د بلوچي ژبې د ختیځې او لویدیځې ډلې فونمیکه الفبا

ختیځه ډله:- au - ai-p-t-ṭ -č-k-b-ḍ - d - q- j- f-x-ɵ-s-š-ž-Y-m-ṇ

a- ā- ē - ō -i - ī -u - ū -(n)-w-l-ɽ-r-y-h-b-ō-z

لوېدېځه ډله: - au - ai-p-t-ṭ -b d- ḍ -j -q-( f)- s-š-(x)-z-ž-Y- ṇ

n-ṃ-r -ɽ -h-y- w-l -y- a - ā- ē - ō -i - ī -u - ū

په مورنۍ ژبه لیکنه د نولسمې پېړۍ د ډېرو کمو خورو ورو آثارو پرته ، ډېری په شلمه پېړۍ کې د ۱۹۳۰ وروسته او په ځانګړې توګه له ۱۳۴۷ لمریز کال څخه د پاکستان د دولت د جوړېدو سره هممهاله محدوده شوه.

تاتي ژبه:

دا د تات ټبرژبه ده چې دا قوم د آذربایجان او داغستان په ځینو سیمو کې اوسېږي. ټول تاتي ژبي خلک اوس په آذري ژبه هم خبرې کوي. د داغستان تاتي ژبې اوسېدونکي د ژبې په ځانګړي توپیر سره روسي لیک کاروي. تاتي ژبه د آسي ژبې په څېر خپل ترکیبي حالت ساتلی دی او کیدای شي چې له منځنۍ ساکي ژبې له لهجې څخه تحول کړی وي.

تالشي ژبه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ژبه د آذربايجان په خاوره کې وېل کېږي. تالشان د خزر بحيرې په لويديځه غاړه اودهغې په غرنيو سيمو کې اوسېږي. دوي د ققفاز د دوو ژبو، آسي او تاتي تر څنګ د يوې څانګې په حيث له منځه ساکي څخه تحول کړی دی.

کومزاري ژبه:

دا ژبه د فارس خليج جنوب په يوه سيمه کې او د عربستان شبه جزيرې شمال ته ( بندرعباس ته مخامخ ) وېل کېږي.

لري او بحتياري ژبه:

د صربستان په سيمه اود بختياري قبايلوتر منځ څولهجې لکه ( سري ) او( لکي ) رواج دی چې د نويو ايراني لهجو په کتارکې شمېرل کېږي.

## ۹ -د تاريخ په اوږدو کې دآرياني ژبو څانګړتياوې:


دآرياني ژبولرغوني دوره ډېره پخوانۍ دوره ده.اوستا ،لرغونې پرس، ميدي اوساکي چې دخپلوډليکونواوشواهدوپه وسيله پېژندل شوي دي ددې ژبو ترڅنګ کېدای شي دژبپوهنې دنړېوالي له مخې دلرغونې سغدي،لرغونې پارتي،لرغونې خوارزمي او لرغونې پاختري ژبوپه شتون باندې هم سرې باوري شي.داټولې معاصرې ژبې او ګړدودونه په اصل کې له يوې واحدې چې آرياني مورينه Proto-Aryni نومېږي منشه اخستې ده .دآرياني مورينې يا لرغونې آرياني ژبې هېڅ لاسوند(سند ) په لاس کې نشته. يوازې دهغې څخه پاتوشونوژبود پرتلنې له لارې،چې ليکلي اسناد لري په اټکلي يافرزي بڼه کېدای شي دهغې په اړه ځينې مواد تثبيت کړو.آرياني ژبې ترکيبي ژبې وې دنومونو، ستاينومونو، نومزرو اوغونډليز(نحوي) ونډه او رول يې په غونډله(جمله )کې د۷ يا ۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

حالتونو له لارې ترسره کېده؛ نو مونه له درې شمېرو: يو ګړی، دوه ګړي او ډېرګړي(مفرد، تثنيه او جمع) او له درې جنسونو: نارينه، ښځينه او نرښځوکی(مخنث) څخه برخمنې وې. د اضافت د توروشمېر او د نحوي ښو او نښوونډه هم ډېره لږه وه. د لرغونې، منځنۍ او معاصرې دورې ژبې په دوه څانګو: لويديځه او ختيځه وېشل کېږي، چې د لويديځې څانګې ژبې: منځنۍ پارسي(پهلوي ساساني)، پارتي(پهلوي اشکاني) د ترکيبي اکر(حالت) څخه تحليلي حالت ته اوښتې دي. په داسې حال کې چې ختيځې ژبې لکه سغدي، خوارزمي، باختري او آلاني د لرغونې ترکيبي ښه د بشپړاوي يعنې تکامل سره ساتلې ده.(۱: ۱۳۴مخ)

منځنۍ پارسي Middiam ژبه: دا پارسي د ساسانيانو رسمي ژبه وه او پارتي د اشکانيانو رسمي ژبه وه، منځنۍ پارسي د زړې پارسي پاتې شونې او د پارسي، دري کلاسيک پارسي يا نوې پارسي مورده. د منځنۍ پارسي ډېرليکونه په درېمه، څلورمه او پنځمه ميلادي پېړۍ کې د ساساني پاچاهانو او د دغې دورې د سياسي، مذهبي مشرانو له خوا ليکنې شوې او تراوسه شته، چې بيا د سامانيانو په وخت کې د پارس له پولو واوښته، شمال او شمال ختيځ ته خپره شوه او ورو ورو يې د نورو وړو آرياني ژبو او ګړ دودونو ځای ونيوه. په ۷ او ۸ پېړۍ کې د عربو د يرغلونو پر مهال د پارس، افغانستان ځينې شمالي برخې او مرکزي آسيا د پراخ قلمرو په ځينو برخو کې چې د خراسان په پراخو سيمو داخلې وې وېل کېده او (د عربو د سوبو او فتوحاتو په وخت کې لرغونې نوميزې يعنې اسمي ځانګړنې، اوښتنې، د جنسيت يعنې نارينه او ښځينه او ګرامري حالت يعنې فاعل او مفعول د نوم ګړو تصريف تقريباً بشپړ له لاسه ورکړ و و (۲۹: ۱۱مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# درییم څپرکی

## ۱۰- لرغوني دوره

### ۱۰-اوستاژبه (Awesta)

پـه آریـاني ژبـو او ادبیـاتوکې تـراوس مهالـه پـورې ترټولـومهم اولرغـونی اثراوستا ژبه ګڼل کېږي، چې د۷مخزېږدپېړۍ دزردشتي دین دمتونوټولګه پـه لاس راکوي،دعربـو مسـلمانانوپه لاس دآریانـا لـه سـوبې اویـا فتحـې وروسته دزردشت دین پلویان دهند سیمو تـه ولاړل اوتراوسه پـورې پـاتې خلک هلته ژوند کوي اولرغونی کیش یې ساتلی چې لږاوډېر مذهبي ټولنـه یې جوړه کړې ده چې پـه آریاناکې وروسته لـه دې یعنې داسلام لـه راتـګ څخه زردشتیانوته ګبر ویل کېدل، که څه هم چې دآریاناپـه ځینـو سـیموکې هم پـه لږشمېرزردشتیان اوسېدل دپـارس اوهند پـه شمال غربي برخوکې ؛دهندوستان پارسیانوداوستاکتابونوپاتې شونې چې آریایي نیکونوپـه لرغونوزمـانوکې لـه آریاناڅخـه راوړې وې دزردشـتي دیـن کتـاب لرغـوني کـــیش ســـره یوځـــای وســـاتلې پـــه آریـــایي قبـــایلوکې ســـندرې ،کیسې،داستانونه،حماسې اوافسانې په هغووختوکې چې یوځای پـه یـوه ټـاټوبي کـــې ســـره اوســـېدل شـــتون درلـــود اود قبیلـــوي لېږدېـــدنو اومهاجرتونوسره سم داسندرې اوکیسې پراخې او ډول ډول شوي دي.(۱۴: ۲۵-۲۶مخونه)

او ورو ورو پـــه تـــدریجي یـــې د هغـــه وخـــت دمـــذهبي موتونواوعبـــادتي لمانځنواو دعاوورنګ غوره کړی دی دبېلګې په توګه: (ویدا ) سندرې پـه هندي ټبرونوکې لومړی ولسي روایات اوبیا لیکلي له یوه نسـل بـل نسـل تـه لېږدېدلي اودهغه وخت مذهبي بڼه یې موندلې ده.همدارنګه داسې سندرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او روایات باختري قبایلو هم درلودل کوم چې په خپل اصلي استوګنځي یاهېوادباختركې پاتې او یايې دلو بدیځ لورته لېږدبدلي وه. ولې د۷او۲مخز بېږدپېړۍ دزردشت دهغه وخت دین رامنځته کېدو هغوي ته دپای ټکی کېښود او په ځای یې د(ګاته )نظمونه جوړ شول، چې خلکو به ده (آهورموزد )یا اورمزد نومي ددوي په وینا خدای لمانځنې ته رابلل اودلرغوني باخترڅخه دهغه وخت زردشت دین ورو ورو دلوېدیځ لورته خپرېده اوډېر وروسته یې (میدیا ) دمیدیانو واکمنۍ سیمې دمرکز په توګه وګرځېدلې او مذهبي مشري یې د(مادیا ) دمغانو قبیلې په غاړه شوه. دنوموړي دین دپراختیا اوپیاوړتیا سره سم ورو ورو دزردشتي دین کتاب یاقانون یې بشپړجوړ شواو په هغه وخت کې یې ددې قانون پربنسټ(ګاتي ) لوړ مقام او درناوي وړ وه.روایتاً له یونسل نه بل ته لېږدېدلی دی، چې ددې لېږد په بهیر کې څه ناڅه بدلون اوتغییرات رامنځته کېږي په ځانګړي ډول په همدې متونوکې چې خپله دهغه وخت دمذهب بسټ ایښودونکي (زردشت ) سره کوم تړاو اواړیکه نه لري.مګردغه بدلون او تغیرات دیوه ګړدود یاډیالیکت نمونه نه ګڼل کېږي، داځکه چې بل ګړدودته دنقل په صورت کې خپلې ځانګړنې نشي ساتلی، بلکې په لږیاډېره اندازه هغه دبل ګړدودځانګړتیاوې مني، په همدې توګه دلیکنو اوکتیبوژبه په تدریج سره دعاموخبرواتروا و افادې څخه لرې شوې او یوازې دهغه وخت دمذهبي چارودسرته رسولولپاره په کار وړل کېدله، څرنګه چې دمذهبي مسائیلو لپاره همدا یوه ژبه وه اودوختونو په تېرېدسره دوروستیووختودلیکوالو او مؤلفینو له خوا کوم چې نوي مذهبي متون اولیکنې شوې، هغه هم په همدې ژبه وه نو له دې امله دا ژبه دعامو خبرواترو ووتله او له دې ځایه دا ستونزه پیل شوه چې په دغه مړه ژبه ترنورو لومړی متونونه او لیکنې آثار تشخیص

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي.داوستا ليکلی اثراو متونونه کېدای شي لومړی ځل سل کاله دعيسی(ع) له زېږون د (ارشکانو ) په وخت کې دآرامي الفبا او ابېڅود بنسټ او اساس په يو ډول ليکل شوي وو ،چې په هغوي کې دخپلواکو(واول ) غږونولپاره توري نه وه اودناخپلواکو يعنې (کانسوننټونو ) غږونولپاره هم يو توری کولای شول، چې دډېروغږونو لپاره وکارول شي.په همدې بنسټ ليکلي متون هم زموږلاسته نه دي راغلي او ځينې پوهان خو داحقيقت ببخي نه مني.بې اختلافه راتلونکې قانونچه د(ساسانيانو ) په وخت کې د۴ پېړۍ په پای يا د۶پېړۍ په منځ کې جوړه شوې ده ،هغه په استثنايي توګه ناليکلي اويا دارشکانودمتن په وسيله دناليکلي دود داغېزې لاندې تردغه وختـه رارسېدلې ده.داوستايي ديني متونو لپاره دپهلوي الفبا پربنسټ ځانګړي توري په کار اچول شوي وه؛چې هرتوري خپل تلفظ په بشپړه توګه ادا کاوه ددغو متونوټولګه ،(اوستا ) نومېدله ،چې (بنسټ) او اساس معنا لري.په زړه پاړسي کې ورته (استاک ) کارېدله چې ژباړه اوتفسيرېې په پهلوي ژبه نومېږي چې معنا يې پوهنه ياعلم ده چې دپښتوژبې پې+ ژند=پېژندنه سره يې ريښه يوه ده له پورته ياد وخت وروسته داوستا دليکنې دويمه دوره پيل کېږي او په منځنۍ آسياکې داسلام دسپېڅلي دي دخپرېدو او عربي الفبا دمنځته راتلواوفرهنګي مسائيلوورو ورو کمزوي تجزيه او هېره شول.او يوازې دعبارت برخه پاتې شوه ، اوداوستايي متونونو ژبې اوکلتوري مسائيلولومړی حجم له ۴ برخې نه ډېرنه دی راپاتې (ارشاد اورنګزيب ۱۸۷مخ )څرنګه چې مخکې هم نغوته ورته وشوه کوم اوستا چې په لاس کې راپاتې دی په ۵ برخو وېشلی دی:يسنها ،ويسپرد ،وندیداد ،يشتهااوخورده اوستا له بل پلوه دژبنيو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرغونتو بونو او ځانګړنو له مخې اوستايي موتون په دوه ډلو وېشل شوي دي:۱ګاهاني ۲ مؤتخره اوستايي موتون(۲۰: ۳۶مخ)
ځينو پوهانو اوستا ژبه دزړې اصلي آرياني ژبې څخه دويدي ژبې سره يوځاى او غبرګه رامنځته شوې ګڼي او درامنځته کېدو ټاټوبى باخترى، چې باختري ژبې يې هم بولي،لومړنى اوستا چې دزردشت دوخت ژبه وه ؛او داوستا کتاب پرې کښل شوى وه ، ورو ورو له باختري څخه شاوخوا سيموته خپره شوه. اوددې زړې باختري اوستايي ژبې آثار نه دي راپاتې.(ګاته )چې داوستا يو ټوک دى دڅېړونکو په اند هغې زړې باختري او اوستاته تړدې دى(حبيبي-تاريخ،۱۹۲تر۱۹۳مخونه) اوستا ژبه دهغه وخت په روحاني مسائيلو او ددينې کتابونو پورې اړه درلوده او په وروستيو وختونو کې همدې پورته يادو مسائيلو پورې منحصره پاتې شوه .(۱۵: ۱۸۷مخ)

# ۱۰-۲داوستا کشف، څېړنې او پېژندنې لنډه تاريخچه:

دلرغونو يوناني،ارمني، سرياني او دعربو ليکوالو او پوهانو ليکنې داوستا ددينې او مذهبي کتابونو يادونه په لرغوني آريانا کې کوي همدا رنګه د(۱۰تر۱۱پېړۍ) دفردوسي په شاهنامه کې دآرياني ژبو او ټبرونو حماسي ،افسانې په نظمونو کې داوستا يادونه شوې ده.دپورته يادونو سره سم ،پوهانو داوستا دلومړنۍ خطي نسخې په اړه په ۱۷ او ۱۸ زېږديزه پېړۍ کې خبرتيا او معلومات ترلاسه کړل چې ديوځو ټوټويا خطي قطعو درلودونکې وه .څرنګه چې داليکنۍ ټوټې په يوه ناپېژندل شوې ژبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکل شوې وې دوېلو او کارونې وړ نه وې.ترڅو پورې چې د ۱۸ پېړۍ په نيمايي کې يو فرانسوي څېړونکی د انکتيل دوپرون Anguetil Duperron په نوم (۱۷۳۱-۱۸۰۵ ميلادي) هند ته سفر وکړاو د اوستا پېژندنې بنسټ يې کېښود ؛نوموړي وروسته له دې چې څو خطي پاڼو داوستا سره ،چې د اکسفورډ په آرشيف کې وې بلد او آشنا شو نو د هند په لوري يې په مسؤليت سره سفر پيل کړاو د اهيله او اتکل يې درلود چې داوستا د کتابونو رازونه به راسپړي.ده په هند کې شپه کاله تېر کړل(۱۷۵۵-۱۷۶۱ز ) او له ډېرو ناخوالو سره مخ شو دهغه وخت دزردشتي دين روحانيونو سره په اړيکه کې شو او دهغوي باوريې ترلاسه کړ.دلرغونو اوستايي موتونو په ويلو او مطالعه لاس پورې کړاو څو خطي نسخې يې په لاس راوړې په ۱۷۶۱ ز کال بېرته پاريس ته ستون شو او دراټول کړيو ليکنو نسخو په څېړنه يې لاس پورې کړ،چې وروسته دده دهڅو اوکوښښونو په پايله کې داوستا ژبې دژباړې لومړنۍ بڼه په يوه اروپايي ژبه (فرانسوي) منځته راغله او متونونه يې داوستا ترسرليک لاندې ،دزردشت... له تعليقاتو او حواشي سره خپاره شول.[٢]*

په دې توګه داوستا پېژندنې په برخه کې دالومړنی اثردی چې تراوسه پورې اوستا دآرياني ژبو او ادبياتو په اړه ترټولو لرغونی اومهم اثر ګڼل کېږي.ددوپرون دا څېړنه هم تردوه درې پېړيو او آن تراوسه دفيلالوژۍ پوهانو ،ژبپوهانو ،تاريخ پوهانو اوختيځ پوهانو دډېرې پاملرنې وړګرځېدلې اودلوړڅېړنيزارزښت څخه برخمن دی ؛ځکه چې ځينې برخې

---

Zend Avesta Ovraga De zoroastre…trad.en fruncais sur poriϴnal zend.*[٢]

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې داوستا لږترلږه دوه دوه نيم زره کاله مخکې دعيسی (ع) دزوکړې څخه زماني پورې اړه لري اودهغه وخت دآرياني ياآريايي وګړو او ټبرونو د ژوند هر اړخيزې خاوې لږ او ډېرې څرګندوي لکه: تاريخي، کلتوري مسائيل ،دودونه ،مذهبي عقايد ،باورونه اودپهلوانی حماسې اتلولی په خپلو ليکنوکې رانغاړي.که څه هم چې دا لومړنی اثردی او ارزښت ډېر لري خوځينې نيمګړتيا وې هم لري ځکه چې انکتيل دوپرون په فقه لغوي (فيلالوژيکي) پوه کې ځانګړې زده کړې اوتخصص نه لاره ،ځينې روايات پرته له دې چې ښه وڅېړل شي منلي وه ،چې دا مسله بيا د سانسکرېټ پېژندنې او داندو اروپايي ژبود تطبيقي ګرامرد تاريخ په څېړلوسره پای ته ورسېده او داوستا اصليت وپېژندل شو.(۲۲:۱۴مخ)

وروسته له ده په کال (۱۸۲۲ز) کې يو ډنمارکي ژبپوه د(راسموس کريستيان راسک )په نوم (۱۸۳۲-۱۸۸۷ز) چې يو له بنسټ ايښودونکو دتطبيقي ژبپوهنې اوتاريخ دی داوستا ژبې لرغونتوب اوله لرغونې هندي ژبې (سانسکرېټ) سره يې نږدې خپلوي ثابته کړه.چې داوستا او سانسکرېټ ژبو نږدې والی د(بورنوف) فرانسوي سانسکرېټ پېژندونکي (۱۸۰۱تر۱۸۵۲ز) پورې دپاملرنې اوکارونې وړوګرځېده او هغه دداړوژبودنږدې خپلوۍ په مرسته دمنظموپرتلنواو تطبيقولوله لارې وکولای شول دمتنونوډېری هغه ځايونه چې نه لوستل کېدل او يايې معنا اومفهوم نه ورکاوه کوم چې د(دوپرون)ژباړه وه اوڅوک نه پرې پوهېدل چې ښه يې ولولي ده وکولای شول چې پرې پوه او ښه يې ولولي او په کې يې سمونې هم وکړې.ددغو اونوروژباړواواقتباسونوچې د سانسکرېټ ژبې نه E.Burnouf بورنوف ګټه واخستله په دې بريالی شوچې په اوستا پوهه ترلاسه او په ۱۸۳۳ ز.کال د(يسنه ) تفسيرلومړی ټوک خپور کړي.ددې ټوک

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه خپرولو سـره يـې داوسـتا ژبـې دګرامر(ژبښـودنې) اصـلي قواعـداو ځانګړنې وړاندې کړلې.داوستا کشف،ژباړه،تعبير او تفسيريې چې په ډېره زيرکـۍ او دقيقـه کـړنلاره يـې (بورنوف)لـه خـوا وړانـدې شـوه.*۳ دآ.ميه(Ā.Meillet) پـه آند «دسليم عقل ځواکمني اويا نبوغ پـه هغـه کې ځرګنـد ېږي» چـې ددې کارانـدوآرياني ډلـې او انـدو اروپـايي کـورنۍ دژبپوهنې په بشپړاوي او پرمختګ کې يې ډېره اړينه اومهمه ونډه او رول ولوباوه.پـه همـدې توګـه کلـه چـې پـه (۱۸۳۳ز) کـال دF.bopp ف. بـوف (۱۷۹۱تـر۱۸۶۷ز) تطبيقـي ژبښـودنه(ګرامـر) خپـور اوچـاپ شـو؛ژبپوهانو ورسره سم اوستا ژبه دسانسکرېټ،لرغوني يوناني،لاتيني او نورو لرغونو ژبو سره پرتله اوتطبيق کړه په څېړنه اومطالعه يې بوخت شول.همداراز پـه ۱۹ پېـړۍ کـې دوه څېړنيـز مکتوبونـه داوسـتا څېړنـې اومطـالعې لپـاره رامنځتـه شـول،چې يـو يـې داوسـتا دتعبيـر اوسـپړلوپه برخـه کې ډېـرې دمنځنۍ پاړسي ژبې اوادبياتوپه رواياتوتکيـه کولـه؛ اوبـل مکتـب،چې ډېرې لـه ژبپوهانورامنځتـه شوی وه دپاړسي ژبې اوادبياتواو پارسيانو درواياتو اهميـت اوصـحت سـموالی رد کړاوداوسـتايي ژبـې دمـتن دلوسـتلواوتقريرپه برخـه کـې دسناسـکرېټ سـره پـه پرتلنـه متکـي وه .د ۱۹پېـړۍ پـه دويمـه نيمـايي کـې، يولړکوښښـونه داوسـتا دهغوژبـاړل شـويوآثارواو کـره کتنـې لانـدې شـويوموتونو چـې زمـوږ دوخـت خلکوتـه رارسـېدلي وه دخپـراوي لپـاره پيـل شـوو.داخبره ددې لپـاره چـې د اوستادتدوين اواستنساخ(له منځه تلو)اوږدتاريخ اولړۍ لري دبېلابېلو

*۳. E.Burnauf.cmmentaire surle yacna.T.۱.paris.-۱۸۳۳-۱۸۳۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېړیو په اوږدو کې دا لړۍ ترسره شوې .همدارنګه هغه پېښې او سرنوشت چې آریانا د اسلام سپېڅلي دین دراتګ سره د اوستا نسخ ورسره لاس او ګریوان شو ډېرې اوږدې ستونزې لري.څرنګه چې اوستاډېرو پخوانیو زمانو ،وختونو او پیړیو کې په ناليکلې توګه حافظه په حافظه او نسل په نسل لېږدېده نو تبعاً به په ډېرشمېربدلونونه او له منځه تلنې په کې راغلې وي او یو ډېرشمېربدلونونه آن تردې کېدای شي چې په ډېره پیمانه ،روایات،انګېرنې،باورونه ،دودونه او کلتوري عقیدوي خرافاتي مسائیل به دتدوین اولیکلو تروختـه په کې رامنځته شوې وي.همدارنګه ځینې څیزونه چې دآریایانو له خوا په هغه وخت کې نوي رامنځته شوي او په کې ور ضمیمه شوي وي:بله مسله دا چې څه وخت ،څنګه او په کوم وخت ، کوم ځای،څه شرایطو کې د اوستا متن لیکلوته هڅه او اقدام وشو ،په آریانا او آریاني پېژندنه کې یوه پېچلې او کړکېچنه موضوع ده .دآریانا دلرغوني ختیځ او منځنۍ آسیا تاریخپوهان او دلرغونپوهانو کتابونو ، ادبیاتو ،دژبوڅېړونکو او دیني تاریخپوهانو ددې موضوع دروښانتیاله پاره خپله پاملرنه راواړوله او دځینې نیمګړتیاوو ، ناسمو ، ناقضو څیزونو او چارو په اړه په بېلا بېلو برخو کې هراړخیز اندونه وړاندې کړل.چې اوس دټولو ،آریاني او لرغونو ژبو د پېژندونکو له پاره یې ځینې نظرونه د منلو وړنه دي او دزردشتیانو د روایاتو پربنسټ د اوستا د متن ځینې برخې دهخامنشیانو په وخت کې شتون درلود او دغوایي په څرمنو لیکل شوې وې .هغه هم په زرین لیک و ښلی او په لوړو ودانیو کې ورڅخه ساتنه کېده .د اسې ویل کېږي چې دانسخې د سکندر مقدوني د یرغلونو په وخت کې له منځه ولاړې.اوبیا دلومړي ولاش یا بلاش(ولګز )په وخت کې د پارت پاچا(۵۱تر۷۸ ق.م ) څرنګه چې له روایاتو ښکاري د اوستا د متن د تحریري

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکنې بیا رغونې هڅې پیل شوې او دګنج شپز(اورمیه) اورخونې (آتشګدې) ته وسپارل شو.کیدا ی شي چې دا روایات دتاریخ له پلوه سم وي.دا سې ویل کېږي چې کولای شو لومړنۍ اوستا چې په آرامي آبېڅو(لفبا) چې خپلواک یا مصوت توري یې نه درلودل لیکل شوې وي،نو موړې الفبا لږ ترلږه دمیلادي تاریخ دلومړنیو وختونو په شاوخواکې په آریانا او منځنۍ آسیاکې دود شوه اودآریاني ژبو په لیکنه کې ترینه کار اخستل کېده .ډېر لاسوندونه او شواهد داسې ښکاره کوي چې احتمالاً په همدې وخت کې داسې دودونه اوروسوم دیوناني کلتورپه مقابل کې راژوندي شول.چې ترټولو مهمې بېلګې یې داوستایي ژبې دبیا رغونې اوتحکیم له پاره دادي ،چې دهغه وخت دولس او محلي دودونو ، خرافاتو ، دودونو ، روسومواو کلتوري مسائیلو راټولونه همدرانګه دولسي کیسو او ډول ډول ټوټکو ، پالونو ،افسانو ،لیکنې هماغه کوښښونه دي چې داوستا دلرغونو دودونو مذهبي مسائیلود ساتلو لپاره وشول او وروسته بیا داوستا احکامو اومطالبوته ورننوتل.دلرغونو ساسانیانو په وخت کې کله چې آریایانو سره یې ګډژوند درلوده داوستا دبېلابېلو موتونودراټولوامر یې ورکړلو ،ترڅو دهغه وخت زردشتي دین پایښت اوپیاوړتیا پاتې شي او یوشمېرمذهبي بهیرونه ورسره یوځای ترڅو دهغه وخت دروحانیونواو زردشتي مشرانواو واکمنودګټو ځواب ویونکي وي.داسې وېل کېږي چې دهغه وخت زردشتي دین محریرینو (لیکوالو) ،روحانیونو ،داوستادمدون متن څخه هغه څه چې ددوي په اند اصیل ،لرغوني او ددوي له ګټو اوغوښتنو سره سم نه وه ترې لرې کړل.او هغه څه چې ددوي او(کش) له غوښتنو سره سم او ګټې یې تضمین کولې پرې ورډېر کړل. اودښه رسم دیني تلفظ دتثبیت په موخه یې دهغه کتاب له پاره ځانګړې اوستایي الفبا

(c) ketabton.com: The Digital Library

تدوین کړه او څو خپلواک اوناخپلواک غړونه او توري (مصوت، مصمت) پرې ورډېر کړل.باید یادونه وشي چې داوستا تدوینول دمذهبي روحانیونو له خوا ددې سبب شول چې زوړ متن له ډېروتحریفاتواو لاسوهنو سره مخامخ شي او داصلي متن دټاکلوبیارامنځته کولوپروسه یې له ستونزوسره مخامخ کړه ،ځکه چې هغه لومړنۍ ژبه داوستا ددوي یعنې روحانیونوله پاره مړه او دنه پوهېدنې وړښکاربده. په دې توګه یې داوستا لرغونې ژبه ددیني او مذهبي اړتیاوواومراسمو له پاره ساتل شوې وه .دهغه وخت په منځنۍ پاړ سي وژباړله او داوستا تفسیر او نورنسبي کتابونه چې اوستا پورې یې تړاو درلود په همدې ژبه رامنځته شول.په ښکاره خوداسې ویل کېږي چې داوستا وروستی متن دهغه وخت دديني موازینوسره برابروه په څلورمه زېدیز پیړۍ کې ددوهم شاپور (۳۱۰تر۳۷۹میلادي) په وخت کې تدوین شوی دی او ژباړه یې منځنۍ پاړسي لیکل شوې ده تفسیر یې په شپږمه پېړۍ کې دلومړي خسرو د واکمنۍ په موده کې (۵۳۱تر۵۷۹ ز) ترسره شوه.(۱۴- ۲۸تر۷۲مخونو) څرنګه چې مخکې څېړنو کې ورته په تفصیل سره نغوته وشوه داوستا پېژندنې په برخه کې دوه مکتبونه رامنځته شول.

۱-یوسنتي مکتب(فردریشن شپېګلFriedrich Spiegelف.یوستی) چې دمنځنۍ پاړسي ژبې په لیکنواو زرتشتي ادبیاتومتکي وو.

۲- پرتلیزمکتب– تاریخي (ر.روث اونور)چې دکاربنا او بنسټ یې دتطبیقي ژبپوهنې پرښونواو اطلاعاتوولاړ وه او دژړوهندي موتونو په نشرشواهدوسره ترڅېړنې لاندې نیول.د ۱۹ پېړۍ په وروستیو کې دپورته یادودوه مکتبونوله کړنلارو څخه یو هدفمند ترکیب رامنځته شو،چې په دې برخه کې دکارفرېدریشن ګلدنرKarlpriedrich Geldnerنوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیــادولووړ او اړیــن دی، کــوم چــې دده انتقــادي او ســتایي مــتن (۱۸۸۲تــر**۱۸۹۹۵**ز) تراوســه بــې جــوګې دی.همــداراز جیمــز ډارمســتېټر (James Darmesteter) هــم داوســتا بشــپړه ژبــاړه او پــه زړه پــورې توضــیحات ســره برابــراو وړانــدې کــړل(۱۸۹۲-۱۸۹۳ز) همدارنګــه پــه دې برخــه کــې بایــد لــه ه-هوپشــمان او و.جکســون نــوم واخســتل شــي، رک. بارتولومه، چې د برمهم اثرېې له هغو عبارت دی (دآریاني ژبې له تاریخ مخکې دوره )(دلرغــونې پاړسي او اوســتاژبې) او د(لرغــونې آریــاني قــاموس) پــه اوســتا پېژندنــه کــې نــوی دوران رامنځتــه کــړاو اوس هــم د پــوهنې اواطلاعاتودارزښت او اهمیت وړ اوډکه کنجینه شمېرل کېږي پــه شلمه پېړۍ کې هم اوستا پېژندنه یا پوهنه په ډېری هېوادونوکې پرمخ ولاړه هغه پوهان ،چې داوستا په بېلابېلو اړخونو اومسائیلو ،پلټنه اوڅېړنه کړې ده عبارت دي له: هانس رایشلت(Hansrilchelt) ،پوهان هنرېش هوپشمان (Gohann Heinrich Habschmann) ،هـ یونکر، ی هرتـل وهلومـت هومباخ Helmut humbach لـه المـان: ا.بنونیست،ژ.وومزی وی.دوشن ګــیلمن لــه فرانسې:و.هنینګ، هــ بیلــي وچ.ګرشــوبچ. لــه انګلســتان :ای.کوربلوبچ له لهستان:ګ.مورګنسترن،آ.کریستنس،ک.بارو هـ نېبرک.له اسکاندنیاوي: آنکلساریا او نورپاړسي څېړونکي په هند

(تاوادیا هم چې په المـاني کې دڅېړنې کسب اوشغل درلودلـه همدې ډلې راپورتــه شــوی دی) ،م. اســمېټ.له متحــده ایــالاتو: اوآ.آ.فریمان،آبــایف وا.آ.بــرتلس لــه اتحــاد شــوروي. البتــه دا لــړۍ چــې پورتــه یــاده شــوه یوڅــه نیمګړتیا وې لـري پـه ځانګړې توګـه داچې ټول هغـه څېړونکي چې داندو اروپایي کورنۍ دژبو په تاریخ پرتلیز ګرامـر اوځـانګړې توګـه دآریـاني ژبـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره سروکار لري اوستا په بېلابېلو سطحوکې په څېړنواومطالعه هم بوخت وه.(۱۳:۱۰۰تر۱۰۱مخونو)

## ۱۰-۳داوستا ابېڅي یا الفبا:

دتاریخي څېړنواوپلټنو څخه داسې ښکاري چې دا لیک په غالب ګمان سره د ساسانیانودواکمنۍ ددورې په وروستیوکې رامنځته شوی وي.او دیوې ژبې دغږونو دسمو تلفظي بڼود تثبیت له پاره په نړیوا له کچه یومناسب اودقیق لیک ګڼل شوی دی.دالیک دپهلوي آرامي پربنسټ وضع شوی اودښې خوا څخه کیڼ لورته لیکل کېده.(۱۲:۳۶ مخ)
(اوددبیرې دین ) یعنې دینې لیک ورته وېل کېده ،دالیک ۴۸ توري(غږیزې نښې ) لري،چې له دې ډلې څخه ۱۴ نښې خپلواک غږونه (واول ) او څلوردیرش نښې دناخپلواکو اونیم واکو غږونو (کانسوننټ، سیمي واول ) دي.داتوري له حلقي توروڅخه پیل شوي او په شونډیزوتوروپای ته رسېږي په دې معنا چې که څه هم توري دسم تلفظي روش،دحلق،خولې ،ژبې،غاښونواوشونډو له مخې ادا کېږي اصلي داوستا ژبې دغږونودادا اوتلفظ څخه زموږ پوهاوی تولیز،کلي او اجمالي دی؛ځکه چې بوازې دهندي پارسي دموبدانو پرتلفظ دی.په همدې بنسټ دتلفظ کړنلاره او شېوه یې دهغوي دمورنۍ ژبې چې کله ګجراتي اوکله هم سندي یا آریاني ګڼدودونه او لهجې دي په هغه تلفظ کې بې اغیزې نه دي(تاریخ زبان فارسي-خانلري) په ښکاره توګه تکیه په لرغوني آریاني دموسیقۍ په ډول تکیه ده او دا تکیه په استایي کې کله کله (ګاهاني) په ځای پاتې شوې ده ،ولې په نوې اوستايي اولرغونې پارسي کې دشدت تکیه دهغوي ځای نیولی ده.(۱۲: ۷۹مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا رنګه د اوستا ډېره لرغوني نسخه (K-V) په نوم یادېږي چې د کوپنهاګن پوهنتون په کتابتون کې شتون لري او په ۱۳۲۸ میلادي کال کې لیکل شوې ده. a āəə e ē o ōãą I ī u ū k g γ x č Ĵ t
d δ ө ț p b w f ŋ ń n m y v r s z š ž h ĥ x
دلته د بارتلمه په اند (نظر) د ( و ) توري ته ( v – y ) ټاکلي (انتخاب)
او هوفمان ( ii و uu ) ټاکلي دي.

د اوستا د خپلواکو غږونو جدول (چوکاټ):

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لنډ | a | i | u | ə | e | O | |
| لوړ | ā | ī | ū | ə̈ | ē | Ō | ą̌ |
| غبرګغږ | ao | āi | āu | ə̈u | aē | Ōi | |

د اوستا او زړې پارسي بېواکه غږونه:

| | شونډیز Labial | غاښیز dental | تالویز Palatal | ملازي Velar | ستونیز Glotta |
|---|---|---|---|---|---|
| انسدادي Plosive | p b | t d | | k g | |
| مرکب Affricate | | | č ĵ | | |
| موښلي Tricative | f (β) | sθ (zδ) | šž | x γ | H |
| روان Liquid | | lr | | | |
| خیشومي nasal | m | n | | (ŋ) | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۰-۴ د اوستايي ليک تاريخچه:

ځرنګه چې مخکې موهم يادونه وکړه د اوستايي ژبې ۴۸ توري راپاتې دي ، ولې شمېريې له دې څخه ډېر وه . په دې اړه مسعودي په خپل کتاب (التنبيه والاشراف ) کې چې د ۳۴۵ لمريز کال تاليف دی ، د هغو تورو شمېر چې اوستا پرې ليکل شوې او هغه ليک چې زردشت منځ ته راوړی دی ۲۰ توري ښوولي. همداراز ابن النديم په الفهرست کتاب چې په ۳۷۷ لمريز کې ليکل شوی(د عبدالله بن مقفع په ۱۴۲ لمريز کال وفات ) په نقل ليکي: پارسيانو لره ۷ ډوله کتابونه دي چې موخه يې آريايان دي يو له هغو څخه الفباوه چې ديني کتابونه په هغه ليکل او هغه يې د(دبيره دين نوماوه ) او په هغه به يې اوستا ليکله بل ليک هم لري، چې هغه ته به يې (دبيره ويش ) ويلو او ۳۶۵ توري لري او په هغه فراست (قواروي ياقيافوي آثار )او زجر(برزالي او په ډول يې ) داوبو شره هار ، دغوړونګهار ، دسترګو اشارې او دهمدې په شان به يې پرې ليکل. دعيسی (ع) د پيدا ينښت څخه په سلګونو کاله دمخه په آريانا او هند کې تجويد دود وو. په دې معنا چې سندرې ، سرودونه او دعايې به يې په زمزمو ، وزن او آهنګ ويلې. ډېر دقت په سم ويلو او آهنګ له وتونزو څخه د تورو سم تلفظ ، ډېر ارزښت درلوده او ددې ادعا اغېزه چې دخدای په درکې د منلو وړ ګرځي په سم ويلو او ښه تلفظ پورې تړلې وې، چې دا په خپله په هغه وخت کې يوه پوهه او علم وو. چې په هغه کې په دې سمو ويلو ، په آهنګ سره او دوتونزويا مخارجو څخه د تورو او غږونو د سم تلفظ څخه بحث پرې کېده ، چې دا پوهه دمنځنيو پېړيو څخه راپد ېخوا د تجويد په نوم ياده او يادېږي. د اوستا له تدوينېدو او کتاب په څېر جوړېدو څخه وروسته ، دمذهبي موتونو دلوستنې او قرات په موخه ځانګړي توري يانښې دظبط او زمزمولو پاره شتون درلود. په همدې توګه د اوستا او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويدا ګانو دسم لوستنې دزده کړې لـه پـاره دقيـق او پـه ترتيـب تګـلارې او روشـونه دآهنګونو ،غږيزوو تونځو ،قطـع وصـل پـه ځنډ او پيوست ويلـو پـه لوړيا غلي غږ ويلو اوداسې نورومسائيلوله پاره درلـودل. تجويـد چـې اوس عربي اصطلاح پېژندل کېږي په لغت کې دښه کولو په معنا ده او په اصطلاح کې ادا کول دهرتوري له ځانګړي غږيز و تونځي دهغه توري لـه پـاره دی، پـه داسې بڼـه چـې وپېژنـدل شي ديـوډول تورولـه منځ څخـه. دتجويـد کلمـه پـه عربي کې د(جـاد ) لـه ريښـې څخـه دی او داکلمـه پـه هېڅ بڼـه اوصـيغه پـه ادبياتو کې نه ده کارېدلې ،لغوي معنايې داصطلاحي سره هېڅ ډول اړيکـه نه لري.دجاد کلمه په واقيعت کې معـرب (ګاثا GāΘāwɕwɕ )اوسـتايي ده چې دسرود يـا سندرې پـه آهنـګ سره ويلو معنـا لري(دآريـاني ګ بدلون پـه عربـي ج ســره دډېـری عربــي تــاريخ پوهانو پــه آثــارو کې ليــدل شــوی دی. وېليامزجکســون jackson A.V.W ،ويلهلـم ګـايګر W.Geiger اوکرستيان برتلومه Chr.Bartholomaeدتورو تلفظي پـه لـړ تـوپير د نظـر سـره پـه لانـدې توګـه وېشـلي دي تهجـي تـوري لـه درې وتونځـو راوزي:۱– حلق۲- خوله۳- شونډې، غابنونه او خيشوم.چې هريو لـه دې ۳ څخـه هـم څو وتونزې لري:حلق ۳ وتـونځي لري، خولـه ۱۰ وتـونځي لري، شنډې او غابنـونه هم څو وتونځي لري.(۱۳:۹۸مخ)

## ۱۰-۵داوستا تدوين

دمخکېنيو څېړنو پربنسټ داوستا ليک داوستا پـه سرنوشت او سرګذشت پـوري تړلـې مسـئله ده. د(اومونـد بردوزيکلي ) دڅېړنـې پربنسـټ لـومړنی انځوريزيا تصويري ليک په لويه آرياناکې دود وه ،چې اوستا پـرې ليکـل شوې وه اودمقدوني سکندر ديرغلونو په ترڅ کې اوستا يي متنونـه ګډوډ

(c) ketabton.com: The Digital Library

او خواره واره شول، چې وروسته بيا ځوآريايي پاچاهانو په بېلابېلو دوروکې هڅې وکړې چې دا متون راټول او بيا يې له سره تدوين کړي.د اسلامي لومړيو پېړيو دليکوالو په ليکنوکې په عربي اوپارسي ژبوځو ځوواري داخبري راغلي دي، چې سکندر دزردشت کتاب (اوستا ) چې دغويانو په ۱۲۰۰ ځرمنو ليکل شوی وو ،وسوځاوه اوله دري برخو څخه يې يوه برخه په ساتنځايونوکې پاتې شوه دا خبرې او معلومات دثعالبي، مسعودي، ابن مسکويه، طبري او ابن بلخي په روايا توکې يوشان راغلي دي.داوستا دليکلو هڅې دا شکاني دپيدا ښت په دوره اودساسانيدورې په پيل کې ،مخکې له دې چې په اوسني ليک وليکل شي رواني اوموجودې وې.له دې څخه داسې ښکاري چې کېدای شي اوستا دېروختونه سينه په سينه حفظ او ساتل شوې وي اوله پخوانيو موتونو اوځېړنو څخه داسې ښکاري چې داشکاني دورې دلومړي بالاش په زمانه کې او يا دساسانيانو په وختونو کې هڅې شوې وي چې دهغه مهال په دوديز ليک په هغې الفبا چې اوستا ژبه پرې وليکل شوه ،له آرامي ليکدود څخه اقتباس شوې ده او پهلوي ليک له آرامي څخه اقتباس شوی دی اودهغه له مخې يې يونوی ليک اختراع کړاو اوستا يې پرې وليکله .کيدای شي اوستا په ۴ ز ېږديز پېړۍ کې ليکل شوې وي او وروستی تدوين يې په ۱۲ ميلادي پېړۍ کې شوی وي.ولې داسې ويل کېږي، چې ناليکلی دوديعنې په يادوزده کول يې د(موبدانو ) له خو ترپايه ساتل شوی وو.داوستا ليکلې نسخې ډېرې دي او هغه اوستا چې اوس راپاتې ده دډېروپخوا ادبياتو پاتې شونې ده ، څه ناڅه نيمګړې او آن چې په يوه لاس ليکل شوې ده .داسې اوستا چې ټول موتون په کې وي په لاس کې نشته او دا شته اوستا له بېلابېلو موتونو څخه راټوله شوې ده چې داوستا متن

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپاتې شوي لوی ادب راټولې شوې برخې دي، چې زردشت دهغې بنسټ ایښودونکی او منځته راوړنکی وو.له همدې امله داوستا د پیدا ایښت ځای اومهال ټاکنه ،دزردشت دتاریخ دراخرګند بدواودآریانی ټبرونوله دینې باورونواو تصوراتوسره نږدې اړیکې لري.دزردشت دژوندانه دمهال اوځای په اړه دنظریاتوبېلابېلوالی شتون لري،ځینې پوهان په دې باوردي چې زردشت دژوند وختونه دمقدوني سکندرد یرغل څخه ۳۵۸ کاله وړاندې وه ،یعنې د۷مخزېږدپېړۍ وروستۍ برخې یا د۶ میلادي پېړۍ لومړي وختونه ګڼي.ولې ځینې نوربیا دګاټونودزوړ ګړدوداو لهجې ځانګړتیاووته اودویداییي سانسکرېټ سره دهغې نږدې والي ته په کتودزردشت دژوند وختونه ددویمې مخزېږد زریزې وروستي وختونه یا دلومړۍ مخزېږدزریزې لومړني وختونه ګڼي .دیادونې وړده چې دګاټونولهجه دځینو اړخونوله امله آن دویداییي سانسکرېټ څخه زړه ښکاري.هغه دودیزنظرچې دزردشت استوګنځی یې آذربایجان باله نور دمنلووړ نه دی.په ځواکمن احتمال سره دزردشت ټاټوبی دلویې آریانا دختیځوسیمو څخه ګڼل شوی.تراوسه دبلخ ،سغداوخوارزم سیمې په لاندې دلایلوسره دزردشت دلومړنیو کړنو او فعالیتونوسیمې ګڼل شوې دي: دزردشتیزم پالنې زانګواو داوستادتدوین ځای دلویې آریانا ختیځې سیمې ګڼل شوې دي چې وروسته بیا له هغه ځایه ټولې مرکزي آسیاته زردشتیزم خپورشوی دی.

۱- داوستا جغرافیایي مطالب دآریانا ختیځې سیمې راپېژني.

۲- داوستا دحماسي مضامینواړیکې دختیځ له حماسي روایاتوسره یوشان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳-د پارسیانو روایات د زرتشت ظهور له باختر(بلخ) او د زرتشتیانو سپېڅلي ځایونه د آریانا ختیځې سیمې ګڼي.
۴- ژبپوهان د هغو کلمو په راټولو سره چې په یوناني زړو متنونو کې د باکتریایي(لرغونی بلخ) ترسرلیک لاندې راغلي او هم د هغو کلمو او نومونو په شنني سره چې په ارامي او یوناني کتیبو او اسنادو کې د باکتریا څخه ترلاسه شوي، دې نتیجې ته رسېدلي دي چې د دې موادو ژبه د اوستایي ژبې سره توپیر نه لري او په دواړو اوستایي ګړدودونو کې کېدای شي د دغو لفظي موادو شواهد وموموو. د یادونې وړ ده، د اوستایي ژبې لومړنی ګرامر، چې د ویلیمز جکسن په ۱۸۲۷ز کال خپور کړ د باختري ژبې د ګرامرنوم یې درلود.
۵- د بلخ وروستي پاچا ګشتاسپ، چې له کیاني کورنۍ څخه وه، پر آریانیم وېجو واکمن و، زرتشت د ده په وخت کې راڅرګند شو او ده ته یې خپل دین وړاندې کړ.

## ۱۰-۲ د اوستا منځپانګه

د منځپانګې له مخې اوستا په درې برخو وېشل کېږي:
۱- ګاهانیک Gaδānlg/Gahāīg په ګاټونو او د هغې په تفسیرونو باندې لیکنې لري او عرفاني، معنوي مسائیل رانغاړي.
۲- هادیک مانسریک Hadig Mansarīg د عاګانې او ذکرونه په کې لیکل شوې دي، چې په دیني او مذهبي مراسمو کې به ویل او لوستل کېده.
۳-داریک Dātig/Dādig فقهي متون دي، هغه څه چې د اوستا په نوم تدوین شوي دي د لیک او ژبنۍ لیکنې له مخې یوشان نه دي، ژبپوهانو هغه په دو برخو وېشلي دي، چې یوه یې زړه اوستا یا ګاټونه؛ او بله یې معاصره

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوستا ده .ګاتونهG.Ă.Θ.Ă د سندرو او سرود په معنا دی او ویونکی یې په خپله زرتشت دی د شېرژبه ددې سبب شوې چې ددې سرودونو د مفاهیمو او معنا سم درک یې ستونزمن کړی دی.ګاتونه د آریانا ډېر لرادبي آثار دي، چې د ریګ وید اسره په یو وخت او همهاله ګډ شوې دي، ویلم جکسن لیکي:«د بوې قاعدې په توګه اوستا په خپل ذات کې ډېره زړه ده ؛او په عمومي توګه په هماغه کچه د سانسکریت وېدونه او کله کله ،نه همېشه حتآ له هغې څخه ډېر زاړه معلومېږي»اوستا څو ټوټه ییزاثر دی او د هغې برخې دځای، وخت او پېدا اېښت له مخې یو شان نه دي.د اوستا ډېرې لرغونې برخې یعنې ګاټونه دمخزېږد دویمې زریزې په لومړنۍ نیمايي کې د آریایانو په ټاټوبي کې منځته راغلي دي،ګاټونه ډېرلرغوني سبک لري ،ګرامر یې د معاصرې یا متأخېرې اوستا په پرتله سم دي.ځېنې اوستایي ګرامري قوانین په کې په بشپړه توګه مراعات شوي دي، د کلمو وروستي خپلواک غږونه(واولونه) یې ډېرراښکودي،د کانسوننټ غږونه یې لکه D او G د معاصرې اوستا برعکس د کلمو په منځ کې بدلون نه دی موندلی.(۱:۷۲۳مخ)

## ۱۰-۷ اوستا ګاټونه

Dādig-ده Baga-baɤa بغ، Raga-Raɤa رغا-په بدخشان کې یوه سیمه ده dātig فقهي قانون، Ada-ata وروسته –بیا.ګاتونه اوولس سرودونه لري ،چې په یسنونو کې دي او پرېنځو برخو وېشل شوي دي:اهنوګات Ahynauuaiti gāΘā د سرداری او باداری په معنا. ،اشتودګات uštauuaiti gāΘā د سلامتي او عافیت په معنا. ، سپنتمدګاټ Spantāmainiti gāΘā د عقل ډېرونکي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

معنا. ،وهو خشترګاټ Vahuxšaϴra gāϴā دنېکـې واکمنـۍ اولاسبرې په معنا. ،وهیشتوایشت ګات Vahištošt gāϴā دښې غوښتنې اونېکې شتمنۍ په معنا.

## ۱۰-۸معاصره اوستا

دا اوسـتا دزرتشـتیانودنني دیـن کتـاب لـه شـپږ برخو څخـه پنځـه برخـې جــوړوي.(۱۹: ۱۸۱مـخ) پــه دې برخــه کـــې دوروستیوعقایدوســره مخــامخ کېږو ،دمعاصـرې اوسـتادتألیف اوتـدوین پـه اړه پریکنـده نظرنـه شـو څرګنـدولی اواحتمــال لــري چــې ډېرلرغــوني یـــې هپتنګهــایتي Haptanghaiti داووڅپرکویســـنونه دي ،چـــې پـــه ۳۵-۴۱ یســـنونوکې راغونډ اومطالـب یـې پـه نثردي،ترګاټونووروسـته داوسـتا ډېره لرغـونې برخه ده.

۱۰-۸-۱یسنونه: دلمانځنې اودعا په معنادي،چې دوه اویاڅپرکي لري،لـه دې ډلې څخه یې اوولس څپرکي دګاټونودي اوپاتې نوراتـه دېرش څپرکـي یـې یسـنونه دي.دوه روحـانیون،چې زوتZut او راسـپي Raspi نومېـدل ددینـي یسـني مراسـمو پـه ورځ دهـومHoma دګیـا شـیره زبېښـې او لـه دم کړوشیدوسره یې خوري او ګډوي یې.

۱۰-۸-۲یشتونه: یشتونه له لغوي پلوه دیس له کلمې سره هم ریښـه دي اوټکـي پـه ټکـي معنـایې لمانځنـه او دعاده.پـه دې سـرودونوکې خـدایان ســـتایل شـــوي اوزړو خـــدایانو لکـــه:Miϴraمهر،ناهیـــد Anahita تشترTištraاونوروته ځانګړي شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۰-۸-۳ ویسپرد:** د سرودونو په معناده ،مطالب یې د یسن سره ورته والی لري؛ کېدای شي د یسنونو له متونو څخه اقتباس شوی وي، چې د نوروز په دودونو او مراسمو (شپږوني فصلي جشنونه) کې به ویل کېده.وسپرد ۲۴ ځپرکي لري.

**۱۰-۸-۴ وندیداد:** وندیوداد -اوستا Vi-daēva-dēta د (دیو قانون ماتوونکي په معنا یا دهغه چاچې قانون یې له دېوانو ګوښې او بېل دي یا د دېو د قانون ضد معنا ده . ) د دوي په اصطلاح دېوان خدایان دي او آریاني وو.چې په مزد یسنایي دین کې شړل شوي او رټل شوي دي. وېندوداد په لمانځه ، پاکوالي ودیني آدابو او ګناهونو پورې د اړوندو آدابو او قوانینو ټولګه ده ، مطلب یې د پوښتنو او ځوابونو په بڼه راوړل شوی دی،پوښتنې دزردشت له خولې اهورامزداته خطاب دي او اهورامزدا په هره برخه کې پوښتنو ته ځوابونه وایي دوا ستا ددې برخې د تألیف نسبت له زرتشت څخه راوروسته دورو ته کېږي،مګر مطالب یې له دې زماني څخه ډېرلرغوني او ځینو ځایونو کې آن له زردشت څخه ترمخه دورو پورې تړاو لري،دوندیداد د متن د ګرامر له پلوه تحریف شوی دی،دنورو متونو لکه: د یسنونو او یشتونو په پرتله اوستایي ګرامري قواعد په کې په سمه توګه نه دي مراعات شوي وندیوداد ۲۲ فرګرده (ځپرکي )لري لومړی فصل یې ۱۲ تېو تېو ځمکو او دویم ځپرکی یې درجم د داستان په اړه دی،له دریم فصل څخه تر ۱۹ ځپرکي پورې دزردشتي دیني قوانین راغلي او وروستي درې ځپرکي دهغه مهال له طبابت څخه بحث کوي.(۲۷:۲۰-۲۰۱مخونه)

## ۱۰-۹ کوچنۍ اوستا

په دې اوستاکې لنډې دعاګاني دي چې عادي خلکو به په خپلو موقیعتونو پورې اړوندو دونوکې لوستلې،اوتدوین یې احتمالاً په څلورمه میلادي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېړۍ کې ددويم ساساني شاپور په وختونو کې شوی دی.داوستا اوخرده اوستامتون غالباً دپازند له متونو سره يوځای وي مطلب يې په ټولو خطي نسخو کې سره يوډول نه ده .دخرده اوستا مطلب داشم آوهو يسااهو وال ييرو ،ينګه ها تام په دعاګانو سره يې چې دزرتشتيانو اصلي دعاګانې دي پيل کېږي.مهمې برخې يې دنيرنګې کستي ، سورش باژ،دهريشام دعا ،پنځه ځای اونوروځخه عبارت دي.تراوسه پورې چې داوستا ژبې معتبرې ژباړې اوژبنې څېړنې ترسره شوي دنړۍ نامتو پوهانو ښاغلو:کريستان باتلومه Chrbartholomae، ګيګر Geiger، ګلدنر Geldner،هوپشمان Hubschmann،جکسن Jakson اوانسلر Inslor پورې اړه لري.(۱: ۷۲۲-۷۲۴مخونه)

په پای کې ويلای شو چې اوستاژبه هغه ژبه ده چې دزرتشتي دين لارښوونې پرې شوې وې اود(يسنونو ،يشتونو ،ويسپرد ،ونديداد اوکوچنۍ او معاصره اوستا )په دې پورې اړونده آثاروځخه پرته ددې ژبې نورې هېڅ نښې نښانې په لاس کې نشته،آن تردې چې په خپله داوستا په متونونو کې هم ددې ژبې اصلي نوم ته نغوته نه ده شوې اوداوستا کلمه هم په خپله په اوستايي متونو کې نه ده راغلې چې دلومړي ځل له پاره په پهلوي متونو کې داپستاک Apastāk کلمه او کلاسيکو پارسي متونو کې داپستا ،اوستا ،استااو وستا په بڼه راغلې ده همداراز په عربي متونو کې داپستاک،ايستاق... راغلې.ددې کلمې دقيقه معنا ښکاره نه ده په قوي احتمال دستاينې او په ځينې متونو کې د(بنسټ،اصل او اصلي متن ) معنايې هم ورکړې ده .چې داژبه دلويې آريانا دلرغونوژبو ځخه ده ،لرغونې آرياني ژبې اصطلاحاً هغوژبو ته ويل کېږي چې ددويمې مخزېږد زريزې له وروستيو ځخه تردرې سوه مخزېږد پورې ،په ختيځ کې دشمالي چين له

(c) ketabton.com: The Digital Library

پولو څخه (د ساکي قبايلو ترمنځ) ترتوري بحيرې پورې او په لوېديځ کې دآزوف تربحيرې (د سکيتي قبايلو ترمنځ)، په شمال لوېديځ کې (د ميدي قبايلو ترمنځ) او سهيل لورته د هند ترپولو د آرياني ټبرونو د بېلتون له مهاله ،دآرياني ټبرونو ترمنځ په پراخه ساحه کې و بېل کېدې. اوستا ژبه هېڅ يو پېژندل شوي آرياني قوم ته نه شو منسوبولی.اوستا ژبه په حقيقت کې د ګڼو ديني متونو ټولګه ده چې په بېلابېلو دورو ،بېلابېلو سيمو او بېلابېلو وګړو په وسيله رامنځته شوې ده ،تراوسه هېڅ يوه معاصره ژبه نه شو کولای چې د اوستا ژبې مستقيمه يا مخامخ اوښتې بڼه يا پاتې شونې وګڼو. مګر د الماني ژبپوهانو او پو هاند ډاکټر مجاور احمد زيار د څېړنو او کره لاسوندونو پربنسټ پښتو ژبه مستقيماً د اوستا پاتې شونې ده، او بل نظر داسې ده چې ساکي له اوستا او پښتو له ساکي څخه مستقيماً پاتې شونې ژبې دي (www.zyar.net:۳۳)

## ۱۱-زاړه فرس قبايل

د آريايي قبايلو څخه بله ډله چې ده هغه آرياني ژبې پارسيان يا لرغوني پارسيان دي. چې د لرغوني ختيځ تاريخ کې يې د نورو ټبرونو په څېر ونډه درلوده ، پوهان داسې باور لري چې «پادشوا» چې د آشوري د نهمې مخزيړد پيړۍ په لوکو کې ليدل کيده ، (يعنې تقريباً په لرغونو منابعو کې د ميدي قبايلو په اړه لومړنيو معلوماتو او اطلاعاتو رامنځته کيدو سره سم ) تر ټولو لرغونې تذکره ده ، چې د نوموړو قبايلو په اړه په لرغونو آثارو کې شاهدي ورکوي.[۴]

[4] دياکونوف د ميديا نو په تاريخ کې د يادشوا ناحيه پرته له فارسيانو بولي ( يادشوا په ناحيه کې پارسيان نه وه ).۵۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغه دوره کې پارسی قبایلو د یو ځواکمن او خپلواک قوت په توګه د نړۍ په تاریخ کې میدان ته نه دي دانګلي ځو پېړۍ وروسته د تاریخ څخه د اریانا په سهېل لویدځو سیمو د خلیج په څنډو کې یادونه کوي او هغه برخه د آریانا د پارس قبایلو په نوم یاده شوې ده. ( پارسایي لرغوني پارسي او «پرسید» یوناني - چې معرب یې فارس او فارستان دی ) وروسته له دې چې پارس قبایل په نومړې ناحیه کې استوګن او ځای پر ځای شول په کال **۵۵۳** مخزیږد د میدي قبایلو د پاچا پروړاندې د سرکشۍ او بغاوت جنډه برته کړه او په پایله کې د میدیانو پاچایي له منځه ویوړه او نوی دولت یې چې د پخوانۍ میدي امپراطورۍ ځمکې تر ولکې لاندې وې تر خپلې هخامنشي پاچاهۍ لاندې سره یوځای کړې او په(**۵۵۰** مخزیږد ) یې د دولت بنسټ کېښود کوروش دنوي دولت بنسټ ایښودونکي (له **۵۵۸** څخه تر **۵۲۹** مخزیږد پورې ) واکمني وکړه. چې ډېر د پارس قبایلو په وسلوال ځواک ډاډمن و. ډېرې جګړې او سوبې وکړې او ډېرې او بیلابیلې سیمې د اریانا ، مرکزي او کوچنۍ آسیا د ځان تابع کړې دا سوبې او فتحې د کوروش د ځایناستي یعنې کمبوجیه ( کامبیز **۵۲۹** تر **۵۲۲** م. ز ) واکمنې وکړه او لومړی داریوش (۴۸۶ - **۵۲۲** م.ز ) دورو پورې هم رونې وې ، د لومړی داریوش په وخت کې ، د پنځمې او شپږمې مخزیږد پېړیو په بهیر کې دهخامنشیانو واکمني دمنځنۍ آسیا ، ارمنستان ، له شماله نیولې تر حبشې په سهیل کې د اژه د سیند تر څنډو - د لویدیځ لور ته تر سند تر روده په ختیځ کې وغځېده. د پارس قبایل چې په ګڼ ملتي(له بیلابیلو اقشارو او ټبرونو څخه جوړ هېواد ) یا ګډ او مرکب ملتي هېواد کې یې واکمنانو مقام او ځای درلوده لکه میدیان چې له منځنۍ آسیا راغلي وه. پارسیان هم لکه د نورو قبایلو په څېر چې د اوستا لرغوني سرودونه او سندرې ساتلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ویلي ځانونه چې آریایي بلل ، هخامنشي واکمنانوهم ځانونه آریایان بلل:

Adam dārayavahuš xšāyaθiya vazraka xšayaθiya xšāyaθi yam....vištaspa hyāpuθra haxxāmanišiya parsaparsahyā puθraariya ariyačiθra.

ژباړه: زه داریوش ، ستر ټولواک ، شاهنشاه ، د وشتاسب ، هخامنش زوی ، پارس او د پارس آریایي او له آریایي پښته (نژاده) د یوناني تاریخ پوهانو په لیکنوکې د آریانا ، آریا او آریایي په کلمو کې د ډېرو نومیالیو نومونو سره مخامخ کېږي. د لومړي داریوش په نورو کتیبو او لومړي خشایا رشای په کتیبو کې هم همدا جملې لکه: ( داریوش ، دشوش په کتیبه ۱۴ - ۷ e, او د خشایارشا په استخر کتیبه ۱۳ - ۲ h ) کې د آریا کلمه (arya) ، چې کیدای شي د پوځي لوړ پوړو چارواکو ځانګړی نوم وی راغلې ده. لکه د لومړي داریوش د نیا یعنې (انیږ) نوم داسې ویل کېږي چې آریارمنه Arigaramna وه . د بهستون په کتیبه په ۴ پایه یا ستنه کې د آریا کلمه کاریدلې او راوړل شوې ده. (۱۴-۲مخ) په پای کې باید ووایو ، چې زاړه فرس قبایل د هغه وخت د نورو قبایلو له ساکان ، میدیان ، پارتیان ، سغدیان ، پکهتیان... نورو په څېر د یوې آریانا یو تېروه ، چې د میلاد څخه د لومړۍ زریزې په نیمایي کې د داریوش په کتیبه کې د نورو قبایلو په څیر نوم راغلی او داریوش هم خپل ځان آریایي پارس ښوولی دی.

## ۱۲-زړه فرس ژبه Old Persian

د تاریخي اسنادو پربنسټ د آریایي او آریاني لرغونو قبایلو لومړنی ټاټوبی د معاصر افغانستان او ورڅېرمه سیمې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پـه هماغـه وخـت کـې د پرسـيک قبـايلو د بـاختري سـره يـې معاشرتي، کلتوري او وټـه ييـزې (اقتصادي ) اړيکـې دومره ټينګـې نـه وې او همـدا داړيکـو سـوړ والـی او سست والـی د دې سبب شـوچې د دوي ژبـه لـومړی پـه بېلابېلـو ګړدودونـو يعنې لهجـواو بيـا پـه بېلابېلوژبوبدلـه او وو پښـل شـوه.دغه بېلتونونـه او پـه ځـانګړې ژبـو وېشـل د پېړيـو پېړيوجغرافيايي لربوالي نورهم ډېرکړ، چې په خپل اصلي ټاټوبي باختر کې د باختري او پـه لويديځ پـارس کـې د پرسـيک ژبـې د بېلوبېلوژبنيوډلـو پـه څېررامنځتـه شـوې، چې دادوه ډلـې د بـاختر او پرسـيک پـه نومونـو اوس پېژنـوچې ټـولګې تـه يـې آريـاني ژبـې وېـل کېـږي. پـه اوسـني ايـران کـې د ځينوځـان غوښتونکوعناصرولـه خـوا ورتـه ايرانـي ژبـې وېـل کېـږي او د اصـطلاح ځينـو بهرنيـو څېړونکـوهم پـه تېروتنـې اوتقليـد سـره ايرانـي کارولې ده.د پرسيک ژبو پـه لړکې پـه کومـه چې ډېر لرغـوني ليکونـه ليکـل شوي توکي اومواد يې دژبپوهانو په واک کې شته ، هغـه زړه پاړسي ده چې په مېخي ليکدود ليکل شوې ده.دغه ليکنې د هخامنشـي کورنۍ د ۶-۴ ق.ز پېړۍ د پاچايانو په امرد بوې لـوېې سوداګريزې لارې پرسرپه شـاهي هدېره کې پـه زرينو ټيکليواودډبروپـه ټوټـو ليکـل شـوې وې چې د بغـداد اوری پـه لويه لارکې معاصرکرمان ښارته نږدې د يوې لويې ډبرينې دړې پـرمخ ليکـل شوې وه .همدار راز په اوسني شيرازکې د نقش رستم په نوم کتيبـه، چې هغـه هم لومړي دار ته منسوبه ده ډېر بشـري او تـاريخي ارزښت لـري.زړه پاړسـي چې په ميخي ليکدود ليکل کېده کـه څه هم ليکدود دومره بشـپړتوري نـه لري چې پـه ژبـه کـې د ټولوشـتـه غږونو افـاده يـې کـړې وای د بېلګـې پـه توګـه د(ر)او (را ) له پاره يو تـوری وه.داوږد واو او لنډواو (و-ي، u-i ) کارونـه يـو ډول کېـده. همـدا راز دد يفتـونـګ يـا د يفتانـګ او مونوفتونـګ(غبرګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

غرېيزو او يا ډېر غرېيزو ګډون ) دکاروني له پاره هم ځانګړې نښې نه درلودې.
په دې بڼه:



Vazrak - vazaraka- vazara ka - vazrka – vazarak
په څو ډوله وېل کېدا ی شوې له دې املـه دزړې پاړسي دفونيتيـک تثبيت دنورولرغونو ژبو اوستا اوزړې هندي(سانسکرېټ ) اودمنځنۍ پاړسي پـه مرسته شوې دي.په ځانګړې توګـه دغـه پرتلـه کـې اوستا ښـه ځـاى او ونډه لري.(۲۹:۲۸۳-۲۸۴ مخونه)

زړه پاړسي ژبه دلرغونوفرس ټبرژبه وه،اوترټولو لرغوني اومهم اثر يـې چـې ورته پاتې ده دبستون په غره دلوي داريوش کتيبه يا ډبرليـک دى.دا کتيبه دبستون غره په دوه سوه پنځـه ويشت پـايو پـه درې ژبو:علامي،واکدي او زړه پاړسي حک شوې دى(۵۱ )اوپـه منځ کـې يـې دداريـوش ددربارېدو يـوه صحنه هم حک شـوې ده،دلرغـونې پاړسي کتيبـه دصـحنې لانـدې پـه پنځـو پايويا ستنوکـې حک شوې ده ،چې لومړۍ پايه ۹۶ ،دويمه پايـه ۹۸ ،دريمـه پايـه۹۲ څلورمـه پايـه۹۲ ،پنځمـه پايـه ۳۲ ليکـې اوسطره ده،چې دعلامـي ژبې دوه روايته لري،لومړى روايت پـه ۴ ستنوښي لورته لرغـونې پاړسي او

---

( 1 ) دبستون په کتيبه کې دپوهاند عبدالحی حبيبي دڅېړنې له مخې درې مسرې په پښتوژبه دي،په دې اړه دپښتو ادبياتو تاريخ،لومړى ټوک • ،۱۳۸۴المريز،۳۲۲ مخونه وګورئ

ه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل روایت په ۳ ستنو کېڼ لورته حک شوی دی.چې وروسته دداریوش له واکمنۍ په پاړسي ژبه کې کتیبې لیکنې پیل او دود شوې.(۱۲: ۱۵ - ۱۲ مخونه)

دتاریخ پوهانو په وینازړه پاړسي یا فرس قدیم چې دلرغونو پارسیانو ژبه وه او اوس له دغې ژبې پرته له څو ډبرلیکونو چې پورته یې هم یادونه شوې نورڅه نه دي راپاتې،له دغو ډبرلیکونوڅخه ژبپوهانو دزړې پاړسي ږوازې ۴۰۰ الفاظ موندلي دي ،چې په میخي لیک کښل شوي دي.(۴۲: ۳۱مخ)

دیو لړ تاریخي لاسوندونو پربنسټ آریاني لرغونوژبودلیکنې له پیل ۱۲۰۰ ق.م تر۳۳۱ق.م پورې دوام درلودچې زړه فرس هم په همدې مهال کې شتون درلوداو داشتون یې دځینو پورته یادو کتیبواو ډبرلیکونوڅخه راپېژندل شوی.(۱: ۲۸مخ)

همدارنګه باید ووایوچې دپرسیک ژبو په ډله کې کوم چې لرغونې او پخوانۍ لیکل شوې هغه زړه پاړسي ده،چې په میخي لیکدود لیکل کېده دا لیکنې دهخامنشیانو په دوره(۲۰۰ تر۴۰۰ مخزېږد پېړیوکې دپاچاهانوپه امردسرو زروپه ټکلیو،کودیواوډبروباندې دلویوسوداګریزولاروپه سر په شاهي هدېره کې لیکل کې دي،دغه لیکنې لړ ترلړه ۲۵۰۰ کاله مخکې دعیسی(ع) سلام له زېږون څخه پخواني متون وړاندې کړې دي.(۱۵: ۱۹۱مخ)

همداراز لرغونې پاړسي یافرس باستان له(۵۵۰تر۳۳۱م.ز )کاله دآریاني ژبودلرغونې دورې ژبه وه.(۱۳: ۴۰مخ)

زړه پاړسي دآریایي قبایلو ژبه وه چې دمخزېږد لومړۍ زریزې په لومړۍ نیمایي کې دهخامنشیانو دمېخي ډبرلیکونو څخه (۴-۲ ق.م ) پېړیوپورې راتې پېژندل شوې ده. (۱۴: ۱۹مخ) اما ددفتر،دېوان،مکاتبې او لیکلو ژبه یې دفارس شاهنشاهي ارامي ژبه وه.(ارامي ژبه دسامي کورنۍ له ژبوده اودعربستان دشمالي ټبرونوژبه وه ) ارامي ژبوویونکواو ارامي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېژندونکو ماموړینو بــــه دولتــــي مکتوبونــــه د پاچـــا او نورولـــــوړ پوړو چارواکو چې په زړه پاړسي بیانېدل او د هغه پاچا وینا چې بله ژبه یې درلوده په رامي ژبه را اړول او لیکل یې.له نورو پاچاهیو به چې مکتوبونه په ارامي ژبه را تلل پاچاته په خپله ژبه که به پاړسي وه په پاړسي او که به بله ژبه وه په خپله ژبه به یې ورته ژباړل او ویل به یې .چې ددې مکتوبونو له ډلې څخه چې په چرم لیکل شوي وه او پنځمې ق.م پېړۍ پورې اړه لري په ارامي ژبه دي چې د مصرپه هېواد کې لاسته راغلي دي.(۲۰:۲۳مخ) دا ژبه یعنې زړه پاړسي دفارس په سهیل لوېدیځ کې دود ژبه وه او د پورته یادونو پربنسټ د هخامنشي دورې ډېر لیکونه ورباندې لیکل شوي دي.(۴:۲۵۴مخ)

## ۱۲-۱دزړې فرس ژبې ابېڅې(الفبا ):

زړه پاړسي په داسې تورولیکل شوې ده ،چې هغو تورو ته میخي توري یا میخي الفبا وایي او دنوموني لامل یې دادی چې ددې تورو بڼې او شکلونه دمېخونو په ډول او ورسره مشابهت لري،داسې ښکاري چې دزړې پاړسي دلیکنې له پاره به لوی داریوش دتورو او الفبا دجوړولو او بیا پرې لیکلو امر ورکړی وي.دزړې پاړسي الفبا له اکدي الفبا او اکدي الفبا له سومري الفبا څخه اخستل شوې ده.دزړې پاړسي الفبا ۳۶ توري ، دوه دبېلتون یا بېلولو اصطلاح وې او ۸ اندلیکنې Idaogram لري، زړه پاړسي داعدادو دښوونې له پاره هم نښې درلودې، لږ یې ترموږ رارسېدلي دي او پاتې شوي دي.دلرغوني پاړسي دتورو څخه هریو پرته له درې تورو چې خپلواکو(واول ) غږونو دښوولوله پاره کارېدل نورټول خپلواک یعنې واول له ځانه سره لري،چې دهمدې لامل پربنسټ دزړې پاړسي الفبې څپه ییزه (هجايي)ده، دلرغوني پاړسي الفبې له کیڼ لوري څخه ښي لوري ته لیکل کېده ،دا الفبې دهخامنشي کورنۍ دپاچاهۍ ترپایه پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاربدله،ولې وروسته له هغه له دود او رواج ولوېده او وروسته بیا هېره شوې ده.د ۱۹ پېړۍ په لومړیو کې دلوېدیځې نړۍ پوهان ددې الفبې په ویلو بریالي شول دمیخونو په بڼه نښو چې دزړې پاړسي دلیکلو لپاره کارترې اخستل کېده دلغتونو تلفظ یې په سمه توګه نه شو ښوولی.دلرغونې پاړسي دالفبې منځته راوړونکو(مخترعینو )یولړقواعد میخي شکله نښو ددلالت له پاره دلرغونې پاړسي په واجونو(غږونو )باندې وضع کړي وو:هغه نښې چې انګلیسي (a ) لري دناخپلواکه (صامتها ) غږونوله پاره چې وروسته له هغو ناخپلواک (صامت ) راځي یا کوم ځیز وروسته له هغونه راته او یاهغه ناخپلواکه غږونه چې وروسته له هغوي(a ) راتلله په کار وړل کېدل.لکه لکنې بڼه □AD□M ،تلفظ بڼه:Adam زه یا من،چې دaخپلواک(واول ) غږ داصطلاح په پیل کې دA په وسیله ښوول شوې دی...
په لرغونې پاړسي کې دL او Z غږونه نه وه او دپردیو لغتونو په لیکنه کې چې L او Z به یې درلودل □L او □Z به یې کارول.داندلیکنې یاIdeogram اصلي بڼه دمفرد فاعلي حالت دښوولوله پاره په کار وړل کېدلې. او دنوروبڼودښوولوله پاره وروستي توري اویاهم داصطلاح دپوره بڼې توري په پای یا وروستۍ برخه دهغوورا چول کېدل.لکه:لیکنې بڼهDH ،تلفظي بڼه Dahyāuš هېواد /لیکلې بڼهBG ،تلفظي بڼه bagah خدای/ لیکنې بڼه BU ،تلفظي بڼه būmiš ځمکه اوداسې نور ،پرهمدې بنسټ دآریانا پېژندونکوترمنځ دلرغونې پاړسي داصطلاحاتواولفظونو تلفظ په دې سبب ،چې دلرغونې پاړسي الفبې دلفظونو او اصطلاحاتودقیق او سم تلفظ نه ښه یي ،اختلافات اودنظربدلون شتون لري.داوستااو سانسکریټ سره دپرتلنې په مرسته ځینې آریاناپېژندونکي، اصطلاحات او لفظونه په داسې بڼه یې غږونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکي(فونيميکه) بڼه يې ليکي، چې له ځينې نورو آريانا پېژندونکو سره يې
دهغې اصطلاح يا لفظ په غړليکنه (فونيميکه) بڼه کې توپير شتونلري.
:□AB□R□غړليکنه بارتلمه:




، دکنت:غړليکنه abaratبرد.(۱۲: ۳۰-۳۲ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

| ساده | | مرکب | |
|---|---|---|---|
| لنډ | اوږد | لنډ | اوږد |
| āa | | ai | āi |
| īi | | au | āu |
| ūu | | | |

د زړې پارسۍ صامتونه:

| | | |
|---|---|---|
| k | t | p |
| g | d | b |
| č | | |
| ĵ | | |
| θsšhx | f | |
| z | | w |
| | n | m |
| | r | |

## ۱۳-ساکانو قبایل

د غه ټبر ته هندیانو او پارسیانو ساک ویل او پـه آشوري ژبه کې د شکوز ویل کېدل لکه چې په هخامنشي کتیبو کې سکه (saka) یا سکا (sāka) لیکل شوي او دا هغه نوم دی ، چې په زړه پارسي کې د هغو ساکانو لـه پاره کارول شوي ، چې د منځنۍ آسیا له خوا یې لـه پارس سره اړیکې درلودې. [۲۹-۱۱۲ مخ] په یوناني منابعو کې (Skuthai) Σxbϑal ورتـه ویـل شـوي دي. د سکا کلمه په وخت او ځای کې تر اندازې ډېره مبهمه او نا مشخصه معنا لري. دلوېدیځو ساکي قبایلو ژبه پـه لرغوني دوره کې د تور سمندرګي پـه شمالي سیمو کې ، د ځانګړو نومونو او د پاتې قبایلو دنومونو پـه لیدو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتو په یوناني لیکنو کې Sythian او Sythigue یاده شوې ده ، د بهستون په کتیبه کې څلور ډلې ساکان یاد شوي دي:

۱- سکه پردرایا (Sakā paradyaya) داهه (Daha) یعنې د سمندر د پورې غاړې ساکان ، او داهه د آرین اړوند هغه ډله ده چې د خوارزم په دښته کې یې ځای نیولی او بیا د خزر سمندرګي په سهیل غاړه میشت شول او خلک ورڅخه په تنګ شول. د فارس پاچا ، داهه دغه ډله تیت او پرک کړه ، یوه ډله ترې زابلستان ته ولېږد بډه ، چې سکزي Sakzay ورته ویل کېدل.

۲- سکه تیګړه خودا (sakātigraxaday) مساجتیاز (Massagetae) ( د تېرې خولۍ ساکان ) یعنې تر سیحون خوا ساکان: هخامنشیانو د خپلې واکمنۍ په لومړیو وختونو کې له ساکانو سره سرحدي جګړې کولې ، په همدې جګړو کې د هخامنشایانو بنسټګر لوی کوروش له ختیځو ساکانو سره په یوه نښته کې چې مساجتیان نومیدل د ښېوې (خېوې) په سیمه کې په (**۵۲۹** م.ز ) کال ووژل شو.

۳- سکه پرسوغودم ( Sakā parasuqudam )یعنې د سغد ها خوا ساکان.

۴- سکه هنومه ورګه ( sakā hauma varga ) امیر جیبیانان (Amyrgians ) یعنې هوم څښونکي ساکان یا تر سیحون پورې غاړه ساکان.

د واسیلي ایوانویچ ابایف په اند او وینا په یوناني او رومي تاریخي منابعو کې په لاندې توګه د ساکانو د مهمو طایفو یادونه شوې ده. (۱۴: ۲۰-۲۱ مخونه )

سرمت یا سرمیان « د یوناني ( Σapμata ) د روسیې د سهیلي په ستیپونو کې د لرغونو میشتو تېرونو یوه ټولګه وه. سرمتیان آریایي توکمه قوم او

(c) ketabton.com: The Digital Library

آرياني ژبي وو. چې ساکانو لوېديځه څانګه ګڼل کېدل او له ميلاد څخه دمخه په څلورمه او پنځمه پېړۍ کې ژوند کاوه؛ چې د وخت په تېرېدو سره د سرمت نوم د قوم په ستره ټولګه يا په بېلابېلو قبيلو اطلاق شو. خو د دوی ستره برخه په سهيلي سيمه کې د سرمتيانو وو، له څلورمې مخزيږد پېړۍ څخه وروسته د مهاجرتونو (د هونيانو او ترکانو) د دورې په پيلېدو سره د دې توجه نفوذ ورو ورو لږ شو. د منځنيو پېړيو په پيل کې د دوی قوم او اولاده په الانيانو مشهوره شوه. نن ورځ هغوی د آسيا په نوم پېژندل کېږي چې په اوستييا سيمه کې اوسېږي.

مساکتيان يا مساجتيان: Massagetai (يوناني MassayΣtal) په منځنۍ آسيا کې نيمه کوچي ساکي آرياني ټبرو سکه (Saka) يا سکا (Sakā) يو نوم دی؛ چې په پخوانيو متونو کې هغو ساکانو ته چې د منځنۍ آسيا له لورې يې له پارس سره شخړه او مجادله کوله، کارول شوي دي. د «کستا» وروستاړي په ساکي ژبه کې د جمعې نښه ده. او مساکت د ماسايانو په معنا يعنې ساکان دي.

الانيان (يوناني کې ورته Alavol) وايي. په لرغوني دوره کې د شمال له آرياني اقوامو څخه يو قوم وو، چې بنسټ يې د خزر سمندرګي په ختيځ کې ده، لومړی په تاريخ کې د آرين په نوم يادېدل او په خوارزم کې په هغه سيمه کې چې اوس د ښيوې مرغزار دی، اوسېدل او بيا قفقاز ته ولېږدېدل. د آلانيانو يا الان نو د آريانا د کلمې متکامله بڼه ده. د دې قوم اولاده د روسيې او ګرجستان په پولو کې په اوسيتيا کې اوسېږي او خپل ټبر او ژبې ته ايرون وايي. د هيرودوت په ليکنو کې ساکان د سکيت په نوم ياد شوي دي دوی تل له ځان سره پيالې درلودې، څرنګه چې په يوناني ژبه کې سکيت د پيالې په معنا ده، نو پر همدې بنسټ دوی ته دا نوم د هيرودوت

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خوا ورکړل شوی دی. هیرودوت وايي، چې اروپا يي ساکانو به ځانونو ته سګُلُس (Secolotes) ویل همدا کلمه په اروپايي ژبو کې په سسيت (Scythe) اوښتې ده ، نوموړی زیاتوي: ځکه آریایانو ټولو سکوتیانو ته ساکان ویل ، په عربی ژبه کې هم تاریخ پوهانو او جغرافیه پوهانو د اسلامي ستروا کی په بهیر کې هغو ته ساک ویلي دي په دقیقه توګه څرګنده نه ده چې ساکانو خپلو ځايونو ته څه ویل. ګرشمن لیکي: ساکانو د فارس د اشغال او نیولو پر مهال د کردستان د «سقز» سیمه خپله پلازمینه کړې وه لکه چې د دوی آثار په دغه شاو خوا کې پیدا شوي دي او وېل کېږي چې د «سقز» کلمه د ساکانو له نوم څخه رامنځته او مشتقه ده.

پوچیان: دا نوم چینیانو د منځنۍ آسیا یو لرغونی کوچي ټبر ته ، چې ساک وو کارواوه (تاریخ کیمبرج ، دریم ټوک ، لومړی برخه ۱۳۸۱ لمریز کال ۸۵۸ مخ) پوچیان د ساکانو هغه ډله وه ، چې له میلاد څخه د مخه په لومړۍ پېړۍ کې په باختر کې و کویشان د ستروا کی (امپراتورۍ) بنسټ کېښود او د دویمې مخزېږد پېړۍ له دویمې نیمايي څخه د لومړۍ میلادي تر لومړیو پورې په منځنۍ آسیا ، افغانستان او تر هنده واکمن وو. تاریخي ساکان ، پیل کې له نورو اندو اروپايي خلکو سره یوځای او وروسته بیا نورو سیمو ته ولېږدېدل ، ساکان له لومړۍ مخزېږد زریزې څخه تر لومړۍ زیږدیزې زریزې پورې د تور سمندرګي له غاړو څخه د چین تر پولو پورې دا پراخه سیمه په ولکه کې درلوده او د دوی استوګنځی له شمال څخه د سایبیریا تر سهیلي دښتو ، له سهیل څخه تر خزر تر ډانیوب سین پورې رسېده. د ساک ټبرونو مهاجرت د اندو اروپايي سترو مهاجرتونو په دوران کې شوی دی. ځینو آریايي قبایلو د سایبیریا سهیلي لوړې سیمې پرېښودې ، یوه ډله اورال غرونو په لور او بله ډله د سیر دریا او آمو سیند

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لور وخوځېده ، دوی له تيان شان غرونو واوښتل او د کاشغر سيمې ته وننوتل ، له هغه ځايه ختيځ ترکستان او کوتچه ، قره چار او توشن هوانګ دري تر کانسور جوري ترخپل واک لادې کړلې او چين له خاوري سره ګاونډيان شول. ( دايره المعارف ، ايرانيکا ، استرايي هاى هخامنشيان ) د پارتيانو په وخت او مهال کې (پارتيان د ساکانو د پرني ټبر يوه څانګه ګڼي ) [(۴۵:۷۱ مخ)] (سبک شناسي بهر، لومړی ټوک ،پوهاند محمد حسين يمين ، سرګذشت زبان فارسي دري ، **۱۳۸۵**، ۷۱ مخ ، کورش صفوي ، آشنايي با تاريخ زبانهاى ايراني **۱۳۲** مخ ) د دويمې مخزيږد پېړی په وروستيو کې کوچي ساکان د پارتيانو په ختيځو پولو او سرحدونو کې وړاندې ولاړل او د اوسني کندهار او سيستان سيمې يې ونيولې ساکانو له هغه ځايه کابل او پنجاب ته نغوذ وکړ. د سيستان نيول دايمي و. کله چې د سيستان نوم په واقعيت کې د دې ټبر له نوم څخه اخستل شوی او ورسره اړه هم لري. ساکان تر ډېره بريده د ماديانو (ميديانو )او پارسيانو د تمدن اغېزمن وو او د خپلو قوميانو ، سرمتيانو غوندې له مردايي او زردشتي غور څنډو څخه چې په پای کې وکړای شول د ميديانو او پارسيانو عقيدې او بارورونه بدل کړل. لرې وو. [(۴: ۱۳۹-۳۱۱ - ۳۰۹ مخونه)]

## ۱۴-ساکي ژبه

ساکانو لومړی زريزه مخکې له ميلاده او لومړی زريزه وروسته له ميلاده په ډېرو پراخو سيموکې د توري بحيرې پرغاړو د چين ترپولو پورې نيولې وې او دلرغونې ساکي ژبې څخه کومه ليکنه راپاتې نه ده يوازې دلوېديځې ساکي څخه يو څو لغتونه چې هغه هم ځانګړي نومونه دي او ويونکويې د توري بحيرې پرغاړوژوند کاوه په يوناني او لاتيني کې راپاتې دي. چې د منځنۍ آسيا د ساکي ژبې څخه هم بوه اندازه لغتونه په ځانګړونومونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

هندي سانسکرېټ ، یوناني اولاتیني په ځای پاتې دي.څونومونې یې دلغتوچې دلوېدیځو ساکي ژبوڅخه په یوناني او لاتیني لیکونوکې پرځای پاتې دي را اخلو:arvant ،تیزاو روښانه(تند او سریع ) ،aspa آس ،ātar آذر ،bāzu بازو(مټ ) ،čarma چرم ،čyav کېدل ،gauša غوږ ،hapta اووه ،haška وچ .(۱۲:۱۵۰مخ)

ساکي یاسکیتي ژبه د ساکي اوسرمتي قبایلو ژبه وه ،چې داتمې او اوومې مخزېږد پېړیو څخه تر څلورمې اوپنځمې میلادي پېړۍ پورې د تورې بحیرې په شمالي څنډوکې استوګنه وه. له دې ژبې څخه لکه څنګه مو چې پورته یادونه وکړه هېڅ آثار نه دي راپاتې فقط یوڅوسکیتي یعنې ساکي کلمې اوډېرځانګړي نومونه،دقبایلواوځایونو(اماکنو )نومونه دیوناني تألیفاتوکې لیدل کېږي.(۱۸:۱۴مخ)

دساکي قبیلې اصلي ځای په لرغوني افغانستان(آریانا )کې دهندوکش شاوخوا سیمې دي،دپورته اونورو لیکنو اوڅېړنو پربنسټ دد بوو یوه ډله ترمیلاد نږدې یوزرکاله وړاندې دشمال لورته ولېږدیدل،چې آن دتورې بحیرې ترڅنډواو دچین ترپولوپورې ورسېدل اوبله ډله یې دمرکزي آریایانو (باختریانو ) ،پارتیانو ،سغدیانو ،خوارزمیانو اونورو ترڅنګ پاتې شوو.چې زرکاله له میلاد څخه وروسته هم دآریانا په پراخو سیموکې استوګن وو ،چې دباختري قبایلو په بېلا بېلونومونو یاد شوي دي،دمیلاد څخه دوه پېړۍ وړاندې دساکو یوې ډلې په باختر،انګیان(سیستان ) اوآراخوزیا باندې واکمنې ترلاسه کړه،چې بیا دهند ترشمال لوېدیځ برخوهم ورسېدل.کله چې دهلمند او هامون درود سیموته یې مخه کړه هلته میشت شول په پارتیانو یې یرغلونه وکړل او هغوي ته یې ماته ورکړه ؛نو دپارس ختیځو سیموته هم ننه وتل اوبیایې له دې سره دمعاصر افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

او اوسني سیستان(انګیان) سهیل لوېدیځې سیمې ونیولې، دغه ځای ددوي په نوم ساکستان یاد شو، چې اوس ورته سیستان وايي اودا دنیمروز ولایت اودهغې شاوخوا سیمې دژبې په اړه باید ووایو چې داژبه دمرکزي باختري په نوم هم یادېږي.(۱۸۹:۱۵مخ) داژبه دآریاني ژبودمنځنۍ دورې په بحثونوکې هم راځي چې هلته به په خپل ځای بحث پرې وشي. دځینې اروپایي او په ځانګړې توګه الماني ژبپوهانو دژبنیوخېړنو په ترځ کې دا په ډاګه شوې ده، چې دلرغوني ساکي ژبه او منځنۍ ساکي ژبه دپښتو ژبې نیا(مورینه) اوپښتوژبه یې لمسۍ ده.(www.zyar.nej:۳۳)

## ۱۵-میدي قبایل

دمیدي قبایلودنوم یادونه په ۸۳۵ م.ز کال په پېښوکې دلومړي ځل له پاره ددرېیم آشوري پاچا(شولمانوآشارېدو-ی) په لوحوکې یاده شوې ده. یادو قبایلو بیا وروسته یومريي(غلامي) لرونکی دولت دپارس په شمال لوېدیځ کې رامنځته کړ، چې مرکز یا پلازمېنه یې دآکباتانا (EXBatana) په لرغوني یونان کې(ham>hăgmatūna)او(gmata)مفعولي حالت دham-gamدغونډېدلو یا ټولېدلو په معنا او ټکي په ټکي معنایې دغونډېدو ځای یا دراټولېدو ځای- اوسنی همدان)چې په خپل نوم یې نومولی ده.(داچې لوېدیځ وال یې مدي یا مېدي ورته وايي) اومعاصریې هم داځمکنۍ سیمه په هماغه نوم پېژندلې.ددوي دژبې اصلي اثارشتون نه لري.کوم معلومات او اطلاعات چې په اوسنیو منابعوکې دمیدي ژبې اوقبایلو په اړه دي په نشت شمېرل کېږي.ولې سربېره پردې ددوي دژبې او قبیلې تړاو او اړوند تیا ثبوت دآریاني ژبو له ډلې او آریاني قبایلو سره دبسنې اومنلو وړدی.یوناني نوم وتي تاریخ پوه دمیدي قبایلود۶ قبیلو او اهمدارنګه دڅو کلمونومونه په خپلو آثاروکې راوړي دي.او روښانه کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې ده چې ميدي قبايلو په آرياني لهجو او ګړ دودونو خبرې کولې.دميديانو نومونه چې دآشور پاچاهانو په ځانګړې توګه (سارګون ۷۲۱-۷۰۵مخزېږد پورې ) يادونه شوې ده په دې ادعا شاهدي ده ، دابه کاپي وي چې دلته يوازې دهغې ميدي قبيلې:آريازانتو aryazantu(آريا قبيله ) اويا دهرودوت هغه لفظي ژباړه چې دسپي (سګ ) کلمه راوړې يادونه وکړو(اسپاکا-spaka-ی ميدي سره پرتله شي په Śpan سپان Sran اوستايي اوساکي يې-Saka-ی ،لرغونې پارسي داوسنۍ پارسي سګ او په پښتوکې دسپي (spay) سره سمون لري. ) دميدي او يا دجګړې دلوړپوړو مشرانويې چې په لرغوني پارسي کې راغلې دي را اخلو(تخمسپاد tuxmaspada )چې لفظي معنايې دځواکمن لښکردرلودونکې دی.ميدي قبايلو دلرغوني ختيځ په تاريخ کې مهمه او اړينه ونډه ترسره کړې ده.داوومې مخزېږد پېړۍ په وروستيوکې کياکسار(هوخشتره ) دميديانو پاچا دبابليانو سره په ګډه دلرغوني ختيځ ډېر ځواکمن دولت يعني(آشور ) تارومارکړ اوپلازمېنه(نينوا ) يې ورانه ويجاړه کړه (۶۱۲ م.ز ) او د ميدي پاچاهۍ او تولواکۍ نفوذ او لمنې يې پراخو سيموچې(د آريانا لويديځې برخې تر وړوکې آسيا (کوچنۍ يا صغيره آسيا (کاپادوکيه ) د لويديځ لور ته غځيدلې وه تر دليس سندونو (فزل اوسني ايرماق پورې ) غځيدلې وه . (۱۴: ۵۷-۵۹ مخونه)

## ۱۲-ميدي ژبه

داژبه دميدي قبايلوژبه وه ،چې دمخزېږد لومړۍ زريزې په لومړۍ نيمايي کې دپارس شمالي سيمواوخذر(کاسپي ) سند سهيل لورته استوګنه درلوده.زموږمعلومات او اطلاعات ددې ژبې په اړه دساکي ژبې څخه هم لږدي.دميدي ژبې اړوند او ورسره پيوسته متون ياليکنې دپوهانوپه واک

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې نه شته ،فقط یو څو محدودې کلمې د میدي ژبې اړوند دلرغوني یوناني نامتوتاریخ پوه په تألیفاتو اولیکنو اوپه ځینو نورو یوناني متون لیکنو کې ساتلې پاتې دي.(۱۴: ۱۹مخ)

دمیدیانو په اړه هېڅ یوه آریاني ژبه کې یوه لیکنه نه ده راپاتې.ولې دیوناني تاریخ پوهانو په لیکنوکې دځینو داستانونو،کیسو اوشعرونو ته نغوته په دې دوروکې شوې ده.(۲۰: ۱۷مخ)

ددې ژبې دځینو لغتونو نمونې چې په یوناني اوزړه پاړسي په لیکنو کې راپاتې دي په لنډه توګه را اخلو:wazarkلوی، سترا وبزرګ.xšāyaΘya ټولواک پاچا اوشاه،asanتیږه ،ډبره-سنګ،miΘraمهر. د هخامنشیانو وروسته دمیدي ژبې هېڅ معلومات ، اطلاعات او اثرپه لاس کې نشته.(۱۲: ۱۵مخ)

د ژبپوهانو په څېړنو کې د میدي ژبې د غږونو انډول داسې ثبیت شوي دي۲.

| اندو اروپایي | آریک | میدي | اوستا | زړه فارسي | سانسکریټ |
|---|---|---|---|---|---|
| *k | *č | č | s | θ | ś |
| *g,gh | *z | j/gh | Z | D | J |
| *ku | *sp | su | sp | s | Sv |
| *ghu | *zb | zh | bz | z | Hv |
| *tr,tl | *θr | θr | θr | ç | Tr |
| *ti | *θi | θi | θy | šl | - |
| *su | - | f | hv,xv | hu | - |

څېړنپوډاکټرخلیل الله اورمړ،دآریانالرغونې ژبې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پایله:

د څېړنې د اصولو سره سم د دې ټولو بحثونو او سپړنو په پای کې دې پایلې ته رسېږو، چې آریا د نجیب، نومیالي، مېلمه پال او په ځینې حالاتو کې د بزګر، ښاغلي او د آریاورته او سېدونکي ته هم ویل شوي. همدا راز آریانا د نجیبو او ښاغلو د ټاټوبي په معناده، چې د لرغوني آریا د اضافي حالت د جمع بڼه ده، او د آریایانو له خواره واره کېدو وروسته هم تر اوسه زموږ د هېواد افغانستان لرغونی نوم دی. په دې توګه آریایي یو نسبتي نوم دی، چې د آریا له پښتنه وي او په آریایي ژبو خبرې کوي. هدارنګه د آریاني کلمې او اصطلاح د آریانا د اوسېدونکو او د آریک ژبې څخه د رامنځته شویو ژبو (باختري او پېرسیک) ویونکو په معنا ده، او د نوموړو ژبو د جغرافیایي سیمو په معنا هم ده. په همدې سره راځو د ژبې تعریف ته؛ ژبه د یو لړ معنا لرونکو او لېږدونکو ویېزو، او ربېزو غږونو یوه اسي سېستماتیکه ټولګه ده، چې انسانان خپل اندونه، خیالونه، فکرونه، عاطفي، احساسات، پوهې، تجربې، غوښتنې او هراړخیزې اړیکې د هغې په وسیله یو تر بله رسوي. چې ورتیا او استعداد د انسان له پاره طبعي او فطري ځانګړنه ده او په ټولنیز چاپېریال کې یوه اکتسابي، میثاقي او قرار دادي پدیده ګڼل کېږي. ژبه د انسان د هویت تر ټولو مهم توکی دی. د ژبې او ورسره تړلو مسایلو د څېړنې له پاره اړینه ده چې فلالوژۍ پېژندنې ته سرور ښکاره کړو؛ فلالوژي یوناني کلمه ده، د فکر کولو، بحث او وینا سره د دوستۍ معنا لري. فیلوس (دوست) او لوکوس (فکر کولو او بحث) په معنا ده په عربي کې ورته (فقه اللغه) وایي. د ټولو هغو علوم بیانونکې ده چې د یو قوم او یا هم ټېرونو دیوې ډلې ژبه څېړي او هغه فرهنګي (د عام کلتور او ادبي اثارو) چې د هغې ژبې یا ژبو د ګړو په وسیله رامنځته شوي ارزوي. د فلالوژۍ موخه او دنده یې د تاریخ په بېلابېلو پړاونو کې د یوې ژبې ادهغې اړوند اثار او د قوم کلتوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزونـــه او ثبـــړل ده.آريـــاني فلالـــوژي (فقـــه اللغـــه )دآرياني ژبـــو او تېرونو اړونـد کلتوري،ژبني او تـاريخي مسـايل ترڅېړنـې او پرتلنـې لانـدې نيسـي او دختيځپـوهنې پـه څانګو کې د تـاريخ لـه نظره اهميت او د آريانـا پـوهنې او اړوندو شرقي معلوماتو پـه اړه لوړمقـام او دريځ لري.پـه اروپـاکې درنسـانس لـه پيلېدو راوروسـته دعلومو پـه برخـه کې د بېلا بېلـو څـانګو درامنځته کېدو له امله دفلالوژۍ پوهې هغـه پراخه معنامحدوده کړه .چې بـوه لـه مهمو څانګو څخـه يـې ژبپوهنـه ده ؛هغـه پوهـه ده چې دژبـې پـه اړه هراړخيز ومعلوماتو څخـه بحث کـوي.او دژبې داخلي جوړښت ،ډولونه،لـه نوروژبو سره يې پرتلنه ،تاريخي تحولات ،ژبښونيزمسايل او تشرېحات پـه علمي او سيستماتيکه توګـه څېړي.ژبپـوهنې د تـاريخ پـه اوږدو کې بېلا بېـل پړاونه تېرکړي پـه آريانا(ګندهارا-اټک ياورځېرمـه سيمې )کې د پـاڼيني لـه خوا پـه علمـي توګـه بنسټ کېښـوول شو.پـه يونـان کې پـه هراړخيـره توګـه نظريات او څېړنه پرې وشوه او دخپلوژبو پـه برخه کې ورته کاروشو.عربانوله پخواهم دسامي حامي آرامي تمدونونو پـه وخت کې پـه ابتـدايي او داسلام دسـپېڅلي ديـن لـه راتـګ سره سم يـې دعلومو پـه ځلانـده انقلاب سره ،ژبپوهنـه پـه هـره برخـه کې پـه خپلـه ژبـه عربـي کې وځلولـه.پـه پـاى کې اروپايـانو او نورو پـه علمـي توګـه پيـاوړې کړه،چې پـه نظـري او تطبيقـي ،همـداراز تـاريخي،پرتليزه ،تشـريحي او دنوروپوهنو سره پـه تړاو کـې بېلابېـل ډولونـه او برخـې رامنځتـه شـوې.څرنګه ،چـې ژبپوهنـه ژبنـي موضـوعات څېـړي ،نودڅېړنو او پرتلنو پـــه تـرڅ کـې دژبـــو بېلابېلې کورنۍ،ډلې،څـــانګې او ښـــاخونه ،دجنېټکـــي او شـــکلي يـــا ګرامري جوړښـــتونو او خپلوۍ دپرتلنـــې پـــه پايلـــه کـــې رامنځتـــه شـــول. او د ژبنيو کورنيو ښودنه دژبپوهانو لـه خوا پـه څپـه ييزو او شـجريي نقشـو کې را څرګندې شوې. پـه ټـوليزه توګـه دنړۍ ژبې پـه اتو کورنيو ډلبندي او وېشـل شوې دي چې وګړوشمېريې اټکلي او تخميني ښوول شوي:۱-اندو اروپايي کـورنۍ(۲۰۰۰۰۰۰۰۰وګړي) ،۲- دراوېدي کـورنۍ(۱۲۰۰۰۰۰۰وګړي).د پورتـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يادو ټولوژبنيو کورنيوژبې دنسبي (جينټکي) ياشکلي ګرامري هراړخيزولغوي، ريښوي، ژبنيوجوړښتي، پرتلنو، پلټنو، سپړنواوڅېړنو په پايله کې پېژندل شوي اوپه اړوندو کورنيوپورې تړاوورکړل شوي.زموږدهېوادډېرى ژبې دانـدواروپايي کورنۍ، آريک ژبې (اندوآرياني) ډلې، آرياني څانګې اوراوروسته باختري ښاخ پورې اړه لري.چې له آريک ژبې هيڅ اثراولاسوندنه ده راپاتې اولرغوني دورې دژبودلغوي ياژبنۍ بيارغوني Linguistic Reconstruction له لارې ورته فرضي رسېږو آريک ژبه ژبپوهانوپه لړتوپېرسره په څلوروڅانګو وېشلې: ۱-اندوآريايي(هندي اواړوندي)، ۲- داردی، ۳-نورستاني، ۴- آرایاني(باختري اوپرسيک).دد پوله ډلې څخه دآرياني څانګې ژبې په درې دورو وېشل کېږي:لرغوني، منځنۍاومعاصره.چې هره دوره به يې په لنډه توګه څرګنده کړو: ۱- لرغوني دوره: اوستاژبه (۱۰۰۰-۱۲۰۰مخزېږد)، لرغوني فرس(۵۵۰-۳۳۱م.ز)، مېدي (۵۵۰م.ز)، ساکي (سکيتي، سرماتي)(۹۰۰م.زتر۲۰۰زېږديز). ۲-منځنۍ دوره:-ختيځ ښاخ (باختري): آلاني (دسکيتي اوسرماتي پاتې شونې)، ساکي، ختني، خوارزمي، سغدي، باختري. لوېديځ ښاخ(پرسيک):پارتي)(پهلوی اشکاني)، منځنۍ پاړسي (پهلوی ساساني) دلرغوني پاړسي پاتې شونې. ۳- معاصره دوره: ختيځ ښاخ(باختري):پښتو، آسی(دآلاني ژبې پاتې شونې)څرنګه چې پښتودآلاني اوآلاني دسکيتي اوسرماتي پاتې شونې دي نوپه دې توګه دپښتوژبې دشاليد لړۍ د لرغونوآرياني ژبوسته ته رسېږي، يغنوبي، اورمړي، پراچي اوپاميري ژبې چې عبارت دي له:سريکولي، زيباکي، واخي، خوفي، يدغه، شغني، سنګليچي، ارشور، منجي، اشکاشمي، باجواوبرتانګي. لوېديځ ښاخ(پرسيک): دري، تاجکي، پاړسي (دمنځنۍپاړسي ۹۰۰-۱۵۰۰.ز، پاتې شونې)، بلوڅي، تاتي، کردي، او داسې نورې ژبې. دپوته لنډويا دنوسره سره اوستاژبه په لرغونوآرياني ژبوکې ترټولوپخواني اومهم اثرګڼل کېږي، چې يادونه يې دلرغونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

یونانیانو، ارمنیانو، سریانو، اوعربو پوهانو په لیکنوکې د یوزردشتي دیني
کتاب په توګه شوې ده، اوستاژبه ۲۰ توري لري چې ۴۸ راپاتې دي اونورې
له اثاروسره د سکندرمقدوني له خوا سوځول شوي، لیک یې د آرامي لیک
څخه اختل شوی او د ښی خوا کیڼ لورته لیکل کېده، د دې کتاب اصلي
نسخه نه ده پاتې او په لاس راغلې نسخې د هغه وخت د دیني مویدانو له خوا
د خپلو غوښتنو له مخې لیکل شوې دي. نو مورې اثر په متأخره (معاصره)،
کوچنۍ (خرده) اوستا نومول شوې او یشتونو او ګاتونو برخې جوړوي. د زړې
فرس هم لږ شمېر اثار په ډبرلیکونو راپاتې دي او په مېخي لیک لیکل شوې
ده، چې مشهورېې د بستوډبرلیک دی چې په علامې. واکدي، زړې فرس او
د حبیبي د څېړنې پربنسټ په پښتو هم څو کرښې لیکنه لري، همدا راز د ساکي
او مېدي ژبو څو کلمې او ځانګړي نومونه راپاتې دي. چې
د منځنیو او معاصرو ژبو سره د پرتلنې په پایله کې خپل د نیا
او مورینتو دریځ ساتي. په پای کې دیادولو وړ بولم چې آریاني فلالوژۍ (فقه
اللغه) تاریخچه د آریاني ټبرونو، قومونو د ژبو او په دې ژبو لیکلي
اثار او کلتور داړوند وعلومو سره په تړاو د تاریخ په اوږدو کې تر علمي
بحث، څېړنې او ارزونې لاندې نیسي

په درنښت
دینارګل امین سهاند

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مناقشه

ځيني څېړونکيد څېړنې په وروستيو کې دخپلې موضوع اړوند مناقشه هم ليکي، چې ماهم دې اصل ته په کتوسره د لاندې مناقشې په راوړلو سره څېړنه دجوړښت له مخ دبشپړتيالورتهنېږدې کړه.څرنګه چې دڅېړنې په اوږدوکې هم ورسره مخ شوم؛دفلالوژستانواوژبپوهانو ،ځيني اصطلاحات (آرياني ياايراني )په بېلابېلوبڼوکارولي دي ،لکه(آرياني فلالوژي يا ايراني فلالوژي )اوداسې نورې اړوندې اصطلاوې.اوس پوښتنه داده چې آرياني اصطلابه مناسبه وي که ايراني؟ البته دټولوهغوامتيازاتو اوارزښتونوله پاره چې لرغوني آريانا ته ځانګړي دي ،په ځانګړې توګه د(باختراوپارسيک ) ژبو، لهجو، ټبرونو، سيمو، کلتورونو... او ګڼو ارزښتونودخونديتوب له پاره همداراز دتاريخي ريښې اودلرغونوتاريخ پوهانواوژبپوهانودعلمي يادونوپرېنسټ ،دبېلګې په توګه د(بېلو )يادونه کوم، چې دخپل اثرپه لومړي پاڼه (تجسسات نژادي درافغانستان)کې داصفت په طبعي اومطلوبه بڼه (آريانيAriani )کارولی.همدارنګه اکاډمېسن ډاکټرعبدالاحد(جاوېد ) د(اوستانومي اثر، ۱۹۹۹م) داراتوستين اوسترابون په حواله(آريانا اوسېدونکوته دآرياني هاArianiens نوم ويل شوی دي. دهمدې تاريخي شاليد پرېنسټ دافغان پوهانوپرېکړه د(آرياني )اصطلاح په کارنې شوې.بله پوښتنه دا ده چې فلالوژی څه معنااوله ژبپوهنې سره څه توپيرلري ،له کوم ځای پيل شوې ده ؟ څرنګه چې د ډېری علومو او فنونو سرلاري يونانيان ګڼل کېږي؛دتاريخي څېړنوله مخې دفلالوژۍ په برخه کې هم دوی مخکښه ونډه لرلې فلالوژي په خپله يوناني کلمه ،چې (فيلوس)د د ست

(c) ketabton.com: The Digital Library

او(لوګوس )د فکربحث په معناده.اوعربي معنا(فقه اللغه )ده په اصطلاح کې دټولوهغوعلومو ،پوهنوبیانونکې ده چې دیوه ملت دپوي ډلې ژبه خبري اوهغه فرهنګ،ادبي اثارچې دهغې ژبې دویونکوپه وسیله رامنځته شوي ارزوي.چې دپوهنودبېلوالي له امله یې مفهوم ،فرهنکي اوژبپوهنیز تاریخ پورې محدودشو.همدارازپه دې برخه کې دعربوونډه هم درنه ده.ولې دژبپوهنې په برخه کښکه څه هم څېړنو ثابته کړې چې لومړني نظریات د ژبې په اړه یوناني پوهانوڅرګندکړي دي؛خوددوی نظریات په فلسفي اندودونو ولاړ وه ؛ د ژبپوهنې په نوم یا دا چې د ژبې د سمون په اړه لومړني کوښښونه آریانا پورې تړاولري چې دګندهاراد(اټک او ورڅېرمه سیمې... ) اوسېدونکي پاڼیني دا کار کړی دی.اودساسګریټ ژبې ګرامرلیکنه یې دهغه وخت شهکارکڼل کېږي. د غربي یا اروپايي معاصرې ژبپوهنې بنسټ هغه وخت کښېنودل شو چې د پاڼیني ګرامر یې ترلاسه کړ. اودنوبیاعلمي ژبپوهنې(هغه ژبپوهنه چې دژبنیوټولیزواصولودرلودونکې وي ).د غه اصطلاحات هغه وخت دود شول چې د تاریخي اوپرتلیزې ژبپوهنې پر بنسټ د نړۍ ژبې ډلبندیاو ووېشل شوې.داچې د نړۍ ژبې د ښې څېړنې په موخه څه ډول وېشل شوي دي؟ددې پوښتنې ځواب اوس ښکاره ده؛دنړۍ ژبې دعمومي څېړنې په موخه په بېلابېلوبڼوو وېشل شوي.چې،مهمې دادي: شکلي (ټیفیک ) اونسبي(جنیټیک ).شکلي وېشنه یې ژبې د جوړښت له مخې وېشي اونسبي ویشنه یې ژبې د کورنیو ګډو ځانګړنو له پلوه وېشي. چې په دې لړ کې دآریانالرغونې،منځنۍاوسنۍ دورو ژبې،چې اوس یې لړۍ آن تراروپا ،هند ،منځنۍآسیا ،پارس (ایران )،پاکستان،بنګلدېش اوچین ځینې سیمې اوډېرې ژبې رانغاړي.ولې دپورته خپلوۍ پربنسټ په یوه کورنۍ (اندواروپايي )کې راځي. پښتو ژبه هم د لرغونو ، منځنیو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

معاصرو آريايي او آرياني ژبو سره د نسبي او شکلي نږدېوالي پر بنسټ د (اندو اروپايي) کورنۍ، آرياني ډلې، ختيځه څانګه کې يې موقعيت تثبيت شوی. بله دا چې، لرغونو ژبو ته ولې ځني ژبپوهان مړې ژبې وايي؟- ځنې ژبې لکه اوستا، زړه پارسي، ساکي، ميدي او نورې ژبې اوس د ويلو، ليکلو او مفهوم ځانګړتيا له لاسه ورکړې، نو ځکه يې مړې ژبې بولي. ولې تاريخي ارزښت او اهميت يې له لاسه نه دی ورکړی او نه يې ورکوي. د نويو ژبو په تاريخي بنسټونو کې رغنده او مهمه ونډه هم لري.

پايېزه :(نتيجه ګيري)

آريا د نجيب او ښاغلي، آريانا د نجيبو او ښاغلو د ټاټوبي په معنا، آريايي نسبتي نومدی او د هغه چاله پاره کارول کېږي چې د آريا له پښته وي. آرياني د (باختري، پرسيک) ژبو او اړوندې سيمې ته يې ويل کېږي. په همدې توګه ژبه د بشري غړو نو دا سې ټولګه ده چې د انساني اړيکو تر ټولو ستره وسيله ګڼل کېږي او د هويت مهم توکی ده. د ژبنيو علو په لړکې فلالوژي (فقه اللغه) ستر ځای لري او يوناني کلمه ده فيلوس (دوست) او لوګوس (فکر کولو، بحث) معنا لري، چې د ټولو هغو علومو ښکارندويه ده چې د يو ټبر ژبه څېړي، فرهنګ او ادبي اثار چې په کې رامنځته شوي ارزوي. ژبپوهنه يې بوه برخه ده. چې د ژبې په اړه هر اړخيز معلومات وړاندې کوي. د لومړي ځل له پاره په علمي توګه په لرغوني آريانا د ګندا هار (اټک ياشاوخوا) سيمه کې پاڼيني رامنځته کړې ده، چې په دوی پسې يونانيان دغې پوهې ته پام شوي دي او په فلسفي بڼه رامنځته شوې ده ، په عربو کې ژبپوهنه لومړی د حضرت علی کرم الله وجهه د خلافت په دوره کې د ده په سلا رامنځته شوه لومړنی عربي ژبپوه ابو الاسود دوئلي و...، .د ژبپوهنې په برخه کې نولسمه او شلمه پيړۍ د علمي ژبپوهنې د رامنځته کېدو پېړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي.چې په ترڅ کې يې د نړۍ ژبې د شکلي(ټيپيک ) اونسبي( جنټيک ) نظريو له مخې په کورنيو ،ډلو ،څانګو او ښاخونو ،وو بشل شوې.دلرغونې آريانا او اوسني افغانستان ډېرې ژبې داندواروپايي کورنۍ ،آريک ژبنۍ ډلې،آرياني (باختر،پرسيک )څانګې، باختري ښاخ کې راځي.دآريک ژبنۍ ډلې لاندې څانګې لري:اندوآريايي،داردي،نورستاني اوآرياني.چې آرياني څانګه په درې دورو وېشل شوې ده: لرغونې، منځنۍ او معاصره.اوستا ،زړه فرس ،ساکي اومېدي دلرغونې دورې راپاتې ژبې دي. چې پښتو ژبه د آرياني ژبو څانګې يوه شمال ختيځه ژبه ګڼل شوې ده. په پای کې دیادولو وړبولم چې آرياني فلالوژۍ(فقه اللغه )تاريخچه دآرياني ټبرونو ،قومونود ژبواوپه دې ژبوليکلي اثاراوکلتوردا ړوندوعلوموسره په تړاو دتاريخ په اوږدو کې ترعلمي بحث ،څېړنې اوارزونې لاندې نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وړاندیزونه:

دجوړښت له مخې مې د تېزس موضوع په لاندې وړاندیزونو رانغاړم، هیله لرم چې ورته پاملرنه وشي:

۱. دژبنیو څېړنو په مرکزونو، اړوندو پوهنیزو، تدریسي پوهنتونونو او زده کړیزو موسیسوکې، په تولیزه توګه دآریاني او په ځانګړې توګه دپښتو ژبې دفلالوژۍ، په برخه کې ډېرلږ.اودژبې، ژبپوهنې له پاره یې څه ناڅه مواد شته.چې د دې ژبې څومره چې دلرغونتوب، علمیت، رسمیت په برخه کې اړتیا ورته لري، په نشه حسابېږي.هیله ده چې د اړوندو ارګانونو مسوولین او متخصص غړي ورته پاملرنه وکړي.

۲. دژبې دادبپوهنې اوژبپوهنې برخو ته کارکول په خپل ځای دارزښت وړاو اړین دي.خود علوموا وفنونو په نورو برخو کې پرې څېړنې، لیکنې او په ځانګړې توګه ژباړې کول، دسیمې دځینې هېوادونو د ژبو د پرمختګونو ته په کتو او په تجربوا خستلو سره، څوځواره اړین او مناسب دي، چې د علوموا وفنونو داړوندو څانګو مسوولین او مسلکي غړي په دې هکله چې ملي او دیني وجیبه یې هم ده ستراو عملي ګامونه پورته کړي.

۳. د ماسترۍ تحصلي دورې زده کړې او پرګرام د کابل پوهنتون په ځینېمحدودو پوهنځیو او څانګو کې له څولسیزوراپه دې خوا روان دی، اودفارغو محصلینو تېزسونه کوم چې دمنځپانګې او بڼې له مخې دښو او نویو معلوماتو درلودونکي دي دامکان په صورت کې چاپ او یاد کتابتونو له لارې دیادو تیزسونو ته دمحصلینو د لاس رسرې او لوستنې، مناسبې لارې چارې برابرې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴. د زد کړیزو دوروپه پای او په ځانګړي توګه د تېزس د موضوعاتو د څېړنو په اړه دو کېجو ته شوه چې لرغونی افغانستان د اند وآریاني(آریک ) ډلې او اوسنی افغانستان په تاریخي توګه د آریاني څانګې د ژبو پخوانی تاټوبی دی، یعنې د یادو ژبو ستې او نمونې دلته شتون لري. خو پورتهیا دې ژبې ځنې مړې او کومې ،چې ژوندۍ دي، هیله ده ،چې اړوند(په لومړي سرکي د افغانستان او په دویم قدم کې د اړوندې سیمې )مسوول مرکزونه او چارواکي ورته هراړخیزه پاملرنه وکړي

۵. وروستی وړاندیز د پښتو ژبې هغو ژبپوهانو او استادانو ته دی، چې په دې برخې کې په کاربوختدي. څرنګه چې د اموضوع تاسوته په بشپړه توګه څرګنده ده، په او سنیو شرایطو کې د نړۍ په ژبو کې هغه ژبې خپل ژوند ته دوام ورکوي، چې د پرمختګ له کاروان سره یوځای ځان عیارکړي ، دا د پښتوژبې د ژبپوهانو او استادانو مسولیت دی، خپله ژبه چې هم یې، مسلک او هم یې ژبه ده په خپلو څېړنیزو او علمي هڅوسره له دې کاروان سره برابره او عیاره کړي. که موږ اوس د ژبې طبیعي پرمختګ ته لاس تر زنې کېنو دا به مو یوه ستره تېروتنه وي .اوسنیو شرایطو کې د ژبې څېړنو ،د تولیداتو ،سوداګرۍ او اقتصادي ...چاروسره سمدنویو ،ویوکو اولغتونو په برخه کې ،رامنځته کولو او دودولو ته اړتیا لري. که چېرته موږ په دې تمه یو چې ډېرې وکړي یو یا دا چې په نړۍ کې ۷۰ ملیونه یو ، دا ژبه نه مري دا هم یوه تېروتنه ده .چې له بده مرغه ځینېخولا خپلې ژبې ته مثبت کارکول هم اغېزمن نه ګڼي .هیله مې داده، چې په دې برخه کې ټول په ګډه خپلې هڅې نورې هم غښتلې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخځليکونه


۱. آريانا دايره المعارف.( ۱۳۸۵ ل ). د افغانسنان د علومو اکادمي د دايره المعارف څانګه ، لومړی ټوک
۲. آريانا دايره المعارف.( ۱۳۸۷ ل ) ، د افغانسنان د علومو اکادمي د دايره المعارف څانګه ، دويم ټوک
۳. آريانا دايره المعارف.( ۱۳۸۹ ل )،د افغانسنان د علومو اکادمي د دايره المعارف څانګه ، دريیم ټوک
۴. آريانا دايره المعارف.( ۱۳۸۹ ل )،د افغانسنان د علومو اکادمي د دايره المعارف څانګه ،څلورم ټوک
۵. آر، اچ ، روبينز ،( ۱۳۷۰ هـ ش ).تاريخ مختصر زبانشناسي. ترجمه فارسي ، علي محمد حق شناس ، نشر مرکز ماد ، تهران ، ايران
۶. الهام ، محمد رحيم ،(۱۳۴۵ هـ ش ).بخشهای در علم زبان. کابل پوهنتون ، کابل
۷. الهام ، محمد رحيم ،(۱۳۹۱ هـ ش ).روشی جديد در تحقيق دستور زبان دری. تدوين: سيد علی محمد اشراقي ، انتشارات يوسف زاده ، کارته سخي ، کابل
۸. اورمړ ، داکتر خليل الله ، (۱۳۸۷ لمريز ).کابل مجله.۹-۸ ګڼې ، د افغانستان د علومو اکادمي ، کابل
۹. اورمړ ، داکتر خليل الله ،(۱۳۸۲ لمريز ).کابل مجله.۵-۶ ګڼه ، د افغانستان دعلوم داکادمي
۱۰. اورمړ ، داکتر خليل الله(۱۳۸۹ لمريز ).کابل مجله.۱۲-۱۱ ګڼه ، د افغانستان د علومو اکادمي
۱۱. اورمړ ، داکتر خليل الله ،(۱۳۸۵هـ ش).کابل مجله.۳-۴ ګڼه ، د افغانستان د علومو اکاډمي ، کابل
۱۲. اورمړ ، داکتر خليل الله ،(۱۳۸۸هـ ش).مجله خراسان.دوره سوم ، سال ۱۳۸۸ هـ ش ، رياست نشرات اکادمي علوم افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۳. اورمړ ، داکتر خلیل الله ، (۱۳۹۲ هـ ش ).مقدمه بر زبان اوستایي. د افغانستان د علومو اکادمي ، کابل

۱۴. ای، ام ، اُرانسکي ،-Oranskilosif -Mikhailvich، (۱۳۷۹هـ ش).مقدمه فقه اللغه ایراني. ترجمه فارسي: کریم کشاورز ، کتابخانه ملی ایران ، تهران ، ایران

۱۵. ارشاد ،اورنګزیب(۱۳۸۴ل.ل).افغانستان پېژندنه.دانش خپرندویه ټولنه، پېښور

۱۶. ابوالقاسم،داکترمحسن،(۱۳۸۲هـ ش).تاریخ زبانفارسی.سمت،تهران

۱۷. باقري ، داکتر مهري ،(۱۳۷۸ هـ ش ).مقدمات زبانشناسي. نشر قطره ، ایران ، تهران

۱۸. پیتر ، آ، ام ، سورن ،(۱۳۸۸ هـ ش ).تاریخ زبان شناسي.بخشي از کتاب زبان شناسي در غرب )، سمت ، تهران ، ایران

۱۹. ترېی،پوهاندډاکټرحبیب الله،( ۱۳۷۷ل.ل).پښتانه.دانش خپرندویه ټولنه، پېښور

۲۰. تفضلی،داکتراحمد ،(۱۳۸۲ هـ ش).تاریخ ادبیاب ایران پیش ازاسلام.انتشارات سخن،تهران

۲۱. ت، ن ، پاخالینه ،(۱۳۶۲ هـ ش ).زبانهاب پامیري. ترجمه دري : ماګل سلیمان دوست ، اکادمي علوم. ج. ا. کابل

۲۲. تنیوال ، مولاجان (۱۳۸۷ لمریز ). کابل مجله.۹-۸ ګڼې ، د افغانستان د علومو اکادمي ، کابل

۲۳. تنیوال،مولاجان ،(۱۳۷۰ل.ل).ژبه او ټولنه.د افغانستان د علومو اکادمۍ ، کابل

۲۴. جاوید ، عبدالاحمد ،(۱۹۹۹ م ).اوستا. شورای فرهنګي افغانستان ، کابل

۲۵. حبیبي ، عبدالحی ،(۱۳۸۳ل.ل).پښتو او پخوانۍ آریایي ژبې.شل مقالې شپږمه برخه ، نارنج خپرندویه ټولنه ، کندهار

۲۶. حبیبي ، پوهاند عبدالحی(۱۳۸۴ل.ل ) .د پښتو ادبیاتو تاریخ. لومړی ټوک ، دانش خپرندویه ټولنه. پېښور

۲۷. حبیبي ، عبدالحی ،(۱۳۹۱ل.ل).د دري ژبې مور (مادر زبان دري ). پښتوژباړه: ځیړنیاره جمیله سروري ، همدرد کتاب پلورنځی ، ننګرهار

۲۸. چامسکي ، نوام (۱۳۸۰ هـ ش ) .دانش زبان - ماهیت ، منشاء و کاربرد آن. ترجمه فارسي ، علي درزي ،نی

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲۹. دوست ، دوست محمد شینواری ،(۱۳۹۳ل.ل).د افغانستان ژبې او توکمونه.بیا کتنه: سر څیړونکی سید محی الدین هاشمي او پوهنمل ولي الله فاضل ، ګودر خپرندویه ټولنه ، جلال آباد
۳۰. زاهد ، احمدزی ،(۱۳۸۵ل.ل).د اسلامي اندود له نظره د ژبې پیدا ایښت. سیرت خپرندویه ټولنه ، کابل
۳۱. ژړک،صادق،(۲۰۰۷ ز).په یویشتمه پېړۍ کې د پښتوژبې برخلیک.پښتوادبي غورځنګ،کوټه
۳۲. رشاد ، علامه عبدالشکور ،(۱۳۹۰ل.ل).لغوي څېړنه. رشاد اکادمي ، کابل
۳۳. زیار .داکتر مجاور احمد ، پښتو د یوې باختري ژبې په توګه. ۲۰۰۴/۱۲/۱ ، www.zyar.net
۳۴. ریښتین زیور، داکتر زرغونه ،(۱۳۹۰ل.ل).پښتو نحوه. د ساپي د پښتو خپرونو او پراختیا مرکز، کابل
۳۵. شپون ، وجیه الله ،(۱۳۸۹ل.ل) .د لرغونو ژبو سره د پښتو اړیکې. د افغانستان د علومو اکادمي ، کابل
۳۶. کهزاد ،احمدعلی،(۱۳۸۷ه- ش) .تاریخ افغانستان جلد اول،انتشارات میوند ، کابل
۳۷.کهزاد ،احمدعلی، (۱۳۵۳هـ ش) .افغانستان درشاهنامه اطلاعات اوکلتور
۳۸. کهزاد ، علي احمد ،(۱۳۸۲هـ ش ).آریانا. انتشارات امیري ، کابل
۳۹. ناتل خانلري ، پرویز ، ( ۱۳۴۷ هـ ش ) .زبان شناسي و زبان فارسي. انتشارات بنیاد فرهنګ ایران ، چاپخانه محمد علي علمي
۴۰. واجد ، عبدالواجد ،(۱۳۹۱ل).د ژبپوهنې بنسټونه. د ښوونکو د روزنې لوی ریاست ، د پښتو څانګې درسي کتاب ، کابل
۴۱. ورور ، درک ، داکتر ګلجان،(۱۳۸۱هـ ش) .د آریانا موقعیت او د آریایانو ځینو جغرافیوي سیمې.ختیځ بیارغونې اداره ، کور
۴۲. ویلیام اُګریدی او مایلک دابروولسکي او مارک آرُنُف ،(۱۳۹۰هـ ش ).درآمدې بر زبان شناسي معاصر. ترجمه فارسي: داکتر علي درزي ، تهران ، ایران
۴۳. هېوادمل ، زلمی ، (۱۳۸۹هـ ش) .د متن څېړنې مېتودولوژي. انتشارات امیري ، کابل
۴۴. هاشمي ، سید جعفر ،(۱۳۸۳لمریز ).د پښتنو توکم او ژبه.د الفجر د اسلامي ثقافت مرکز، پاوکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴۵. یول، جورج، (۱۳۷۹هـ ش). نگاهی به زبان(یک برسی زبان شناسی. مترجم: نسرین حیدر، سمت، تهران
۴۶. یمین ، پوهاند داکتر محمد حسین ، (۱۳۸۵ هـ ش). سرگذشت زبان فارسي دري. کابل
۴۷. https://commons.wikimedia.org/wiki/File..
Human_Language_Families.(wikicolors).png?uselang=fa
۴۸. خوښکی ، پوهاند محمد صابر ،(۱۳۹۲ل.ل) . پښتو غږ پوهنه او ویپپوهنه. ختیځ خپرندویه ټولنه، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لړلیک

سرلیکونه مخګڼه

تقریز........................................ا
د پیل خبرې........................................ب
لنډیز........................................د
سریزه ........................................ ۱
د خیړنې موخه او ارزښت : ........................................ ۲
د خیړنې مېتود او کړنلاره : ........................................ ۷
د سکالو(موضوع )شالید : ........................................ ۹
لومړی څپرکی........................................ ۱۳
۱-داړوندو مفاهیموتوضیح........................................ ۱۳
۱-۱اریا –آریا(Arya): ........................................ ۱۳
۱-۲آریانا ـ اریانا Āryānā(اوسنی افغانستان): ........................................ ۱۹
۱-۳آریایي(Aryaei): ........................................ ۲۸
۱-۴آریاني( Ariani ): ........................................ ۳۰
۱-۵ژبه: ........................................ ۳۳
۱-۶فلالوژي(Philology): ........................................ ۳۸
۱-۷ د فلالوژي څېړنو موخې او دندې: ........................................ ۴۰
دویم څپرکی........................................ ۴۴
۲-آریاني فلالوژۍ ارزښت او آریانا پوهنه ........................................ ۴۴
۲-۱د ختیځ پوهنې په څانګو کې دآرياني فلالوژۍ ارزښت او مقام: ........................................ ۴۸
۳-ژبپوهنه د تاریخ په بهیر کې ........................................ ۵۲
۳-۱ژبپوهنه په آریانا ،یونان...کې: ........................................ ۵۲
۴-دنړۍ دژبو کورنۍ........................................ ۷۵

(c) ketabton.com: The Digital Library


۴-۱ اندو اروپایي کورنۍ ........................................................ ۷۸
۴-۲د اندو اروپایي ژبو د کشف تقویم : .............................................۸۲
۴-۳د اندو اروپایي پیلنې ژبې لنډ فونتیک سیستم : ...............................۸۲
۴-۴چیني او تبتي کورنۍ ........................................................۸۲
۴-۵ دراویدي ژبو کورنۍ........................................................ ۸۷
۴-۶حامي او سامي ژبو کورنۍ.................................................... ۸۸
۴-۷الف -التای، اورال، یغوري او دفین ژبو کورنۍ : ............................. ۸۹
۴-۸» فنلنډي او کریایي ژبې........................................................ ۸۹
۴-۹ب -د ترک او تاتارژبو کورنۍ..............................................۹۰
۴-۱۰د اندونیزیایي ژبو کورنۍ او دمالیزیایي- پولینزیایي ډلې ژبې...........۹۱
۴-۱۱د تورې افریقا دژبو کورنۍ ................................................. ۹۳
۵-آریک ژبه **Proto-Ārsan** او څانګې یې ........................................۹۲
۵-۱دآریک ژبې څانګو په اړه نظریات.............................................۱۰۳
۵-۲اندوآریایي **IndoAryanGroup** : ..............................................۱۰۵
۵-۳داردیک ژبو ډله په درې څانګو وېشل شوې دي .................................. ۱۰۶
۵-۴ آریاني ډلې ژبې.............................................................. ۱۰۶
۵-۵دآریک ژبې د څانګو لنډه وېشنه..............................................۱۰۸
۵-۵-۱اندو آریایي څانګه ...........................................................۱۰۸
۵-۵-۲داردیک څانګه: ...............................................................۱۰۸
۵-۵-۳نورستاني ژبو څانګه **Nuristani Languages**......................۱۰۹
۵-۵-۴آریاني ژبو څانګه **Aryanigroup**: ........................................۱۰۹
۶-په اندو آریاني ډله کې دژبو موقیعت: ........................................۱۱۰
۷-آریاني ژبې او څانګې ........................................................۱۱۱
۷-۱الرغونې ژبې: ...............................................................۱۱۵
۷-۲منځنۍ ژبې ..................................................................۱۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷-۳د معاصرې ژبې........................................................................ ۱۱۵
۸-دآرياني ژبو دورې ................................................................ ۱۱۲
۸-۱لرغونې دوره: ......................................................................... ۱۱۲
۸-۲دآرياني ژبو منځنۍ دوره:............................................................ ۱۱۷
۸-۲-۱پارتي Partianژبه: ........................................................................ ۱۱۸
۸-۲-۲سغدي ژبه:............................................................................. ۱۱۹
۸-۲-۳خوارزمي : ............................................................................. ۱۲۰
۸-۲-۴باختري ژبه : Bactria ................................................................ ۱۲۱
۸-۲-۵Sarmatian سرماتی Alani او آلاني:........................................... ۱۲۳
۸-۳آرياني ژبو معاصره دوره:(............................................................. ۱۲۴
۸-۳-۱د معاصرې دورې د ژبو ځانګړتياوې: .............................................. ۱۲۴
۸-۳-۲ پښتو ژبه:(Pashto) paşto ............................................................ ۱۲۸
۸-۳-۳پاميري ژبې:Pamirian Languages ............................................. ۱۲۹
۸-۳-۴ اورمړي ژبه:Ormari ................................................................. ۱۳۵
۸-۳-۵بلوخي ژبه : Baluchi ................................................................ ۱۳۷
۹-دتاريخ په اوږدو کې دآرياني ژبو ځانګړتياوې:.................................... ۱۳۹
دريیم څپرکی............................................................................... ۱۴۲
۱۰- لرغونې دوره .......................................................................... ۱۴۲
۱۰-اوستاژبه(Awesta ) ...................................................................... ۱۴۲
۱۰-۲داوستاکشف، څېړنې او پېژندنې لنډه تاريخچه: ................................. ۱۴۵
۱۰-۳داوستا ابېځي يا الفبا: ................................................................. ۱۵۳
۱۰-۴داوستايي ليک تاريخچه: .............................................................. ۱۵۵
۱۰-۵داوستا تدوين .......................................................................... ۱۵۲
۱۰-۲داوستا منځپانګه........................................................................ ۱۵۹
۱۰-۷اوستاګاټونه ............................................................................. ۱۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰-۸معاصره اوستا ........................................................... ۱۲۱
۱۰-۸-۱یسنو نه: ............................................................... ۱۲۱
۱۰-۸-۲یشتو نه: ............................................................... ۱۲۱
۱۰-۸-۳ویسپرد: ............................................................... ۱۲۲
۱۰-۸-۴وندیداد: ............................................................... ۱۲۲
۱۰-۹کوچنۍ اوستا ........................................................... ۱۲۲
۱۱-زاړه فرس قبایل ........................................................... ۱۲۴
۱۲-زړه فرس ژبهOld Persian ........................................... ۱۲۶
۱۲-۱دزړې فرس ژبې ابېڅي(الفبا ): .......................................... ۱۷۰
۱۳-ساکانو قبایل ........................................................... ۱۷۳
۱۴-ساکي ژبه ........................................................... ۱۷۷
۱۵-میدي قبایل ........................................................... ۱۷۹
۱۲-میدي ژبه ........................................................... ۱۸۰
پایله: ........................................................... ۱۸۲
پاییزه :(نتیجه گیري ) ........................................................... ۱۸۸
وړاندیزونه: ........................................................... ۱۹۰
اخځلیکونه: ........................................................... ۱۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک له هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (حاجي خان محمد باز ) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دليکوال لنډه پېژندنه:**

ښوويالی (دينارګل امين سهاند) د (محمد ګل) زوی په (۱۳۶۳) لمريزکـال د ميـدان وردګـو ولايت (جلريز) ولسوالۍ د (کوزو خروټو) سيمې د (خانخېلو) کلي کې زېږېدلی دی.

**زده کړې:** لومړنۍ،منځنۍ اوثانوي:دخواجه محمد ولي ښوونځي او د غـلام حضـرت شـهيد عالي لېسه کې ترسره کړي او په (۱۳۸۳) لمريزکال کې فارغ شوی دی.

لسانس: د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون،ژبو او ادبيـاتو پوهنځی،پښـتو څـانګې څخـه پـه (۱۳۸۶) لمريز کال فارغ شوی دی.

ماسټري: د کابل پوهنتون،ژبو اوادبياتو پوهنځی،پښتو څانګې څخـه پـه (۱۳۹۰) لمريزکـال فارغ شوی دی.

ښـوونکو د روزنــې ماسـټر ترېنـري (Master Teacher Trainer): د ماليزيـا هېـواد پلازمېنـه کوالالمپورڅخه تر لاسه کړې ده.

**دندې :** دسيد جمالدين افغان عالي دارالمعلمين،پښـتوڅانګې اسـتاد، د يـاد دارالمعلمـين دڅلورمې داخل خدمت څانګې(الحاقيې) تدريسي او اداري مرستيال او د دعـوت خصوصـي پوهنتون،ژورناليزم پوهنځي استاد.

**اثار:** ناچاپ : د پښتني جرګو پيداېښت اوپاېښت،ادب او ادبيـاتو پېژندنـه رسـاله. لـومړنی چاپي اثر همدا کتاب چې ستاسو دسترګو په وړاندې دی ؛ همدا راز د پـوهنې وزارت د چټکـو زده کړو د پروګرام په چوکاټ کې د ځينې پښتو کتابونو يو لړ مقالې هم ليکلي دي.

د افغانستان ملي تحريک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۷۱

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**